بُتشګن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

ثور، 1405 هـ.ش - ذوالقعده، 1447 هـ.ق

د غزنوي بچو تیار شئ!



بیا پسرلی شو

او بیا مینه مینه

بیا پسرلی شو او بیا مینه مینه
بیا په لمبو وهي له میني پروانه لمنه

له ځانه مخکې د دعا لاسونه تاته نیسم
خدای د په امن کړه وطنه زرغونه لمنه

مونږ له هغوی سره چلند د بېګانه وو کړی
چا چې نیولې وي هر وخت د بېګانه لمنه

بسم الله الرحمن الرحيم

مهم موضوعات

زمونږ سره رابطه

ایمیل آدرس:

editor@butshikan.com

ټلګرام رابطه:

tamas_butshikan

ویب سایټ:

butshikan.com

مونږ په ټولنیزو رسنیو وڅارئ:

ButShikan1404

لړلیک

يا صباحاه

(د بت شکن په څپو؛ د صفاء غونډۍ له سره د پورته کېدونکې نعرې انګازه)

هلته چې نړی د ګمراهی او جهالت په فتنو کې غرقه وه، د صفا د غره له سره د «يا صباحاه[1]» نعره وشوه، هر قوم ته جلا جلا غږ وشو او بيا هغوی ټول د عدل دين ته دعوت او د يوه دردناک عذاب څخه ووېرول شول، د عقل خاوندانو له فرصت څخه استفاده وکړه او د اسلام مبارک دين يې قبول کړ، نېک عملونه يې کول، صبر يې وکړ او په حق سره يې يو بل ته توصيې کولې، په بدل کې الله له هغوی څخه د دنيا غمونه لرې کړل، دوی له الله تعالی څخه او الله تعالی له دوی څخه راضي شو، د وياړونو تاريخونه شول، او د اسلامي امت په تاريخ کې کله هم چې د دوی نوم يادېږي نو دعا ورته کېږي، خلک يې د احسان پوروړي دي او ټول له الله تعالی څخه غواړي چې د قيامت په ورځ يې هم له همدغه خلکو سره حشر وکړي (رضي الله عنهم).

خو هغوی چې بدبخت وو او ظاهراً يې ځانونه د قوم پوهان او عقلمند خلک معرفي کول د خپلې کينې او جهالت اور وخوړل، تر دې چې د ځينو جسدونه د بدر کرغېړنې څاه ته واچول شول او د ځينو نوم او نښان داسې ورک شو چې بيا به هېڅکله پيدا نشي، په دوی کې د ځينو چې نوم پاتې نو د عبرت داستانونه پرې جوړ دي، خلک به د قيامت تر ورځې لعنت پرې وايي او د آخرت په ورځ هم ورته دردناک عذاب په تمه دی.

د صحابه کرامو او له هغوی وروسته د نېکو خلکو په مبارکو لاسونو د عربو جزيره فتحه شوه، د فارس او روم انسان خوړونکې او مفسدې امپراطورۍ نسکورې شوې، خلک د بنده ګانو له بنده ګۍ خلاص شول او د دنيا له تنګيو د دنيا او آخرت پراخيو ته وه ايستل شول، جهان د صلحې، سوکالۍ او آبادۍ ننداره کوله. يو رب، يو قانون، يو امير، يو هېواد او يو امت و، نور هېڅ نه وو. هغوی چې لا هم مسلمان شوي نه وو، نو يا خو يې په ټيټ سر جزيه ورکوله او د اسلامي شريعت قوانينو ته يې غاړه ايښې وه او يا خو دومره بې وسه و، چې د فتنو او ويجاړيو فکر يې هم نه کولو.

له هغه کسانو څخه چې مسلمان امت ته يې زيات افتخارونه راوړي او نړی يې د عدل او ثبات شاهده وه يو هم بت شکن سلطان محمود غزنوي رحمه الله دی.

د مشهورو تاريخ ليکونکو لکه تاج الدين سبکي، ابن خلکان، ابن کثير، ابن خلدون، ابن الاثير، عبدالحی الحنبلي ... کتابونه د دې ګواهي ورکوي چې بت شکن سلطان رحمه الله د عدل او تقوا نمونه وه، د امت په وحدت او سرلوړی کې يې ډېرې هلې ځلې کړې دي او د جهاد په مټ يې د اسلام بيرغ تر لرې لرې ځايونو رسولی دی. د هغه د عدل په اړه تاج الدين سبکي ليکي چې له عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وروسته په نړۍ کې څلور کسان داسې دي چې په عدالت کې ينځم نلري، له هغو څلورو کسانو څخه يو بت شکن محمود غزنوي رحمه الله دی[2].

سلطان محمود غزنوي رحمه الله له عباسي خليفه سره وعده کړې وه چې هر کال به د هند په طرف غزا کوي او همداسې يې کول، ابو الحسن عبد الغافر الفارسي ليکي چې هغه ډېر جدي، نېک بخت، با برکته، د خپلو خلکو لپاره صادق او د الله تعالی د کلمې د لوړولو لپاره هڅاند شخص وو، هر کال به په سفر او جهاد بوخت و او هېڅ کال يې له جهاد او فتوحاتو څخه خالي نه وو.[3]

د سلطان محمود غزنوي رحمه الله په څېر شخصيتونه وو چې د هند په طرف د عدل دين خپور شو او له هماغه وخت څخه وروسته دهند نيمه وچه يا برصغير د علم او اسلامي دعوت يو له مهمو مرکزونو څخه بلل کيږي.

---

[1] «يا صباحاه» يا «ای سهاره» دا هغه نعره ده چې حضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپل ښکاره دعوت په لومړی ورځ د صفا د غونډۍ په سر پورته کړه، دا نعره لکه د اوس وخت د خطر زنګ ته ورته وه، او خلک به يې له يوې لويې واقعې څخه خبرول، نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم په همدې نعره خلک راټول کړل او هغوی ته دعوت ورکړ او د الله تعالی له عذاب څخه يې ووېرول. د نورو معلوماتو لپاره د سيرت النبي کتابونو ته مراجعه وکړی!

[2] الطبقات الشافعية الکبری

[3] السياق لتاريخ نيسابور، د امام ذهبي په حواله

دا ټول د اسلام، اتحاد، تدبر، تفکر، علم او جهاد له برکته وو او تر هغه وخته یې دوام پیدا کړ تر کومه چې مسلمانانو د الله په کتاب، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتونو، د خلفاء الراشیدینو او نورو نېکو رهبرانو په رسۍ خپلې منګولې لګولې وې.

خو بیا وروسته چې مسلمان امت د دنیا په ټولولو لګیا شو، له مرګ یې کرکه پیدا شوه، قومونو چې اصلاً یې باید یو بل سره پیژندلي وای، خو دوی له یو بل څخه د زیاتو امکاناتو د ټولولو لپاره حسدونه شروع او د اصولو پر ځای یې په فرعي موضوعاتو پسې دانګل پیل کړل نو دا هر څه سرچپه شول، یا خو به هلاکو راغی او له خراسانه شروع د مصر تر کوڅو به یې نسل وژنه، لوټ، تالان او تیري وکړل؛ یا خو به مسیحي درنده ګانو د اقصی په ښار برید وکړ او په څو ساعتونو کې به یې اویا زره عام مسلمانان له تېغه تېر کړل او یا خو به همدا بې ایمانه وحشیان له یو بل سره په جنګ شول او په لسګونه میلیونه خلک به یې ووژل.

تیارې ورځ په ورځ زیاتېدې تر دې چې نړۍ یې تېوله لاندې کړه، زور واکي، لوټ، تالان، فحاشي، ظلمونه، وحشتونه او ډول ډول نخرې دي چې هره ورځ یې شاهدان یو، اسلامي ځمکې غصب، مسلمانې خویندې بندیانې، اسلامي مقدسات توهین شوي او اسلامي هېوادونه یرغمل شوي دي.

نو ځکه خو یو ځل بیا د «یا صباحاه» نعره پورته کوو، مسلمانانو ته دعوت ورکوو، د کفارو پر وړاندې د اعداد او تیارۍ طرف ته یې بولو، د یوې سپینې او مبینې فتحې زیرې ورکوو او له وهن، نفاق، په کور کېناستلو او له قربانۍ څخه د بې فکره کېدو له امله ورته په دنیا او آخرت کې د تاوان خبرداری ورکوو. بت شکن د همدې لپاره دی چې ویده ضمیرونه ویښ کړي، په نسلونو کې د بیدارۍ حس را ژوندی کړي او امت ته وفهموي چې د ګړنګ په غاړه دی.

د دې امت ژغورل د یوې ډلې او یوه ملت کار ندی بلکې هر څوک او له هر ملیت څخه باید چې لاس را بډ وهي او د دې امت د سوکالۍ لپاره کار وکړي، د دښمنانو پر وړاندې یې غبرګون وښایي، د له لاسه وتلو ځمکو د راګرځولو لپاره خلک تیار کړي، د امت د مقدساتو د توهین مخنیوی وکړي او له هغوی سره چې تر اوسه یې د دې مقدساتو توهین کړی دی باید چې ورسره حساب وکړي او په آخر کې باید چې ټول او په ټول توان د هغه واجب د قائمولو لپاره را ووځي کوم چې له سلو کلونو څخه زیات وخت کیږي امت یې له خیر څخه محروم دی یعني خلافت علی منهاج النبوة څنګه چې زمونږ ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم مونږ ته په «ثم تکون خلافة علی منهاج النبوة» سره زیری راکړی دی، هغه خلافت چې پیلامه به یې د قدرمن امیر المؤمنین شیخ القرآن و الحدیث حضرت مولوي هبة الله آخندزاده دامت برکاتهم العالیه سپېڅلې امارت وي ان شاء الله، نه د کومې ګمراه یا افراطي ډلې تش په نوم ناجائزه، خوني او ظالمانه نظام چې دوی ورته د خلافت نوم ورکوي.

بت شکن د همدې لپاره دی چې د الله تعالی پاکه ځمکه د سومنات په څېر له ناپاکه مجسمو څخه پاکه کړي، هغه سومناتونه چې ظاهراً د سیکولاریزم، سرمایه داري یا کپیټالیزم، دیموکراسی او ملي او قومي واکمنیو په شکل کې جوړ شوي دي، هغوی چې د دې مجسمو عبادت کوي سمې لارې ته را کاږي او هغه مالونه چې د دغه بې ګټې او بې مقصده مجسمې په پښو کې خښ دي را وباسي او د علم ښارونه پرې ودان کړي.

په آخر کې له الله تعالی څخه خیر او برکت غواړو، خپلو هغه مخلصو ورونو ته چې زمونږ سره یې په دې لوی خیر کې شرکت او مرسته کړې ده د اجر، صبر او ثبات غوښتونکي یو...!

الله تعالی د مونږ له هغه کسانو څخه نه شمېر کوي، چې ټولې هڅې یې ضایع شوې وي او خپله ګمان کوي چې ګواکې زه ډېر ښه روان یم. آمین

****

د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ مینه په ټولو محبتونو غالبه کړئ

حضرت مولانا سید مفتي مختار الدین شاه صاحب رحمه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم، أما بعد:

الله رب العالمین جل جلاله د قرآن کریم د سورت توبه کې فرمایي:

قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (التوبة:۲۴)

د پورته آیت مفهوم دا دی چې: الله تعالی حضور ﷺ ته په خطاب کې فرمایي چې دغو مسلمانانو ته ووایه: [اې پېغمبره (ص)!] ووایه: «که ستاسې پلرونه، ستاسې زامن، ستاسې ورونه، ستاسې مېرمنې، ستاسې خپل خپلوان، ستاسې هغه مالونه چې ګټلي مو دي، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو اندېښمن کېږئ او ستاسې د خوښې کورونه؛ تاسې ته له الله او د هغه له پېغمبر او د هغه په لار کې له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پورې چې الله خپله فېصله ستاسې مخې ته راولي. او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.»

له الله سره د محبت مفهوم

د الله تعالی جل جلاله محبت دا دی چې د الله له احکامو، د هغه له لارښوونو او د هغه له شعائرو، یعني د هغه له نوم سره له ټرلو شیانو سره محبت وشي. الله تعالی په دې دنیا کې داسې نه ښکاري چې انسان ورشي او په غېږه سترې مشي ورسره وکړي، چې واه! واه! ماشاءلله! زه له تا سره ډېره مینه لرم؛ (الله تعالی له دې خبرې څخه پاک دی.) بلکې له الله تعالی سره محبت دا دی چې هغه شیان خوښ کړل شي چې الله ته خوښ وي. دا خبره په یاد وساتئ! ځکه په دې موضوع کې خلک لویې مغالطې درکوي، دوی وایي چې اصلي شی د الله محبت دی، په نورو شیانو کې څه دي؟ خو پوښتنه دا ده چې مونږ د الله محبت څنګه وپېژنو؟ له مونږ سره کوم معیار شته؟ معیار دا دی چې د الله له احکامو سره محبت وي، په هغو عمل کول وي او کوم شی چې الله ته محبوب وي هغه مونږ ته هم محبوب وي او کوم شی چې الله ته ناخوښه وي هغه مونږ ته هم ناپسند وي. همدا له الله تعالی سره محبت دی. په آیت کې "وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ" هم راغلي دي (ددې آیت مفهوم دادی چې که دا مال، اولاد، کور او خپلوان تاسې ته د الله په لار کې له جهاد څخه زیات محبوب وي، نو د الله د عذاب انتظار وکړئ.) جهاد کول د الله او د هغه د رسول ﷺ د محبت غوښتنه ده. هغه څوک چې له خپل رب سره مینه لري او د هغه له رسول ﷺ سره مینه لري، همدا کس کولی شي د الله او د هغه د رسول ﷺ په لار کې له خپل نفس سره جهاد وکړي، او که له دې وروسته کوم ظاهري دښمن خنډ شي، نو له هغه سره به هم جګړه وکړي. که څوک داسې وکړي، نو معلومه شوه چې هغه ته له الله تعالی جل جلاله سره په رښتیني معنی محبت شته او که د وخت په راتلو سره د الله په لار کې جهاد نه کوي، نو معلومه شوه چې له الله تعالی سره د هغه په اړیکه کې کمزوري شته. په هر حال، نن زه یوازې د نبي کریم ﷺ د محبت په اړه خبرې کوم.

د رسول الله ﷺ محبت د ایمان برخه ده

د رسول الله ﷺ محبت د ایمان برخه ده، بلکې دا د ایمان شرط دی. په پورته آیت کې وګورئ چې د الله تعالی جل جلاله له نوم وروسته د چا نوم راغلی؟ د رسول الله ﷺ نوم راغلی دی:

أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ[1]

«له تاسي څخه هېڅوک تر هغه وخته پوري مؤمن کېدای نه شي، تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، اولاد او ټولو خلکو څخه زيات محبوب نه شم.»

مطلب دا دی چې که دا پلرونه او خپلوان دومره محبوب شي چې د هغوی له امله څوک رسول الله ﷺ ناراضه کړي، يعني د هغه ﷺ پيروي پرېږدي او د هغه طريقه پرېږدي، نو دا معنی لري چې هغه ته تر رسول الله ﷺ زيات دغه شيان محبوب دي (او همدا د تاوان خبره ده.)

د عارضي او حقيقي محبت ترمنځ فرق

يو محبت عارضي وي، چې انسان ته کله ناکله (له الله او د هغه له رسول ﷺ پرته له نورو شيانو لکه مال او اولاد سره) هم پيدا کېږي او يو محبت حقيقي وي چې ورته عقلي محبت هم وايي. د حقيقي او عارضي محبت توپير د مقابلې په وخت کې څرګندېږي، مثلا که د نبي کريم ﷺ له سنت سره د پلار يا زوی مقابله شي، نو اوس ته کوم ته ترجيح ورکوې؟ همدارنګه که د سنت په مقابل کې کښت راشي، يا د الله د حکم په مقابله کې ځمکه يا دولت راشي. (نو که ته دا شيان په هغه وخت کې قربان نه کړې، نو معلومه شوه چې دا شيان درته زيات محبوب دي او دا د سخت تاوان خبره ده) او که د مقابلې په وخت کې د الله او د هغه د رسول ﷺ د حکم لپاره دا شيان قربان کړې، نو بيا دا شيان زيانمن نه دي.

له رسول الله ﷺ سره د يوه صحابي عشق

يو صحابي و، هغه ته يو وخت لوی فکر پيدا شو چې نبي کريم ﷺ خو به په جنت کې په لوړو درجو کې وي او که مونږ ته هم الله جل جلاله جنت راکړي، بيا به هم نبي کريم ﷺ (په لوړو درجو کې) بل چېرې وي او مونږ به (په ټيټو درجو کې) بل ځای يو، نو بيا به مونږ هغه ﷺ نه شو ليدلی. (دا فکر ورته پيدا شو) په ژړا يې پيل وکړ (هغه فکر کاوه، چې) مونږ خو محروم شوو. بس هغه په ژړا ژړا د رسول الله ﷺ د دروازې مخې ته کېناست. کله چې رسول الله ﷺ بهر تشريف راوړ، نو (هغه يې په ژړا وليدی) نو پوښتنه يې ورڅخه وکړه: څه خبره ده؟ ولې ژاړې؟ هغه عرض وکړ: يا رسول الله! بس دا فکر را لوېدلی دی، چې مونږ خو چې (دلته په دنيا کې) يوه ورځ تا ﷺ ونه وينو، نو پر مونږ قيامت وي، نو په جنت کې چې ته ﷺ په اعلی درجو کې يې او مونږ په ټيټو کې، نو څنګه به دې (هر وخت) وينو؟ رسول الله ﷺ (هغه ته په تسلي ورکولو سره) وفرمايل:

الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ[2]

«انسان به له هغه چا سره وي چې مينه ورسره لري.»

ورونو! تاسې وګورئ چې ستاسې محبت له چاسره زيات دی؟ لهذا تاسې له ښو خلکو سره مينه وکړئ! له مجاهدينو سره مينه وکړئ! له مبلغينو سره مينه وکړئ، له علماء کرامو سره مينه وکړئ! ان شاءالله له ټولو سره به ستاسې حشر وي.

له رسول الله ﷺ سره د محبت د پيدا کولو اسباب

له رسول الله ﷺ سره محبت د ایمان شرط دی او د دې د زياتېدو بېلابېل اسباب دي.

(۱) لومړۍ خبره داده چې د نبي کريم ﷺ پر (مبارکو) سنتو عمل وکړئ. اوس ددې له

[1] أخرجه البخاری ج ا ص كتاب الايمان باب حب الرسول من الايمان ومسلم ج اص ۴۹ كتاب الايمان : باب وجوب محبة رسول وفي رواية احب اليه من اهله وماله والناس اجمعين . رواه النسائي كتاب الايمان وشرائعه باب علامة الايمان.

[2] اخرجه البخاری ج ۲ ص ا ۹۱ كتاب الأدب : باب علامة الحب في الله. ومسلم ج ۲ ص ۳۳۲ كتاب البر والصلة. وأخرجه البخاري ومسلم من حديث انس الله ان أعرابيا قال الرسول الله متى الساعة؟ قال له رسول الله ما أعددت ؟ قال حب الله ورسوله قال انت مع من أحببت .

پاره یوه جذبه هم په کار ده، چې تاسې پر عمل را وپاروي، نو ددې جذبې لپاره باید د نبي کریم ﷺ د سیرت (طیبه) مطالعه کړئ او د هغه ﷺ اخلاق او شمائل ولولئ، په دې سره به د هغه ﷺ اخلاق (مبارک) پر تاسې (خلکو) روښانه شي، په دې سره به تاسې ته پیروي هم نصیب شي او د هغه ﷺ محبت به مو په زړونو کې ځای ونیسي.

(۲) دوهم دا چې د نبي کریم ﷺ لپاره ډېرې دعاګانې وشي، او درود شریف زیات وویل شي، ځکه درود شریف خپله دعا ده، نو باید ډېر وویل شي. د امت لپاره هم دعاوې وکړئ، درود شریف د نبي کریم ﷺ له پاره دعاء ده (نو په کثرت سره د درود شریف اهتمام وکړئ) د امت له پاره هم دعاوې وکړئ، همداراز نور هم اسباب شته، چې له هغو څخه یو دا دی چې د نبي کریم ﷺ له آثارو[3] سره محبت وکړئ، ځینې خلک د آثارو په اړه په لویه مغالطه کې مبتلا کېږي.

د حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم العالیه د عمرې سفر یوه په زړه پورې او عبرتناکه واقعه

زه تاسې ته یو واقعه بیانوم، یو ځل داسې وشول چې د الله تعالی په توفیق زه د عمرې اداء کولو لپاره ولاړم، د عمرې په وختونو کې په غار حرا کې ګڼه ګونه کمه وي، بیا د ګرمۍ په موسم کې خو هېڅ ګڼه ګونه نه وي. هغه د دوبي موسم و، د ماسپښین له لمانځه وروسته ماته دا خیال راغی چې زه غار حرا ته ولاړ شم، ځکه (ما فکر وکړ چې) دا داسې وخت دی چې هلته به هېڅوک نه وي (ځکه ګرمي ده). بله دا چې زه به ژر بېرته د مازدیګر لمانځه ته مسجد حرام ته راشم. نو زه ولاړم، په ډېر مشکل سره ورسېدم، لاره ډېره خرابه وه، خو په لاره کې ماته دا خیال راتلی چې اې الله! تا د نبي کریم ﷺ په زړه کې څومره محبت او څومره عشق ایښی و، (هغه وخت لارې د نن په نسبت ډېرې خرابې وې، بیا هم رسول الله ﷺ دې غار ته تشریف راووړ). اوس خو لارې جوړې شوې دي. او بیا (مې دا فکر وکړ) چې مونږ له حرم مکي څخه تر دې ځایه (د غره تر لمنې) پورې په موټر کې راغلي یو، (بیا هم مونږ ته دومره مشقت رسیږي)، حال دا چې نبي کریم ﷺ به له خپل (مبارک) کور څخه په پښو تشریف راووړ، په داسې حال کې چې (د هغه ﷺ له کور څخه ددې غره تر لمنې پورې خپله یو اوږد سفر دی)، بیا د غره له لمنې څخه تر غار حرا پورې یو بل سفر دی او دا مې هم سوچ وکړ چې نبي کریم ﷺ به دلته څو څو اونۍ، دیرش دیرش ورځې، شل شل ورځې تېرولې او یوازې څو خرماوې او د خوراک وچ شیان به ورسره و، دا څنګه عشق و د الله، چې هغه ﷺ د الله په محبت کې داسې ورک شوی و. څومره حیران و د الله په عشق کې، د الله په عشق کې څومره مینه ورته پیدا شوې وه. دا تصور ماته راغی، وګورئ! که زه پر غره نه وای تللی، نو دا تصور به نه وای راته پیدا شوی. نو له همدې امله باید له دې شیانو څخه شرکي اعمال ونه شي، بلکې له دې څخه باید عبرت واخیستل شي.

د رسول الله ﷺ له آثارو سره د سعودي د حکومت نا مناسبه پالیسي

کله چې زه د غره سر ته ورسېدم، په هر حال په ډېرې سختۍ سره ورسېدم، الله تعالی جل جلاله خپل فضل وکړ، چې زه یې هلته ورسولم، نو ما ولیدل چې هلته یو کیبن لګېدلی و، په دې کیبن کې حکومت ځینې کسان مقرر کړي وو تر څو هغوی (راتلونکو خلکو) ته دا وښیي چې غره ته راتلل بدعت دي، دوی د خلکو ذهنونه جوړوي، اوس ښایي لږ دا کار کوي، مخکې ډېر سخت وو اوس هغوی ته هم دا فکر پیدا شوی چې دا خبره داسې نه ده، ځکه خلکو وار په وار هغوی پوه کړي دي، دا خبره تر هغو رسېدلې ده او علماوو هغوی ته ویلي دي چې خلک ستاسې په اړه شکایت کوي. بهر حال کله چې مونږ هلته کیبن ته ورسېدو، نو هغوی د خپل معمول له مخې ماته هم وویل چې تاسې غره ته راغلی یې؟ په غرونو کې څه دي؟ او غرونو ته تلل مشروع نه دي، بلکې بدعت دی. ما له هغوی څخه وپوښتل چې دا ولې بدعت دی؟ ماته د بدعت تعریف وکړئ چې دا ولې بدعت دی؟ هغه وویل چې که څوک ووایي چې غرونو ته تلل ثواب لري، نو بیا بدعت دی. ما ورته وویل دا خبره پرېږدئ، ځکه دا د نیت موضوع ده، څوک نیت کوي او څوک

[3] د اثر لغوي معنی ده : البقیة من الشیء. او دلته له آثارو څخه مراد تبرکات او نشانات دي.

نه کوي، ایا هغه کسان چې غرونو ته ځي بدعت کوي؟ کوه طور هم یو غر دی، حضرت موسی علیه السلام هلته تلی، هغه هم غر و، خو الله تعالی هغه غره ته عزت ورکړ او په هماغه ځای کې یې حضرت موسی علیه السلام ته نبوت عطاء کړ.

او نبي کریم ﷺ خپله دلته راتلی، څو څو اونۍ به پاتې کېدی، نو ایا نبي کریم ﷺ بدعت کاوه؟ په دې خبره هغه عرب له ما سره لړ بحث وکړ او ویې ویل چې دا خو له نبوت څخه مخکې و. ما ورته وویل که تر نبوت مخکې و، نو نبوت ورته له کومه ځایه ورکړل شوه؟ هغه کوم ځای و چې نبي کریم ﷺ ته نبوت ورکړل شوه؟ همدا ځای و. ایا د بدعت په کولو سره نبوتونه ورکول کېږي؟ او دا خبره هم سمه نه ده چې له نبوت وروسته نبي کریم ﷺ بیا حرا ته نه دی راغلی، بلکې د سیرت او تاریخ په کتابونو کې دا وضاحت شته چې نبي کریم ﷺ له بعثت وروسته هم غار حرا ته راتلی. بهر حال بیا ما هغوی ته وویل چې زه له تاسې او ستاسې له حکومت څخه یو شکایت لرم، او په دې شکایت کې زه یوازې نه یم، بلکې ډېر علماء کرام هم دا شکایت لري چې ستاسې حکومت د رسول الله ﷺ آثار له منځه وړي. هغوی وویل چې په آثارو کې څه دي؟

ما وویل چې په آثارو کې الله تعالی ډېر څه ایښي دي. هغوی وویل چې د نبي کریم ﷺ کمیس د عبدالله بن أُبي منافق سره ښخ شو، خو هغه کمیس هغه ته هېڅ ګټه ونه رسوله، دا پوښتنه په حقیقت کې سمه وه، زه غواړم تاسې ته پوره خبره وړاندې کړم تر څو تاسې پوه شئ چې خلک څنګه څنګه غلط فهمۍ خپروي او مونږ څنګه له لارې څخه اړول کېږو، هغوی ته هم همدا سبق ور زده شوی و نو ځکه یې دا پوښتنه وکړه. ما هغوی ته وویل که د عبدالله بن أُبي سره د دې کمیس محبت وای، نو الله تعالی به ورته کومه لاره پیدا کړې وای، همدا محبت به یې د نجات سبب شوی وای، خو هغه ته د نبي کریم ﷺ له کمیس سره بغض و او له بغض څخه رحمتونه نه راځي، رحمتونه له محبت څخه راځي. زه دا نه وایم چې په خپله په دې شیانو کې کوم کمال شته، بلکې د دې شیانو محبت د الله رحمت راجلبوي، یعنې د نېکو خلکو محبت د رحمت سبب ګرځي.

عقیده او عقیدت دواړه سم وساتئ

له همدې امله زه تاسې ته وایم چې عقیده هم سمه وساتئ او عقیدت هم سم وساتئ. په دې دواړو کې نن سبا افراط او تفریط شته. ما په خپلو تصانیفو کې الحمد لله ددې هڅه کړې ده چې خلک له افراط او تفریط څخه وژغورل شي. هغه کتابونه دي، تاسې یې حتماً له ځان سره یوسئ. له هغو څخه یو کتاب (د الله تعالی د ذکر فضائل او مسائل»، یو کتاب عقیده او عقیدت دی، دغه راز «د ایمان هینداره» ده. په دې ټولو کتابونو کې دا مضامین موجود دي، او له دغو تصانیفو څخه به تاسې ته له افراط او تفریط څخه پاکه عقیده در په لاس درشي، چې په هغې سره به تاسې په اعتدال سره پر دین روان شئ. بهر حال! په هغه وخت کې ما نوې نوې عقیده او عقیدت لیکلې وه. کله چې انسان نوی کوم کتاب لیکي، نو هغه وخت ډېرې خبرې د هغه په ذهن کې موجودې وي، نو ځکه هغه مهال ماته ځینې خبرې یادې وې. ما هغه ته وویل: زه له تا دا پوښتنه کول غواړم چې ایا د نبي کریم ﷺ محبت مطلوب دی که نه؟ هغه وویل: مطلوب دی. ما وویل: که د نبي کریم ﷺ محبت مطلوب دی، نو زه له تا بله پوښتنه کوم: که فرضاً ستا زوی لس کاله مخکې وفات شوی وي، بیا لس کاله وروسته ته او ستا مېرمن یو صندوق خلاص کړئ، چې له هغه څخه د هغه کالي راووځي، نو کله چې کالي مخې ته راشي، تاسې دواړه (مېړه او ښځه) به وژاړئ، که داسې پېښه درسره وشي، نو ایا ژاړئ؟ هغه وویل: هو، ژاړو. ما وویل: اوس ولې ژاړئ؟ حال دا چې هغه نن نه دی مړ شوی، بلکې لس کاله مخکې مړ شوی دی، نو نن ژړا څه معنی لري؟ هغه وویل: اوس مونږ ته را یاد شو. ما وویل: د محبت لمبه بله شوه، احساسات را وپارېدل. ما وویل: همدا شی (یعنې د نبنې په لیدلو سره د صاحبِ نښې یادول) محبت راپاروي او همدارنګه ما هغوی ته وویل چې د نبي کریم ﷺ مبارک نوکان صحابه کرامو ساتلي وو او ستاسې په وړاندې یې ساتلي وو. تاسې د حدیث کتابونه مطالعه کړئ، په هغو کې دا خبره موجوده ده[4]،

[4] عَن عبد الله بن زَيْدٍ وَهُوَ صاحِبُ الاذانِ إِنَّهُ شَهدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهِ عَلَيْهِ وَسَلم عند المَنْحَرِ وَرَجُلٌ مِنْ قَرَيْشٍ وَهُو يَقْسِمُ أَضَاحِي فَلَمْ يُصِبْهُ شَيْءٌ وَلا صَاحِبَهُ، فَحَلَقَ رسول الله ﷺ رَأسَهُ فِي ثَوْبِهِ فَأَعْطَاهُ مِنْهُ وَقَسَمَ مِنْهُ عَلَى رِجَالٍ وَقَلَّمَ أَظْفَارَهُ فَأَعْطَى صَاحِبَهُ قَالَ وَإِنَّ شَعَرَهُ عِندنا لمخضوب بالحناء والكم:

همدارنګه دا خبرې هم دي چې صحابه کرامو د نبي کريم ﷺ وېښتان ساتلي وو. بلکې صحابه کرامو[5] به داسې کول چې کله به نبي کريم ﷺ اودس کاوه، نو په بخاري شريف کې روايت دی چې صحابه کرامو به د هغه ﷺ د اوداسه اوبه پر ځمکه نه پرېښودې، چې چا ته به کوم څاڅکی ورسېده، هغه به يې پر خپل بدن موښلو او که چا ته به کوم څاڅکی نه رسېده، نو هغه به د بل هغه کس له لاسه خپل ځان لمدوه چې د رسول الله ﷺ د اوبو لندوالی به وربانديې و او همدارنګه د حج په موقع[6] دا هم ثابت دي چې نبي کريم ﷺ خپل مبارک وېښتان يو صحابي ته ورکړل او ويې فرمايل چې دا په صحابه کرامو کې تقسيم کړه! نبي کريم ﷺ مال او دولت نه دی تقسيم کړی، بلکې خپل مبارک وېښتان يې تقسيم کړل. نو صحابه کرامو او تابعينو[7] رحمهم الله تعالی به ويل: که له مونږ سره د رسول الله ﷺ يو وېښته هم وي، دا مونږ ته له دنيا او له هغه څه څخه چې په دنيا کې دي ډېر غوره دی[8]. نو نبي کريم ﷺ دا وېښتان ولې تقسيم کړل؟ بالاخره د هغه (کيبن والا عرب ملګري) په زړه کې دا خبره کښېنسته چې رښتيا هم آثار ډېر مهم دي. ما ورته وويل: آثار بدعات نه دي. په قرآن کريم کې دا خبره راغلې ده چې کله الله تعالی جل جلاله د وخت د نبي په وسيله طالوت د بنی اسرائيلو لپاره پاچا، امير او قومندان وټاکه، تر شو هغوی د هغه تر مشرۍ لاندې د الله له دښمنانو سره جګړه وکړي، نو بنی اسرائيلو له خپل نبي څخه د تابوت ننبه وغوښته. نو هغه نبي هغوی ته وويل چې هغه تابوت چې له تاسې څخه بل لوري ته تللی و، فرښتې به يې بېرته درته راوړي. په هغه تابوت کې د آل موسی عليه السلام تبرکات دي (لکه عصا، پګړۍ او نور شيان)، او په هغو تبرکاتو کې ستاسې لپاره سکينه ده، د الله تعالی له لوري.

الله تعالی فرمايي:

فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ (البقرة: ٢٤٨)

«په هغه کې ستاسې د رب له لوري سکون (او برکت) دی.»

بهر حال! هغه ملګری ډېر خوشحال شو، له ما سره يې ملګرتيا وکړه او د غار حرا په لور يې راته لارښوونه وکړه. کله چې زه غار ته ورسېدم، نو ما وليدل چې يو ځای په عربي ليکل شوي دي: "لا تجوز الصلاة" (دلته لمونځ کول جايز نه دي). چا د "لا" کلمه ورڅخه پاکه کړې وه، نو ژباړه يې داسې شوې وه چې: دلته لمونځ کول جايز دي. بيا کله چې زه د غار دننه لاړم، نو ما نفل لمونځ وکړ. مخ ته حرم شريف و (اوس خو هلته ابادي شوې ده، خو هغه وخت دومره ابادي نه وه، نو د حرم شريف منارې ډېرې ښکارېدلې. د نبي کريم ﷺ په زمانه کې خو يوازې بيت الله ښکارېده). غرض دا چې ډېر سکون مې احساس کړ. کله چې زه بېرته راکښته شوم، نو ما هغه (د کيبن والا کسانو) ته وويل: تاسې دلته ليکلي دي چې دلته لمونځ کول جايز نه دي، او يوه د نر زوی د "لا" کلمه پاکه کړې ده، دا تاسې ولې

اخرجه نيل الأوطارج ا باب في ان الأدمى لا ينجس بالموت الخ.

[5] عن عثمن بن عبد الله بنِ مَوْهَبٍ قَال دَخَلْتُ على أم سلمة فاخرجت الينا شعراً مِن شعر النبي ﷺ مَخْضُوبًا وقال لنا ابو نُعَيْم حَدَثَنا نصير بن الأَشْعَتْ عَن ابن موهب أن أم سلمة ارتُه شعر النبي ﷺ أحمر . رواه البخارى ج ٢ ص ٨٧٥ كتاب اللباس باب مايذكر في الشيب.

[6] عَنْ عَوْنِ بنِ ابى جُحَيْفَه آن آبَاهُ رَأَى رَسُول الله ﷺ فِي قُبةٍ حَمْراً مِن آدَمٍ ورايتُ بِلاَلاً أَخرج وضوء فرايتُ النَّاسَ يتَدِرُون ذلك الوَضُوفَ من أصاب مِنْهُ شَيئًا تمسح به ومن لَمْ يُصِب مِنه أَخَذَ مِن بَلَلٍ يَد صاحبه ثم رايت بلالا اخرج عنزة فركزهَا فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِي حِلةٍ حَمْراء مشمراً فصلى الى العَنَزَةِ بالنَّاسِ رَكْعَتَيْنْ ورايت الناس والدواب يمرون بين يدى العنزة. رواه مسلم ج ا ص ٩٦ | كتاب الصلوة باب سترة المصلى والندب الى الصلوة الى السترة وفي روايةٍ قَالَ أَبُو مُوسى دعا النبى بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءً فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهِهِ فِيهِ وَمِجَّ فِيهِ ثُمَّ قَالَ لَهُمَا إِشْرِ بامِنه وافرغا على وُجُوهِكُما ونحور كما . رواه البخارى ج ا ص ٣٤ كتاب الوضو باب استعمال فضل وضوء الناس.

[7] عن انس الله ان رسول الله رمى جمرة العقبة يوم النحر ثم رجع الى منزله بمنى فدعا بذبح فَذَبح ثُمَّ دَعا بالخلاق اسمه معمر ابن عبد الله العدوى) فَاخَذَ بِشقَ رَاسِهِ الأَيمَنِ فَحَلقه فجعل يقسم بَيْنَ مَن يَلِيهِ الشَّعرة والشعرتين ثمَّ أَخَذ بِشَقِ رَاسِهِ الاَيَسِرِ فَخَلَقَهُ ثُم قَالَ ههنا ابو طلحة فدفعه إلى ابى طلحة . رواه ابوداؤد ج ١ ص ٢٧٢ كتاب المناسک باب الحلق والتقصير.

[8] اعن ابن سيرين قال قلت لعبيدة عندنا من شعر النبي أَصَبْنَاه من قبل أنس أو من قبل اهل اني فقال لان تكون عندى شعرة منه أَحَبُّ الى من الدنيا وما فيها . رواه البخاري ج ا ص ٢٩ كتاب الوضؤباب الماء الذى يُغْسَلُ به شعر الانسان.

ليکلي دي؟ هغه وويل: دلته خو لمونځ جايز نه دی. ما ورپوښتل: ولې جايز نه دی؟ حال دا چې څو ځايونه (داسې) دي چې هلته لمونځ کول شرعا جايز نه دي، په هغو کې يو هديره ده، ځکه چې په هديره کې په لمونځ کولو کې دا اشتباه ده، چې په شرک کې مبتلا نه شي، قبر ته سجده ونه کړي، ځکه په هديره کې لمونځ نه دی جائز او همدارنګه حمام او هر هغه ځای چې ناپاک وي لکه کثافات. نو دا غار حرا له دې ځايونو څخه کوم يو دی؟ حقيقت دا دی چې دا له هغو ممنوعه ځايونو څخه نه دی، نو دلته خو لمونځ کول جايز دي. هغه وويل: خلک به ووايي چې دلته نبي کريم ﷺ عبادت کړی يا لمونځ کړی، نو موږ به يې هم وکړو. ما وويل: دا خو لا ډېره ښه خبره ده، په دې کې څه عيب دی؟ د حج ځايونه وګورئ، دا ټول تبرکات دي. په حج کې بل څه نشته، په صفا او مروه کې منډه وهل زموږ د مور حضرت هاجرې رضی الله عنها منډه ده، همدا راز ذبح کول، شيطانان ويشتل، وقوف عرفات ... غرض دا چې دا ټول يو تاريخ لري او دا ټول آثار دي. مؤمنان له دې ټولو څخه توحيد اخلي او فکر کوي چې زموږ اسلافو څنګه د الله په لار کې منډې وهلې، د مال قرباني يې ورکړه، د زوی قرباني يې ورکړه، نو دا ټول شيان زموږ لپاره نمونې دي. دا آثار ټول له توحيد څخه ډک دي، حج خو اصلا له آثارو څخه جوړ دی.

الله تعالی فرمايي:

فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ (آل عمران: ۹۷)

«په هغه کې ښکاره نښې دي.»

او د لمانځه په اړه فرمايي:

وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (البقرة: ۱۲۵)

«او د مقام ابراهيم څخه د لمانځه ځای ونيسئ.»

مقام ابراهيم ولې الله تعالی ځانګړی کړ؟ الله تعالی کولای شول داسې وفرمايي چې بيت الله ونيسئ (او مقام ابراهيم پرېږدئ، ولې شرک کوئ) خو الله تعالی داسې ونه فرمايل، بلکې د مقام ابراهيم د لمانځه ځای جوړولو حکم يې ورکړ، ځکه دا د هغه ځای ځانګړتيا ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام هلته ودانۍ کړې ده او هلته يې لمونځ کړی دی. (بيا دا هم بايد په پام کې ونيول شي) چې د نبي کريم ﷺ حضور ته يو صحابي راغی او عرض يې وکړ: يا رسول الله! زه په خپل کور کې د لمانځه يو ځای جوړوم (دا هم سنت دی چې په کور کې د نوافلو لپاره يو ځای وي، پخوا به خلکو په کورونو کې داسې ځايونه جوړول، دا د صحابه کرامو له زمانې څخه را روان دي).

هغه صحابي عرض وکړ چې زه غواړم په خپل کور کې يو ځای د لمانځه لپاره ځانګړی کړم، تاسې هلته تشريف راوړئ او نفل لمونځ وکړئ تر څو زما لپاره د برکت سبب شي. نو رسول الله ﷺ عين د هغه د خواهش مطابق له هغه صحابي سره کور ته لاړ[9]، (هلته چې ورسېدی) ويې پوښتل چې ته کوم ځای د لمانځه لپاره ټاکې؟ هغه وويل دا ځای (او يوې کونج ته يې اشاره وکړه) نو رسول الله ﷺ هلته تشريف يوور، ځينې صحابه هم هلته حاضر وو، نو هغوی د رسول الله ﷺ په اقتدا (هلته) نفل لمونځ وکړ، له لمانځه وروسته رسول الله ﷺ دعا وکړه، بيا هماغه ځای هغه صحابي د خپل لمانځه لپاره ځانګړی کړ. که دا کار ناجايز او بدعت وای، نو رسول الله ﷺ به ورته ويلي وای چې دا ناجايز دی (چې زه يو ځای لمونځ وکړم او بيا ته پر هغه ځای د برکت په خاطر لمونځ کوې) او ورته به يې ويلي وای چې هر ځای چې غواړې لمونځ وکړه (د برکت وغيره هيڅ ضرورت نشته، خو هغه ﷺ د داسې فرمايلو پر ځای د هغه دعوت قبول کړ او د هغه د خواهش عين مطابق يې د هغه په کور کې لمونځ وکړ. نو له دې څخه ښکاري، چې د رسول الله ﷺ آثار د برکت، رحمت او نجات باعث دي.)

حضرت ام سليم رضی الله عنها به د نبي کريم ﷺ مبارک خوله راټولوله، کله چې

---

[9] عن ابن شهاب قَالَ أَخْبَرَنِي مُمَّد بن الرَّبِيعِ الأَنصَارِى أَن عتبان بن مَالِكَ وَهُو مِن أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ مِمَّنْ شَهِدَ بدرًا من الانصارانه الى رسول الله فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَد انكرتُ بصرى وأنا أُصَلِّى لِقَومِي فاذا كانت الامطارسال الوَادِى الَّذِى بَيْنِي وَبَيْنَهُم لَم أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيِ مسجدهُمْ فَاصِلِّى بِهِمْ وَوددت يا رسول الله انك تاتينى فتصلى في بيتي فاتخِذه مُصَلًّى قَالَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله سافعل إن شاء الله تعالى قَالَ عِتبَانُ فَعَدا على رَسُول الله ﷺ وابو بكر حين ارتفع النهارُ فَاسْتَاذَنَ رسول الله ﷺ فاذَنتُ لَه فلم يجلِسُ حِينْ دَخلَ الْبيتَ ثُمَّ قَالَ أَيْن تُحِبُّ ان أصَلِّي مِن بيتك قال فاشرت له الى ناحية من البَيْتِ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فكَبَّرَ فَقُمْنَا فَصَلَّى ركعتين ثمَّ سَلَّم الخ) حديث شريف اوږد دی) رواه البخارى ج ا ص ۲۰ کتاب الصلوة باب المساجد في البيوت.

رسول الله ﷺ خبر شو، نو ترې ويې پوښتل چې ته زما خوله ولې راټولوې؟ هغې عرض وکړ: يا رسول الله! مونږ دا په خپلو عطر کې ګډوو، خپل عطر پرې خوشبويه کوو او د برکت لپاره يې پر خپلو ماشومانو لګوو. [10](رسول الله ﷺ دا خبرې واورېدې او چوپ پاتې شو) حال دا چې که دا کار شرک وای نو رسول الله ﷺ به هېڅکله چوپ نه وای پاتې شوی، بلکې سخت انکار او ملامتي به يې پرې کړې وه، خو رسول الله ﷺ پرې هېڅ نکير ونه کړ، له دې څخه معلومه شوه چې د رسول الله ﷺ آثار له صحيح عقيدې سره د برکت سبب دي.) بهر حال زه دا وايم چې تاسې حضرات د نبي کريم ﷺ د محبت د زياتولو کوشش کړئ، ځکه څومره چې دا محبت زيات شي، هومره به تاسې الله تعالی جل جلاله ته نږدې شئ او د رسول الله ﷺ پيروي به درته نصيب شي. البته دا خبره بايد په ياد ولرئ چې د آثارو عبادت ونه شي (لکه څنګه چې ځينې جاهل او معاندين خلک کوي) او دا عقيده ونه ساتل شي چې دا (آثار) پخپله ګټه يا زيان رسوي، بلکې ګټه او زيان يوازې د الله تعالی له لوري دی. خو دا هم يو حقيقت دی چې الله تعالی رب العالمين نبي کريم ﷺ (داسې کامل او د ښو صفاتو جامع) ګرځولی و، (ځکه يو اصل دی) چې څوک ښه عطر جوړوي، نو هغه ورته ښه بوتل هم جوړوي، لنډه دا چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم هر څه متبرک دي.

د مبارَک او مُبارِک ترمنځ فرق په ياد ولرئ!

يو دی مُبارِک (برکت ورکوونکی) او بل دی مبارک (برکت ورکړل شوی)، په دواړو کې فرق دی. مُبارِک يعني برکت ورکوونکی يوازې الله تعالی دی. مبارک هغه شيان دي چې برکت ورکړل شوی دی، يعني با برکته شيان، داسې ويلای شو، چې مبارِک خالق دی او مبارَک مخلوق. په قران کريم کې راځي:

بِبَكَّةَ مُبَارَكًا (آل عمران:۹۶)

«هغه (بيت الله) په مکه کې ده او برکت والا ده.»

که څوک ووايي چې يو شی خپله برکت ورکوي، نو دا شرک دی او دی په شرک کې مبتلا دی او که ووايي چې الله تعالی پکې برکت اېښی دی او دا مبارک دی، نو په دې کې هېڅ ستونزه نشته، ځکه ډېر شيان دي چې الله تعالی برکت پکې اېښی دی لکه اختر مبارک او داسې نور.

****

له مشرۍ څخه تېښته او له جهاد سره د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم مينه

حضرت براء بن مالک رضي الله تعالی عنه د جهاد ډېر زيات مينوال او د رهبرۍ او مشرۍ څخه په تېښته و، کله چې حضرت ابو موسی الاشعري رضي الله تعالی عنه د بصرې حاکم وټاکل شو، نو حضرت براء بن مالک رضي الله عنه د هغه سره د معاون په حيث وليږل شو، هلته حضرت موسی الاشعري رضي الله هغه ته وويل چې کوم کار د خوښېږي هغه رانه وغواړه، نو حضرت براء بن مالک رضي الله تعالی عنه ورته وويل چې زه نه ستا څخه امارت (مشري) غواړم او نه د خراج (مالي برخې) د ترلاسه کولو مسؤوليت او مشري، ته ماته يوازې زما کمان، نېزه، غشي، توره او زغره راکړه چې جهاد ته لاړ شم.

(مصنف ابن ابي شيبة)

---

[10] عن انس بن مالك قال كان النبي يدخل بيت ام سليم فينام على فراشها وليست فيه قال فجاء ذات يوم فنام على فراشها فاتت فقيل لها هذا النبي نائم في بيتك على فراشک قال فجاءت وقد عرق واستنقع عرقه على قطعة اديم على الفراش ففتحت عتيدتها فجعلت تنشف ذلك العرق فتعصره في قواريرها ففزع النبي فقال ما تصنعين يا ام سليم فقالت يا رسول الله نرجو بركته لصبياننا قال أصبت. وفي رواية عن انس بن مالك قال دخل علينا النبي فقال عندنا فعرق وجاءت امي بقارورة فجعلت تسلت العرق فيها فاستيقظ النبي ﷺ فقال يا ام سليم ما هذا الذي تصنعين قالت هذا عر قك نجعله فى طيبنا وهو من اطيب الطيب. رواه مسلم ج ٢ ص٢٥٧ كتاب الفضائل باب طيب عرقة النبي ﷺ والتبرك به.



د اوسنیو نړیوالو بدلونونو په رڼا کې،

د اســــلام راتلونکی

شاهد

د اوسنیو نړیوالو بدلونونو په رڼا کې، د اسلام او جهاد راتلونکی پر ګڼو عواملو او پر سمو پرېکړو ولاړ دی، چې مسلمانان، علماء، داعیان او مجاهدین باید دا موضوعات په جدیت او مسؤولیت سره خپل کړي.

که مونږ دا واقعیت ومنو یا نه، نننۍ نړۍ د بدلون په حال کې ده او د درېیم نړیوال جنګ په لور په تیزي سره روانه ده، که ددې له پاره لومړۍ سړې نښې او ګرم چمتوالی له وړاندې نه وای پیل شوی، نو هم دا یو حقیقت دی، چې مونږ یې مشاهده کوو، یوازې یوه احتمالي وړاندوینه نه ده، چې په راتلونکي کې به پوره شي. ټولې اشارې، نښې، علامې او حتی سترګې هم ددې حتمي انجام او ټاکل شوي برخلیک په لور اشاره کوي. د لویو تمدنونو ترمنځ سیالي او ټکر پر افق را څرګند شوی دی، په هر لور یې ډول وهل کېږي او وریځ یې کرار کرار پر فضا خپرېږي.

مونږ وینو چې وباوې د نړۍ په هر کونج کې خپرېږي، چې په لکونو خلک ورڅخه مري. د اتش فشانونو، زلزلو، سیلابونو او وچکالۍ په څېر قدرتي آفات را نازلېږي او د لومړنیو جګړو یوه سلسله روانه ده. سوداګریزې لارې بندېږي، د سترو قدرتونو تر منځ تاوتریخوالی او اختلافات پر له پسې زیاتېږي او همدا ستر قدرتونه پر کمزورو باندې د ظلم او ستم له کربښو اوښتي دي. په همدې حال کې د صهیوني او صلیبي غرور او استبداد پر وړاندې اسلامي او نړیواله غوسه مخ په زیاتېدو ده او د اسلامي جهادي تحریک له هرې لومړۍ دستې څخه مثبت غبرګون څرګندېږي. دغه وضعیت د نړیوال اقتصاد پر ثبات منفي اغېز کړی او په ټوله دنیا کې د ګرانیو او اقتصادي بحران سبب شوی دی. که مونږ پر دې ټولو عواملو سربېره د لویو شرکتونو، کاروباریانو او تاجرانو تمه، د ناروا ګټو جلبول، د عوامو بې ځایه اسراف او عیاشي او په هر هیواد کې د شتمنو او بېوزلو ترمنځ ټولنیز تقسیم، چېرې چې یوه طبقه بې حده مالداره او بله طبقه بې حده غریبه وي، هم ور اضافه کړو، نو په نتیجه کې یوه ویجاړه نړۍ مخې ته راځي. له دې سره د خلکو باور پر علماوو، مبلغینو، مفکرینو، سیاسي مشرانو او دولتي ادارو ختم شوی دی. اوسني حکومتونه، اخلاقي زوال، الحاد او بې دیني روحانیت له منځه وړي. دې هر څه نړۍ له ټولنیزې، اخلاقي، سیاسي او اقتصادي خرابۍ سره مخ کړې ده. ځکه نو نړۍ د درېیمې نړیوالې جګړې پر غاړه ولاړه ده او ملتونه د خپلو ظالمو او فاسدو واکمنانو پر خلاف د بغاوت پر لار ګامونه ږدي. د هر هیواد ولسونه به له خپلو واکمنانو سره جګړه کوي، کومو چې دوی بندیان کړي وو او دوی یې په ذلت، پیغور او پستۍ مبتلا کړي وو. په راتلونکو شو کلونو کې به جګړې رامنځته شي او نړۍ له جګونو وروسته د نوې نړۍ حقیقت ته داخلېدونکې ده. کوم خلک چې د راتلونکي له پاره ښه پلان نیسي، هغه به د راتلونکو جګونو ثمره ترلاسه کوي. دا ټول حالات او حقائق له داعیانو، علماوو او مجاهدینو څخه غوښتنه کوي، چې په ډېر همت، صحیح فهم او سالم شعور سره خپله امادګي روانه وساتي، ځکه راتلونکې جګړې به زمونږ تر توقع زیاتې خونړیزې او سختې وي او دا جګړې به د نړۍ نقشه بدله کړي. په داسې حال کې مونږ مجاهدینو ته د خپل ګران مسلمان امت د ملاتړ سخت ضرورت دی، چې له مونږ سره په دې سفر کې ملګری شي. نن چې مونږ کوم شي ته تر هر څه ډېر اړ یو، هغه دادی، چې مونږ او زمونږ د امت ملتونه پر یوه دریځ او یوه بنیاد ودرېږي، بس دا یو تاریخي فرصت دی چې مونږ باید استفاده ورڅخه وکړو. د ختیځ او

لویدیځ ترمنځ نړیوال رقابت به دواړه لوري کمزوري کړي او ددې رقابت په سایه کې به ډېر ملتونه د خپلو واکمنانو له جبر او تسلط څخه نجات ومومي، هغه که د انقلاب له لارې وي، که د قتال او جنګ له لارې وي او که د سیاسي تړونونو او هوکړو له لارې وي. نو له یوې خوا به د نړیوال جهادي دعوت تحریکونه مضبوط شي (کوم چې د دعوت او جهاد له لارې د اسلام لوري ته تبدیلي غواړي) او بل لور ته به بې دینه، قومپرسته او وطني تحریکونه را پورته شي او په راتلونکي کې به ددې دوه ډوله تحریکونو تر منځ سخته مقابله وشي. مونږ به په دعوتي، امنیتي او عسکري میدانونو کې په مرحله واره توګه ددې ټولو جاهلي تحریکونو د بې اثره کولو، کمزوري کولو او که ممکنه وي، د ختمولو هڅه کوو. تر کومه حده چې د ملي یووالي او ټولنیز مسئولیت په نوم له سیکولرو حرکتونو سره د اتحاد تړاو دی، نو دا یوه غلطي ده. مونږ باید د خپلې ماضي له تجربو او د نورو له تجربو څخه درس واخلو، مثلا کله چې په مصر کې حکومت سقوط وکړ، نو قومپرسته او سیکولرو ډلو له اخوان المسلمین سره غداري وکړه، هغوی ته یې فریب ورکړ او له پوځ سره ملګري شول. په نتیجه کې یې اخوان المسلمین له یوه اعتدال خوښونکي جماعت څخه په یوه ترهګر ګوند بدل شو او د با امنه تبدیلي د ترلاسه کولو له پاره ټولې لارې په بشپړه توګه وتړل شوې. له دې وروسته یوازې په مجاهدینو پورې امیدونه وتړل شول، هغه څوک چې الله تعالی یې په فتحه او نصرت نازوي. پخوانی متل دی، چې په یوه تیکي کې دوې تورې نه ځایږي، نو مونږ باید کله هم پر هغو خلکو باور ونه کړو، کوم خلک چې په خوله د اسلام دعوه کوي، خو بنیاد یې وطني، سیکولر، جمهوري یا قومپرسته وي، ځکه دوی ټول د غرب خدمت کوي او د اسلام او اسلامي نظام دښمنان دي. نو مونږ باید له دوی سره هوښیار واوسو او له دوی سره اتحاد نه دی په کار، نه له دوی سره وعده کول په کار دي او نه دوی ته خوندي توب ورکول په کار دي، بلکې د دوی د هڅو د طرز د خامیانو د څرګندولو بیا د هغوی د کمزوري کولو، د هغوی د صفونو ماتولو، د هغوی د یووالي د پاشلو او بالاخره د ختمولو له پاره کار

نو پر داعیانو او مجاهدینو باندې لازمه وه، چې خپل دغه نسلونه له غفلته را ویښ کړي.

کول په کار دي، تر څو نړیوال اصلاحي، جهادي او دعوتي محاذ قوي شي. بیا له دوی سره داسې سلوک په کار دی، کوم به چې دوی له مونږ سره کوي، که چېرې یو وخت د جګړې فیصله د دوی په حق کې وشوه، لکه څنګه چې په مصر کې وشول، خو دا هر څه زمونږ د دین د پر عدل ولاړو لارښوونو او زمونږ د منهج د عدل خوښوونکي طرز مطابق په کار دي (نه د غلو خوښونکو جاهلانو په څېر). مونږ باید خپل صفونه په هغو خلکو قوي کړو، چې پر دین په قوت سره ولاړ دي او مونږ د خپل امت او خپلو ملتونو عام افراد تر بدلون وړاندې، د بدلون پر مهال او له بدلون څخه وروسته له خپل ځان سره ملګري کړو، ترڅو مونږ اسلام غالب کړو او دین همداسې قائم کړو، لکه څنګه چې یې الله تعالی غواړي او ورباندې راضي کېږي.

د ۱۹۹۰م په لسیزه کې (د جهادي مشرانو) د شوری په مجالسو کې له مهمو موضوعاتو څخه یوه موضوع دا وه، چې د امریکا نرم ځواک زمونږ د امت د ملتونو په منځ کې اثر و رسوخ پیدا کوي او ډېروي یې او امریکا به د خپل دغه نرم طاقت په وسیله د راتلونکو نسلونو پر امیدونو واک تر لاسه کړي. هغه وخت د مجاهدینو دا یقین و، چې زمونږ راتلونکي نسلونه به کله هم دا حقیقت درک نه کړي، چې صهیوني غرب په اصل کې د مسلمه امت دښمن دی، بلکې زمونږ نسلونه به د دوی غلامان او ایجنټان جوړ شي. نو پر داعیانو او مجاهدینو باندې لازمه وه، چې خپل دغه نسلونه له غفلته را ویښ کړي.

هغه وخت د دعوت او جهاد تحریک د خواله رسنیو پر محاذ او سیاسي محاذ باندې له سختو حملو سره مخ وو، په داسې حال کې چې له مجاهدینو سره نه هغه اداري وې، نه وسائل، کوم چې له دښمن او د هغوی له ځایي غلامو حکومتونو سره وو، چې دوی تر عوامو خلکو پورې خپل دعوت ورباندې ورسوي. په ټولو میدانونو کې د مجاهدینو ټول ذرائع او وسائل محدود شوي وو او که څه هم د اسلامي بیدارۍ څپه زیاتېده، خو د عامه رایې د تشکیل اسباب د مجاهدینو په لاس کې نه وو. هغه مهال د دښمنانو د بندولو او د خپل امت د راویښولو یوازینۍ لاره جهاد وه او په همدې تناظر کې یو مسلم حقیقت و، چې د افغانستان جهاد د الله عزوجل له توفیق وروسته له غفلت څخه د امت د ویښتابه له

تر ټولو مهمو عواملو څخه یو و. نو په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان په اوسني دور کې د مسلمه امت د لومړي صف د مجاهدو او سرتیرو د ډلې په بنسټ اېښودلو کې قوي زمینه مساعده کړه. هغه وخت له امریکا او صهیوني صلیبي غرب سره د تنازع له ترټولو مهمو مقاصدو څخه یو دا و، چې مونږ خپلو نویو نسلونو ته ددې تنازع حقیقت واضح کړو او هغوی ته شعور ورکړو او را ویښ یې کړو. نو د الله تعالی په فضل او کرم سره او د هغه په عنایت سره مجاهدین په دې کې بریالی شو چې د امریکا نرم طاقت له صحنې ایسته کړي او د هغې سخت طاقت د جګړې میدان ته را کش کړي. دا ویښتابه یوازې تر مسلمه امت پورې محدوده نشوه، بلکې د هغه تر سرحدونو ور ها خوا په نورو هیوادونو کې هم خپره شوه، تر دې چې څو کاله وړاندې یوه لوړ پوړي چینایي چارواکي وویل:«القاعدې، چین او روس دواړو ته د ترقي، نوې آبادۍ او په نړیوال برلاسي ځواک کې د شمول له پاره کافي فرصت برابر کړی دی، څکه دوی غرب له خپل ځان سره په سخته جګړه کې بوخت ساتلی دی.» دا بیان ددې وړ دی، چې غور او فکر ورباندې وشي. خو مجاهدین وایي، چې:«القاعدې مسلمانان د نړیوال تصمیم نیولو له پاره د جګړې او مقابلې میدان ته د دوهم ځل له پاره راوستي دي.» دا جمله زمونږ له پاره او زمونږ د امت له پاره بې حده معنی لري. او ان شاء الله څو لسیزې به لا نه وي تېرې شوې چې غرب به په نړیوال تصمیم نیولو کې خپل مقام وبایلي. یقینا نن لوېدیځ په هره کچه ناکام شوی دی. هغه نړۍ ته داسې کوم فکري نظام یا بدیل تمدن وړاندې نه کړ چې انسانیت ته معنا ورکړي او د ژوند دوام تضمین کړي، بلکې د ځان غوښتنې، د نړۍ د شتمنیو د حرص او شهوت بازار یې ګرم کړ. هغه د انسانیت او روحانیت ویجاړۍ ته لاره هواره کړه، طبیعي سرچینې یې ضایع کړې، ځمکه یې ککړه کړه او لا هم له انساني عنصر او انسانیت سره خطرناکې تجربې رواني ساتي. له همدې امله، اړینه ده چې لوېدیځ د سیاسي سیالۍ له ډګر څخه وایستل شي او د نړیوال تصمیم نیولو له مرکز څخه لرې کړل شي، تر څو د اسلام د دوو مهمو ډګرونو، یعنې دعوت او جهاد لپاره لاره هواره شي.

اوس بیا احمق ټرمپ راڅرګند شوی دی، چې په هر میدان کې د نړیوالو بدلونونو بهیر لا چټک کړي. په کور دننه هغه په دې خیال کې ژوند کوي چې باید د امریکا لومړی پاچا شي، له همدې امله تمه کېږي چې راتلونکې ټاکنې په یوه یا بله پلمه لغوه کړي یا د واک ساتلو لپاره اساسي قانون بدل کړي. د الله په اراده، دا باج اخیستونکی او زورواکی به خپله امریکا کورنۍ جګړې او داخلي شخړو ته ټېل وهي، چې دا به د امریکا نړیوال نفوذ او سیاسي برلاسي کمزورې کړي. د نتنیاهو حالت هم همداسې دی؛ هغه هم هڅه کوي د یهودو پاچا شي. کله چې یو ملت دننه تجزیه شي او داخلي شخړې پکې زیاتې شي، د هغه د ژغورلو لپاره اکثره جګړې بهر ته اړول کېږي، په ځانګړي ډول هغه ملتونه چې هدف یې ګټه وي، نه دین او عقیده. همدا تګلاره هغوی زمونږ او نورو ملتونو پر وړاندې له پېړیو راهیسې کارولې ده، مونږ د الله په فضل سره او له اسلام سره د تړاو په خاطر بچ شوو، خو مادورو او لاتیني امریکا واکمنان چې د دیني او روحاني تشې ښکار دي، ناکام شول.

په نړیواله کچه ټرمپ له خپلو اتحادیانو سره د ځواک تصور د هغه له دوو اړخونو «نرم» او «سخت» څخه را وایست او پر ګواښ، فشار او زور ولاړ سیاست ته داخل شو. هغه مادورو وتښتاوه او د هغه تر شا د موجودو لاتیني امریکا مشرانو ته یې ګواښونه وکړل، عربي باچاهانو ته یې په متکبرانه انداز وویل چې «مونږ وړیا د هیچا ساتنه نه کوو، پیسې ورکړئ». دا چلند یوازې د اسلامي هیوادونو پر واکمنو یا د امریکا پر کمزورو هېوادونو محدود نه شو، بلکې اروپا، ناټو او حتی اوکراین ته هم ورسېد، کوم چې د روسانو پر وړاندې د اروپا او غرب لومړی دفاعي خط دی. د (امریکا بیا ستره جوړه کړئ) او د «امریکا تر ټولو لومړی» شعارونه د الله په حکم سره د غرب بشپړ زوال ته د حقیقت جامه ور اغوندي.

همدا زار په نړیواله کچه له خپلو مخالفینو او حریفانو سره ټرمپ په ښکاره ډول هغه څه وکړل چې امریکا پخوا په پټه کول. هغه د نړۍ پر کره هر چاته اخطار ورکوي، له هر هغه ملت څخه حق السکوت اخلي، چې د مقابلې توان یې کمزوی وي، تش په نوم نړیوال قانون او ملګري ملتونه یې د تباهۍ کندې ته رسولي دي، د زور او طاقت واکمني او د ځنګله د قانون اصول بیا را ژوندي کوي. هغه د وینزویلا واکمن مادورو د هغه د پوځ او ساتونکو له منځه

وتښتاوه او بیا یې کیوبا، ایران او نورو هیوادونو ته هم ګوتڅنډنه وکړه. ټرمپ په ربښتیا د ځنګله قانون نافذوي او په بشپړ ډول د استعماري غنده ګردي په لار روان دی. کومو خلکو چې استعماري دور نه و لیدلی، هغه نن د حقیقي استعماري لوټمار څېره ویني. ټولې نړۍ ته، خپلو ملګرو او کارکونکو ته، خبریالانو ته، حتی خپل خاندان ته د ټرمپ د ورځنیو اخطارونو حساب کول هم مشکل دی. هغه باچاهي خوښوي او یوه بې لګامه واکمني غواړي. هر څوک چې له خپلو اهدافو څخه د یو څه ترلاسه کول غواړي، هغه باید د ټرمپ خوشامد او چاپلوسي وکړي او ملاتړ یې وکړي، تر څو د نوبل جائزه ترلاسه کړي، خو هغه دا څنګه ترلاسه کولای شي، په داسې حال کې سهار او ماښام نړۍ ته ګواښونه کوي، د لاتیني امریکا له کمزور هیوادونو پر وړاندې طاقت استعمالوي، له خلیجي ریاستونو څخه پیسې زبېښي او د خپل دفاع وزارت نوم د جنګ په وزارت بدلوي، جنګ که کورنی وي او که بهرنی، تر څو ټول دده د خوښې تابع شي. هغه یو داسې احمق دی، چې اطاعت یې کېږي، د هر دور د ظالمو واکمنانو په څېر.

او بل لور ته چین چې په نړیوال میدان کې د امریکا تر ټولو ستر حریف دی، هغه خپله پالیسي تعقیبوي او هدف یې دادی چې د نړۍ ټول ځواکونه کمزوري کړل شي، که مادي وي که روحاني. ځکه نو کمزوري نور پسې کمزوري کوي، له ټولو سره مالي مرسته کوي، له ټولو سره د ټولو خلاف اتحاد جوړوي او دنیا ته ددې تاثر ورکولو هڅه کوي، چې دوی یوازې یوه تجارتي کارخونه نه ده، بلکې یو داسې ملت دی، چې د نړۍ د قیادت کولو او د هغه له پاره د انتظام کولو په هڅه کې دی. خو دا یې له ترلاسه کولو څخه لرې ده او دا خواهش به یې پوره نه شي، ځکه په ځان خوښونه اخته دی، د یوه واکمن لوړ امیدونه دوهم محتاط واکمن له منځه وړي او د هغه له رواني کمزوري څخه د نجات یوازینۍ لاره داده، چې هغه پر الله تعالی باندې ایمان راوړي او د هغه پر وړاندې د تسلیمۍ سر ټیټ کړي. مونږ تصدیق کوو او واضحوو یې، چې نه یوازې چین بلکې روسیه، ایران او ترکیه او د دوی په څېر ډېر زیات هیوادونه یا ډلې چې د غرب مخالفت کوي، که څه هم یوازې تر ظاهري اندازې پورې له مونږ سره اتحاد نه شي کولای. بلکې هغوی زمونږ له هڅو او جهاد څخه د فایده اخیستو هڅه کوي، خو مونږ په دې مرحله کې له دوی سره په هیڅ ټکر کې تر هغه وخته ځان نه داخلوو، تر څو دوی پیل ونه کړي. ددې برعکس دا هیوادونه چې د راتلونکي د حالاتو اندازه وکړي، نو خامخا به زمونږ د مخالفینو او زمونږ د صفونو د تقسیمونکو ملاتړ وکړي. امکان لري، چې في الحال په دوی کې ځینې مرسته هم وکړي، خو له بخل، احتیاط او محتاط انداز سره. دومره چې مونږ (د دوی په فکر) ژوندي ورباندې پاتې شو او له غرب سره زمونږ روان ټکر روان پاتې شي، تر څو غرب کمزوری کړل شي. په داسې حال کې چې د دوی دا مرسته مونږ ته په راتلونکي کې د هیچا د مقابلې توان نه راکوي، ځکه نو مونږ باید نه پر دوی تکیه وکړو او نه انحصار. بلکې مونږ باید اوسنۍ او راتلونکې معرکې په حکمت، بصیرت، شعور او پر الله تعالی په کامل توکل سره مخته یوسو او د خپل مسلمان امت پر عامو خلکو او پر خپل دین په قوت سره ولاړو د امت زامنو باندې اعتماد وکړو.

پر اسلامي هیوادونو د مسلطو عربو او غیر عربو واکمنو د مسئولیتونو په اړه مو نظر څه دی؟ پر واک د پاتې کېدو له پاره به دوی پر کومو احکاماتو عمل وکړي؟

پر اسلامي هیوادونو مسلطو عربو او غیر عربو طاغوتي واکمنانو باندې لازمه ده، چې خپله ځمکه دښمنانو ته د سپارلو او راتلونکو اشغالونو له پاره اماده کړي، خپل ملتونه د ناکامو زرعي او اقتصادي پالیسیو په وسیله په نور فقر او غربت کې ښکېل کړي، تر څو عوام پر له پسې په بحرانونو کې مبتلا وساتي او د مایوسي ښکار یې کړي. دوی باید د رزق او روزي لارې تنګې کړي او ټولنیز فساد رامنځته کړي، تر څو نکاح او واده د موندلو وړ نه وي او د خواهشاتو تکمیل په بې حیایي او فحاشي سره وشي، همداسې کورنی وحدت له منځه یوسي. د عوامو د کمزوري کولو له پاره هغوی باید له وسلو څخه محروم شي او د جنګ اختیار باید د یوې داسې طبقې (پوځ) په لاس کې وي، چې د حکم او اطاعت له پاره روزل شوي وي، نه د فکر او انتخاب له پاره. صنعتونه باید یوازې پر لګښت باندې ولاړ وي، ترقي یافته نه وي، تر څو ملت د غرب تابع واوسي، د هغه د ټکنالوژي محتاج او د هغه له نرم ځواک څخه په رعب کې شي او د هغه وړاندې شوي نظریات په اساني سره قبول کړي. هغوی باید دیني مدرسې، د تعلیم او تربیې نظام او اسلامي عدالتي ادارې تباه کړي، تر

څو جهالت عام شي او شرعي مرجعیت له دوی څخه واخیستل شي. دې واکمنانو ته دا حکم شوی دی، چې کوم افراد د قیادت وړ جوړېدای شي، هغوی دې تر پخېدو وړاندې ختم کړل شي، تر څو تجربه ضائع شي، ملتونه بې رهبره شي او عمارت بې اساسه پاتې شي. داسې باید هیڅ مرجع پاتې نه شي، نه کوم طاقت دفاع وکړي، نه کوم قلم علم خپور کړي، نه کومه ژبه د شعور جګړه وکړي او چاپېریال باید له فقر او احتیاج څخه ډک پاتې شي، ټولنه په ګمراهي او ناپوهي کې غرقه شي، پرته له کوم رهبر څخه.

همداسې د سلطنتونو او هیوادونو غاړې پېچل کېږي او عوام يې دار ته خېژول کېږي. د مسلسلو حملو پر وړاندې يې زمونږ د پلرونو او نیکونو له غیرته ډک غبرګون څخه نن د دښمنانو جامعه پالیسي څرګنده شوې ده. نوي ابادېدونکي طاقتونه ووتل، خو شاته یې خپل پاتې شوني پرېښودل، تر څو هغوی هغه کارونه تر سره کړي، چې دوی خپله په کې ناکامه وو. نو د اسلام پر وړاندې جنګ اعلان شوی دی، خو پر اسلامي ځمکو د زور په وسیله اشغال کول یوه ناکامه تجربه ثابته شوې ده، نو دوی ته به پر اسلامي ځمکو غلبه نه حاصلیږي. خو د دوی غلامانو له خپلو مبلغینو او د رسنیو له ترجمانانو سره یو ځای د مسلمانانو له خپل دین څخه اړولو ته ملاتړلې ده، تر دې چې وطنپرستي هم کمزوري کوي او د غیرت د له منځه وړلو او د تاریخ مسخه کولو پوره کوشش کوي.

د اوسنیو نړیوالو بدلونونو په رڼا کې، د اسلام او جهاد راتلونکی پر ګنو عواملو او پر سمو پرېکړو ولاړ دی، چې مسلمانان، علماء، داعیان او مجاهدین باید دا موضوعات په جدیت او مسؤولیت سره خپل کړي. د چمتو والي اسباب، سمه پلان جوړونه، په تعلیمي، عسکري، دعوتي، سیاسي او بالاخره ټولو محاذونو کې سنجیده عمل، دا هغه عناصر دي، چې ان شاءالله دا روڼ مستقبل به طی کړي. هر هغه څوک چې د اسلام له پاره کار کوي، هغه باید خپل کردار او مقام وپېژني، د هغه مطابق باید خپل ځان تیار کړي او ټول باید د نیکي، تقوا او یو له بل سره د مرستې له لارې سره متحد شي، له دې سره سره له رباني علماوو او مخلصو داعیانو سره مشوره هم لازمه ده او د امت په ځوانانو کې سم شعور خپرول ضروري دی، تر څو قافله سم لوري ته پر مخ لاړه شي. تر دې وړاندې، همدا مهال او له دې وروسته هم اصل تکیه له «کتاب الله» او «سنت رسول الله» سره تړاو، پر هغو قائم پاتې کېدل او د هغوی دفاع کول دي. کامیابي په حقیقت کې د هغه چا له پاره ده، چې له الله سره وي او الله له خپلو مخلصو انصارو سره دی.

الله تعالی فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ ۖ فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ (سورة الصف:۱۴)

«اې مؤمنانو! د الله د دین مرسته کوونکي شئ، لکه څنګه چې عیسی بن مریم علیه السلام حواریونو ته وویل: څوک دي چې د الله لوري ته زما مرسته کونکي څوک دي؟ او حواریونو ځواب ورکړی و: مونږ د الله مرسته کوونکي یو. په هغه وخت کې د بني اسرائیلو یوې ډلې ایمان راوړ او بلې ډلې انکار وکړ، نو مونږ هغه مؤمنان د خپلو دښمنانو پر وړاندې قوي کړل، او هغوی بریالي شول.»

****

ولې جهاد؟

په مونږ باندې جهاد فرض عین دی ځکه چې د اسلامي خاورو آزادي تللې ده، خاورې غصب شوې دي، فلسطین غصب دی، بخارا غصب ده، ترکستان غصب دی، اندلس غصب دی، په مشرق او په مغرب کې زمونږ خاورې غصب دي، نه تنها چې سابقه خاورې غصب دي بلکې اوس هم زمونږ موجوده خاورې چې آزاد ځانته وايي، د آزادۍ جشنونه کوي، په خپل ملک کې د هېڅ شي آزادي نلري.

«استاد یاسر رحمه الله تعالی»

له یوه صوتي پیغام څخه



دښمن پېژندنه

یهــود

أسامه أمجد

اسرائیل د یعقوب علیه السلام نوم دی چې د الله تعالی د بنده او عبدالله په معنی دی، دا چې یهود د نوموړي علیه السلام په اولاده کې رازي نو ځکه يې د بني اسرائیلو په نوم شهرت موندلی؛ یهودیت له یهودا څخه اخیستل شوې کلیمه ده چې یهودا د یعقوب علیه السلام یو زوی ته منسوب نوم دی!

یعقوب علیه السلام د اسحق علیه السلام او اسحق د ابراهیم علیه السلام زوی وه؛

ددوی له جملې یعقوب علیه السلام په کنعان کې زنده ګي غوره کړه، همدلته په عبراني قوم کې په پیغمبرۍ مبعوث او ژبه يې هم عبراني وه.

د یعقوب علیه السلام په اولاده کې یوسف علیه السلام په مصر کې په پیغمبرۍ مبعوث شو، الله تعالی جل جلاله د مصر حکومت او وزارت ورکړ، نوموړي علیه السلام خپله کورنۍ له کنعانه مصر ته راوغوښته او همدلته میشته شول.

بني اسرائیلو په مصر کې د عزت او وقار ژوند درلوده، تعداد يې هم ورځ په ورځ په زیاتیدو وه، د وخت په تیریدو سره په دوی یو داسې وخت راغی چې مصري فرعونیانو بني اسرائیل خپل غلامان او مزدوران وګرزول؛ په همدې وخت کې موسی علیه السلام د دریم رامسس فرعون په زمانه کې وزیږیده چې په همدې کال فرعون د بني اسرائیلو نوي پیدا شوي ماشومان حلالول، الله تعالی موسی علیه السلام د فرعون په کور کې راستر کړ، نوموړی علیه السلام د ځوانۍ په مرحله کې یو قبطي چې له یوه اسرائیلي سره يې دعوه درلوده په سوک وواهه چې ځای پرځای مړ شو.

موسی علیه السلام له مصره د شعیب علیه السلام ځای مدین اوسني اردن ته لاړ، لس کاله يې له شعیب علیه السلام سره تېر کړل نوموړي خپله لور هم ورکړه، مصر ته د بیرته راتګ په وخت کې د سینا په دښته کې د الله تعالی له طرفه وحيې ورته راغله او په پیغمبرۍ مبعوث شو، الله جل جلاله د موسی علیه السلام ورور هارون علیه السلام ته هم پیغمبري ورکړه او د نوموړي مرستندوی يې غوره کړ.

مصر ته له راتګ بعد یو ځل بیا موسی علیه السلام خپل قوم د فرعون له جبر او ظلمونو د ژغورولو په پار له مصره ووت، الله تعالی دوی پر نیل روغ رمټ پورې ویستل او د فرعون لښکر يې پکې غرق کړ (دا فرعون د دریم رامسس زوی من فتاح نومیده)

بني اسرائیل د سینا په دښته کې میشت شول، موسی علیه السلام همدلته طور ته پورته شو او الله تعالی جل جلاله تورات ورکړ، نوموړی علیه السلام په طور کې وه چې سامري خوسکی جوړ خلک يې ورته عبادت ته راوبلل او بني اسرائیلو يې عبادت پیل کړ؛ په همدې د سینا په دښته کې به دوی ته من او سلوا راتلله.

څه زمانه بعد بني اسرائیل د ښاري ژوند، ترکارۍ، هوګې او پیاز غوښتونکي شول، موسی علیه السلام د الله تعالی په امر جهاد ته راوبلل تر څو فلسطین فتح او دا اباد ښار ونیسي، چې هم به کروندې کوي او هم به د ښاري ژوند خاوندان شي.دوی د موسی علیه السلام خبره ونه منله، موسی علیه السلام ډیر خفه او لدې نافرمانه قومه ناهیلی شو او خپل قوم (بني اسرائیلو)ته يې ښیرا وکړه.

قران کریم دې پیښې ته داسې اشاره کوي:

«فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ» (سورة المائدة: 24)

ویل يې: موږ لدې قوي قوم سره د جګړې توان نلرو، ته او رب دې لاړ شی او لدې خلکو سره وجنګیږئ موږ به دلته درته کښینو.

بني اسرائیل په همدې د سینا دښته کې ۴۰ کاله سرګردانه ګرځېدل تر دې چې په دوی کې یو بل نسل را لوی شو؛

دې نافرمانه قوم همدلته د خوسکي عبادت، جهاد نه کول، د الهي نعمتونو ناشکري، بې صبري، شکایات او د پیغمبرانو علیهم السلام په تکذیب لاس پورې کړ.

موسی او هارون علیهم السلام په همدې سینا دښته کې وفات شول.

له موسی علیه السلام بعد یوشع بن نون علیه السلام په پیغمبری مبعوث شو، ۴۰ کاله تیر شوي وه، بني اسرائیل د همدې پیغمبر تر قیادت لاندې د اردن له لارې فلسطین ته ننوتل، لکه څرنګه چې دوی ۱۲ طایفې وې او په ۱۲ برخو یې دا سیمه وویشله.

پر دوی لسګونه کلونه همداسې تیریدل د پاچاهي نظام پکې نه وه، تر دې چې د شاول په نوم یو کس چې قران کریم طالوت یاد کړی ده د دوی د رهبرۍ واګي په لاس کې واخیستې، نوموړي د بني اسرائیلو لومړی پاچا ګڼل کیږي، د همدې پاچا په وخت کې داوود علیه السلام هم اوسیده چې د طالوت د لښکر یو پوځي و.

په یوه جګړه کې داوود علیه السلام جالوت وواژه، الله تعالی پاچاهي او نبوت دواړه ورکړل، داوود علیه السلام ۴۰ کاله پاچاهي وکړه، وروسته یې زوی سلیمان علیه السلام د بني اسرائیلو پاچا شو د چا حاکمیت چې ټوله نړۍ په بر کې نیوله.

سلیمانعلیه السلام بیت المقدس خپل پایتخت وټاکه او هلته یې یو مسجد جوړ کړ چې وروسته د هیکل سلیماني په نوم وپیژندل شو.

په بني اسرائیلو کې یو صندوق وه چې له موسی علیه السلام څخه ورته پاتې وه پدې صندوق کې د موسی امساء، د تورات نخسې او همداسې د نورو پیغمبرانو یادګارونه او اثار خوندي وه، په ډیر احترام او درنه سترګه ورته کتل کیدل، په جګړو کې به یې له ځانه سره وړو، او الله تعالی به د همدې په سبب فتح او نصرت ورپه برخه کاوه؛ قران یې په اړه وایي:

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ.(البقرة:**248**)

پردې سربېره د هغوی پیغمبر هغو ته دا هم وښودله چې: «د خدای له لوري د باچا په توګه د هغه د ټاکل کېدو نښانه دا ده چې د هغه په زمانه کې به هغه صندوق تاسو ته بیا راشي چې په هغه کې ستاسې د رب له لوري ستاسې لپاره د ډاډ ګېرنې وسایل دي، چې په هغه کې د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام د کورنۍ موروثي مقدسات دي؛ او هغه چې پرښتو خوندي ساتلی دی، که تاسو مؤمنان یاست نو دا ستاسو لپاره ډېره لویه نښانه ده.

څه موده وروسته بني اسرائیل په خپل منځي اختلافاتو کې ښکېل شول او په دوه برخو شمالي او جنوبي اسرائیلي حکومتونو باندې وویشل شول، چې د بابل اوسني موصل حاکم بخت نصر 586ق م پر فلسطین حمله وکړله او د یهودو قتل عام یې پیل کړ، هیکل سلیماني یې ونړاوه، ښارونو او کلیو ته یې اور واچاوه، ځوانان یې اکثریت ووژل او پاتې ښځې، ماشومان او بوډاګان یې له ځانه سره د اسیرانو او غلامانو په حیث بابل ته یوړل؛ پنځوس کاله یهودو په بابل کې د غلامۍ او اسارت ژوند تېر کړ تر څو په 539 ق م کې فارسي پاچا کوروش بابل ونیوه او نوموړي یهودو ته اجازه ورکړه چې بیرته خپلو ځایونو ته ولاړ شي؛ لدې بعد یهود د یوناني او رومي امپراطوریو تر چتر لاندې پرې پیړۍ پیړۍ تېرې شوې؛ او د نړۍ مختلفو سیمو ته وکوچېدل او مېشته شول، له میلاد نه مخکې او وروسته، یهودان د سوداګرۍ او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله عربستان ته هم کډه شول، او په مختلفو سیمو کې یې ژوند کول غوره کړل چې مدینه او خیبر یې د زیات شهرت لرونکي دي!

یهود د نړۍ تر ټولو پست فطرته، مکار او فریبکار نسل دی، په رګونو کې یې د وینو پر ځای حسد او کینه موجونه وهي، د تاریخ په اوږدو کې یې تل ملتونه سره پاشلي.

په قرآن کریم کې تر ټولو ډیر یاد شوی قوم همدا یهود دي، ځکه همدوی د خپلو پیغبرانو تر ټولو ډیره دښمني کړې، روایتونو کې راځي چې دوی په یوه ورځ کې تر اویا تنو پیغمبران په شهادت رسولي، قران کریم دې پیښې ته داسې اشاره کوي:

وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ

همدې یهودو له الله جل جلاله او ملایکو سره دښمني کړې، زموږ له رسول صل الله علیه وسلم سره یې تر ټولو ډیره دښمني کړې تر دې حده چې د رسول صلی الله علیه وسلم د شهیدولو پلان یې هم جوړ کړی وه، په غوښه کې زهر همدوی ورکړل،

همدوی وه چې همیش به یې د مکې مشرکین او نور قومونه د مسلمانانو په ضد راپارول.

همدا یهود دي چې نعوذبالله من ذالک د عیسی علیه السلام د شهیدولو دعوه لري؛ همدا یهود وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مخکې یې سلګونه کلونه اوس او خزرج قبیلې سره وجنګولې.

کله چې رسول صلی الله علیه وسلم له مدینې منورې وشړل، د خپل مبارک وفات په وخت کې یې په یوه مناسبهموقع کې له جزیرة العرب څخه ددوی د ویستلو وصیت وکړ، (مشرکان یې یاد کړي) چې بیا فاروق اعظم رضی الله عنه دا وصیت عملي او عربي خاوره یې ددوی له ناولو قدمونو پاکه کړله.

د تاریخ په اوږدو کې به همیشه دوی ځانونه له خلکو لوړ ګڼل او غیر یهودو ته یې د حیواناتو او خپلو غلامانو خطاب کاوه، په چل، فریب، دوکې، سودي کاروبار، دروغ، د ملتونو تر منځ د نفاق تخم شیندل او جنګول یې روزمره کاروبار وه؛ د همدې صفتونو د درلودلو په اساس د نړۍ خلکو یې هم په وژلو او شړلو لاس پورې کړ.

یهود په نړۍ کې وپاشل شول، د اردن، شام شاوخوا، روسیې، اندلس او اروپا ته وکوچیدل، ځانګړې خاوره او هېواد یې نلرلو، هر چیرته چې به دوی وه هلته به فتنې وې، سودي کاروبار به وه، مکر چل او دروغ خو یې د ژوند یوه برخه ګرزیدلې وه، ملتونه به یې یو دبل په مقابل کې راپارول، کله به یې یو ملت حمایه کاوه او کله بل، خپل تجارت یې پرې روان ساتلی وه، دا چې یهود د مکارۍ تر څنګ ډیر هوښیار هم دي نو په هره زمانه کې صنعتي څواک او تجارت ددوی په لاس کې وي، چې پر واسطه یې ملتونه جنګول، د فرانسې د انقلاب تر شا هم د همدوی لاس وه.


یهودو فلسطین ته د تګ په پار زیاته دلچسپي درلوده، ځکه دوی پر دې عقیده لري چې هر کله مو اقصی ونړوله او پر ځای مو هیکل سلیماني جوړ کړ، هغه وخت به پر نړۍ زموږ راج او پاچاهي پیلیږي، د همدې هدف د تحقق په پار همدا اوس یې په سلګونو پټ سازمانونه او ماسوني ادارې په کار بوختې دي، فکري روزنه او زمین سازي ورته کوي، نسلونه روزي، د نړۍ سترې کمپنۍ په مستقیم او غیر مستقم ډول تر واک لاندې راوستلي، د مسجد اقصی لاندې یې ستر ستر تونلونه ویستلي، د نړۍ پر اقتصاد واکمن دي، ددوی په نظر دوی خپل هدف ته ډیر نژدې شوي دي، نو شپه او ورځ په کار او هڅو بوخت دي.

اندلس یا ننني هسپانیه چې د مسلمانانو په جنت یادېده، هغه اندلس چې مسلمانانو د ۸۰۰ کلونو حاکمیت په دوران کې داسې رغولی وه چې نن هم معماران ورته ګوته په غاښ دي، هغه اندلس چې د قرطبې او غرناطې د ممبرو ملکوتي انګازو یې اروپا لړزوله، د قرطبي، ابن فرناس او ابوالقاسم الزهراوي په څیر علماوو د نړۍ بڼه بدله کړې وه!

په جنتي اندلس کې د اسلام اته سوه کلن لمر په ډوبیدو وه، د امت وروستی مورچل هم د صلیب لاسته لویدلای وه، د اندلس له سترو ښارونو په میلیونونو مسلمانان اسلامي خاورو ته را مهاجر شول، په زور له اسلامه اړول، اولادونه ترې ستنول، تعذیبول او نور رنګارنګ مظالم د فاتحو صلیبیانو پیشه ګرزیدلې وه، د صلیب له دې ظلم او زور څخه یهود هم په امن کې نه شول پاتې، هماغه وه چې یهودو هم ددوی له ظلمونو عثماني خلافت ته مخه کړه؛

لکه څرنګه چې یهود کسب کاره خلک وه او د عثمانیانو هم د دوی پر مظلومیت زړه وخوږیده نو یې د خلافت اروپایي خوا سالونیک ښار کې دوی ته د اوسیدو اجازه ورکړ، دوی همدلته د سالونیک ښار کې خپلې مدرسې جوړې، ترکي ژبه یې زده او یو داسې نسل پکې رالوی شو چې په ترکي او هسپانوي دواړو ژبو او فرهنګ پوهیدل، د وخت په تیریدو سره یهود د اسلامي قلمرو په ستراتیژیکو نقطو کې ځای پرځای شول لکه د خلافت مرکز، فلسطین او د شام نورې ساحې.شبتای زیپي:

د عثماني خلافت تر چتر لاندې یهودو کې یو ماشوم پیدا شو، ډیر ځیرک او پوه وه، لومړۍ یې خپل دین یهودیت زده کړ او پدې لار کې یې ستر پرمختګ وکړ، دا ماشوم شبتای زیپي نومیده؛ په یهودو کې د ډومنه د ډلې بنسټګر "شبتای زیپي" چې کله را ستر شو نو یې ددې دعوه وکړه چې هغه د ۱۷م پیړۍ مسیح دی او خلک یې پر ځان باور او ایمان ته راوبلل!



یهودو کې یوه نظریه عامه شوې وه چې په ۱۶۴۸م کال کې به مسیح رابښکته کیږي او د یهودو مشري به کوي، فلسطین به یې مرکز وي او پر ټوله نړۍ به یې واکمني وي، شبتای په لومړیو کې یهود خپل طرف ته راوبلل د خوږې ژبې او پوهې په درلودلو سره به ډلې_ډلې یهود ورته راتلل، (د یهودو خطبه او د خلیفه نوم؟) له خطبې یې د خلیفه نوم لرې کړ او پرځای یې په خپل نوم [سلطان السلاطین] خطبه ورکول پیل کړل، عثماني خلافت دده له پټو کړنو او حربو خبر شو نو یې د نیولو امر ورکړ او ویې نیوه، شبتای اډریانوپل محکمې ته حاضر کړای شو، او دقاضي مخې ته ودرول شو، ورته یې وویل چې ته ددې دعوه لرې چې عیسی مسیح یې نو موږ له تا کالي باسو او لوڅ لغړ دې دروو او زموږ تیز غیشی ویشتونکی به غیشی درباندې گذار کړي که ولږیدې نو دروغجن یې او که نه نو خپله معجزه به موږ ته وښایې او غشی به درباندې ونه لگیږي!

شبتای یو ځل وډار شو او په زاریو یې پیل وکړ چې دا خلکو ما پورې دروغ تړلي، ما هیڅ هم ندي کړي، د خلیفه یو طبیب چې همدلته موجود وه اصل کې یهودی وه خو ځان یې مسلمان ښوده په هسپانوي ژبه شبتای ته وویل چې اوس خو مسلمانان تا وژني نو ته ځان د درواغو مسلمان وښیه او ځان له مرگه خلاص کړه، شبتای دستي وویل چې زه مسلمانیږم او یهود هم اسلام ته رابولم، کلیمه یې وویله او نوم یې هم محمد عزیز افندي ته بدل کړ، نو اسلامي محکمې هم برأت ورکړ!

په ښکاره یې خپلو پیروانو ته ویل چې ماته خدای وویل چې مسلمان شه او اسلام بر حق دین دی، پخپلو پیروانو به په درواغو اسلامي نومونه اینښودل، خو په پټه یې هماغه مخکینی عقیده پالــله او یو ځل یې بیا یهود په ځان راټول کړل په ښکاره به یې د اسلام_اسلام نارې وهلې خو په پټه یې صهیونیت او خپلو ګټو ته کار کاوه، د خپل ماسونې دین پیروي یې کوله، یهود یې د اسلام پر ضد روزل او ددوی د اتحاد، یوالي او فلسطین د نیولو هیلې به یې په زړه کې له ځانه سره ساتلې!

خپلو پیروانو ته به یې ویل چې [زما مثال د موسی"علیه السلام" غوندې دی چې یوه موده د فرعون په کور کې وه] لکه څرنګه چې زه د اسلامي خلافت لاندې ژوند کوم او په همدې طریقو یې یوه لویه ډله یهود پرځان را مات کړي وه.

په پای کې د خلافت پوځیانو د دوهم ځل لپاره د قوري چشمه په نوم کلیسا کې پداسې حال کې ونیوه، چې له نجونو سره شراب څښل او فحاشي بوخت وه! یوځل بیا اسلامي محکمې ته وړاندې کړای شو، شیخ الاسلام پدې حکمت یې بیا د وژلو اجازه ورنکړه چې پیروان به یې وایي چې ګواکې اسمان ته پورته کړای شوی ده، بلاخره د عثماني خلافت له قلمرو البانیا ته وشړل شو او پنځه کاله بعد پخپل مرګ مړ شو.

شبتای هغه لومړنی یهودی ګڼل کیږي چاچې فلسطین ته د اسرائیلو د راستنیدو زیری ورکړ!

ډومنه یهود:

ډومنه کلیمه د ترکیې ژبې څخه اخیستل شوې د بیرته راګرزیدو او مرتد کیدو په معنی سره ده، ددې ډلې بنسټګر همدا شبتای زیپي دی، دا ډله د تعداد له نظره کمه خو ډیره خطرناکه وه، له همدې امله به د ډومنه کلیمه ورته کاریدله چې په ظاهره به یې ځانونه مسلمانان او داعیان معرفي کول خو په پټه به یې خپل یهودیت پاله، په همدې طریقه یې ځانونه خلافت کې، پوځ، اداراتو او حتی خلیفه ته رسولي وه.

آخري عثماني خلیفه سلطان عبدالحمیدثاني"رح" او یهودي رهبر ډاکتر تیودر هرتزل

د۱۸۹۷م او ۱۹۰۰م کلونو په شاوخوا کې یو اتریش الاصله یهودی د ډاکتر تیودر ترهزل په نوم راپیداشو، لومړی یې د یهودي دولت په نوم یو کتاب ولیکه. تیودر هرتزل د صهیونیزم بنسټ اینښودونکی بلل کیږي، دی لومړنی سړی وه چې یهود یې د نړۍ له کونج_کونج راټول او فلسطین ته په راتګ او یهودي دولت جوړونې قانع کړل، نوموړي د اسلامي امت او عثماني خلافت پر ضد خطرناکه پلانونه طرحه کړل، پټ سازمانونه یې جوړ او یهود یې متحد او یوې جغرافیې په راټولولو قانع کړل.

لکه څرنګه چې یهود د نړۍ په ګوټ_ګوټ کې په پاشل شوې بڼه اوسیدل، واحده جغرافیه او سیمه یې نلرله ډاکتر تیودر هرتزل د نړۍ په ګوټ_ګوټ کې د یهودو په مشرانو وګرځېده او هغوی یې فلسطین ته په راتګ او هلته د یوه یهودي دولت په جوړولو قانع کړل.

ددې هدف د تحقق په لار کې د فرانسې، انګلیس او روس په شان ممالکو د مرستې وعدې ورسره وکړې، وروسته هرتزل پدې فکر کې شو چې د مسلمانانو خلیفه سلطان عبدالحمید "رح" سره ووینې.

لومړی هرتزل اخري عثماني خلیفه سلطان عبدالحمید ثاني"رح" ته د نیولنسکي په په لاس چې د ډومنه یهودو له ډلې وه او د سلطان "رح" سره یې نېږدې اړیکې درلودې خط ولیږه، چې د فلسطین غوښتنه یې پکې کړې وه.

په خط کې دا هم لیکل شوي وه چې موږ به شل میلیونه ترکي لیرې عثماني خلافت ته ورکړو دوه میلیونه د فلسطین د بیې په توګه او پاتې د قرضونو د خلاصون لپاره. سلطان عبدالحمید رح د نیولنسکي ته داسې ځواب ورکړ: خپل ملګري هرتزل ته ووایه چې پدې موضوع به نورې خبرې نه کیږي، ځکه ددې مقدسې ځمکې له یوې لویشتې هم لاس په سر کیدای نشم، دا زما ملکیت نده بلکې زما د ملت ملکیت ده، ددې ځمکې په خاطر زموږ پلرونو او نیکونو جګړې کړي او پخپلو وینو یې خړوبه کړې، یهود دې خپلې میلیونونه روپی له ځانه سره کیږدي، کله چې زما هېواد ټوټې_ټوټې شي نو هغوی ته به فلسطین له کوم عوض پرته ترلاسه شي، ولې ددې هېواد ټوټه_ټوټه کولو لپاره اړینه ده چې لومړی زموږ وجود ذرې_ذرې شي، البته موږ به په ژوند ځان ذرې_ذرې کولو ته ورنکړو!

کله چې تیودر هرتزل لدې لیک نامیده شو نو یې له خلیفه سره خپله د ملاقات تکل وکړ او دا ملاقات د خلافت په دربار کې پېټو ډومنه یهودو چې ځانونه مسلمانان ښودل ورته برابر کړ.

دا یو داسې وخت وه چې عثماني خلافت له سترو ننګونو سره مخ وه، اقتصادي مشکلات وه، نړیواله جګړه پیښیدونکې وه، عثماني بحري ځواک کمزوری شوی وه، خلافت قرضداره وه، له اروپایې صلیبیانو سره سترې_سترې جګړې روانې وې او اسلامي نړۍ د پاشل کیدو په حال کې وه.

ډاکتر تیودر هرتزل چې کله د خلافت دربار ته ننوت دا چې ډیره خوږه ژبه درلوده لومړی یې د عثماني خلافت او خلیفه پر وصف پیل وکړ، بیا یې خلیفه ته ویل چې قرضونه به مو در خلاص کړو، قرضونه به درکړو، پوهنتونونه به درته جوړ کړو، خپل تکړه او نخبه استادان به ستاسو په خدمت کې حاضر کړو، بحري ځواک به مو پیاوړی کړو، د اسلحو صنعت به در زده کړو او داسې ډیر نور پیشنهادات یې ورته وکړل.

لکه څرنګه چې فلسطین ستاسو د خلافت یوه برخه ده، تاسو دومره وکړی چې په فلسطین کې لږ ځمکه په موږ وپلورئ! لومړي قدم کې عبدالحمید "رح" کرار ورته ناست وه او دده یهودي خبرې او پیشنهادات یې اوریدل، هرتزل اول کې فکر وکړ چې د اسلام ستر خلیفه یې په خپل دام کې ښکیل کړ، وروسته پوه شو چې مکمل اسرار یې راڅخه وویستل! دا چې سلطان عبدالحمید ثاني "رح" دا مکارې ګیدړې (یهود) ډیر ښه پیژندل، ددوی له اهدافو باخبر وه، د امت یو غمخوار او د اسلام په روح یو پوه شخص وه، هرتزل یې له خپل درباره وشاړه، ویې راټه او ددوی دا پشنهادونه یې کلک رد کړل.

عبدالحمید ثاني "رح" د بیت المقدس په اړه داسې وویل: موږ ولې القدس پریږدو، دا ځمکه د ټل لپاره زموږ ملکیت پاتې شوې، او د تل لپاره به زموږ ملکیت وي، دا سپیڅلی ښار زموږ دی، زموږ په اسلامي خاوره کې پروت دی او اړینه ده چې القدس به د تل لپاره زموږ وي!\

بیا چې هرتزل بیرته اروپا ته لاړ خلیفه ته یې یو بل خط راولیږه چې پکې لیکلي یې وه: له ما سره ددې بدې رویې او سلوک بیه به د خپل په نړیدو درته تمامه شي!

یهود دې نتیجې ته ورسیدل چې د اسلام ددې باتور بچي په شتون کې فلسطین تر لاسه کول یو خوب او خیال دی، هماغه وه چې یهودو دا ځل د عثماني خلافت په نړولو پیل وکړ. د نولسمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې د عثماني ملت په لوستو ځوانانو کې د فرانسې د انقلاب له افکارو بشپړ اغیزمن شوي وه د کوم په پایله کې چې جمهوری حکومت رامنځته شوی وه، دغو ځوانانو د جمیعت الاتحاد والترقي په نوم یو حرکت پیل کړ چې یهودو یې پوره ملاتړ کاوه او دا حرکت یې لوړو پوړیو ته ورساوه، چې هدف یې د خلافت لغوه او د جمهوریت راوستل وه، دا حرکت د یهودي او ماسوني سازمانونو د لاس اله وه او پر مټ یې وکولای شول چې خلیفه استعفا ته اړ کړي او خلافت یې راوپرځاوه، خلیفه یې له کورنۍ سره له ترکیې وشاړه او ټول مال یې ترې راوګرزاوه.

سلطان عبدالحمید ثاني رحمه الله وروسته له ګوښه کیدو خپل استاد او لوی بزرګ شیخ ابوالشامات "رح" ته لیکي:

دې اتحادیانو له ما په زور وغوښتل چې زه د فلسطین پاکه خاوره کې د یهودانو لپاره ملي دولت جوړول ورسره ومنم، ما کلک انکار وکړ، په پای کې دوی ماته د "۱۵۰" میلیونه انګریزی سرو زرو لیرو د راکړې وړاندیز وکړ، دا وړاندیز مې هم ونه مانه او غوڅ ځواب مې ورکړ؛ که د ټولې نړۍ په اندازه سره زر هم راکړې نو بیا هم دا نه درسره منم.

ما د له دیرش کلونو زیات د اسلامي امت خدمت کړی دی، زه به هیڅکله د مسلمانانو تاریخ تور نکړم، زما لدې ځواب بعد دوی زما په ګوښه کولو سلا شول، راغلل او ماته یې وویل چې ما به د سلانیک په لور استوي، ما هغه وروستی ذمه واري ومنله، زه له الله تعالی څخه ددې شکر باسم چې د هغه په توفیق مې اسلامی نړۍ پدې تلپاتې شرم یعنې [د فلسطین په خاوره د یهودي دولت جوړولو منظوري] ککړه نکړه، په کوم چې خلکو زه اړ ایستلم.

****

پسرلی
د کرکیلې او صدقاتو موسم

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

هر مسلمان چې یوه ونه کېنوي او یا یو ثه وکري او بیا ترې، انسان، حیوان یا الوتونکی یو ثه وخوري نو دغه ټول ورته صدقه حسابیږي.

رواه البخاري



له صهيونستي توليداتو سره پريکون وکړئ!



مشهور متل دی چې وايي، اوبو وړی د اوبو په سر پروت څګ ته هم لاس اچوي چې ګونديې بچ شي، ريښتيا هم مونږ ټول داسې خړو اوبو په مخه کړي يو چې نه پوهيږو څنګه ځان وژغورو؟! شرايط داسې شوي دي چې د مادي اسبابو په لحاظ خو انسان ته يوازې ناهيلي پاتې کيږي، او ناهيلي له دې امله ده چې په هغه امت باندې چې د يو بدن حيثيت لري ډېر سخت مشکلات راغلي دي، خو د خلاصون لپاره يې هېڅ وس نشته، د وخت فرعون او ظالم د خپل زر او زور ټولې پخوانۍ پولې نړولې دي، مسلمان امت د اوبو هغه بې وزنه څګ ته ورته شوی دی چې نه يې څوک په حقيقي رنګ پوهيږي او نه ورباندې کوم لوبنی ډکېدای شي، يوازې يو شی چې انسان ته ډاډ او اطمينان ورکوي هغه د الله تعالی يو سنت دی.

د الله تعالی سنت دا دی چې د وخت جابر او ظالم د ټولو خلکو په مخ کې په يو ډېر واړه او بې وسه شيز باندې ماتوي او د نورو لپاره يې عبرت ګرځوي، کېدای شي دا کوچنی شيز يوه غوماشه وي، کېدای شي يوه کوچنۍ مرغۍ وي، کېدای شي يو بې ځانه سمندر وي او يا هم د بدر ميدان ته راغلي دوه تنه تنکي ځوانان وي چې د ابوجهل په لټون بوخت دي. همدا خبرې دي چې انسان هيله من کيږي چې کېدای شي د زر او زور، ظلم او جبر په دې زمانه کې به يا نن يا سبا يوه معجزه ښکاره کيږي، د وخت د نمرود په بدن به يوه غوماشه ننوزي او يا خو به د شپې راوتلی او ډار اخيستی موسی د الله تعالی په مرسته له دې امله د سمندر په غاړه ګرځي چې د فرعون ډوبېدو ته پيلامه جوړه کړي.

هر څوک تر خپل وس او توان پورې مسؤول دی، الله تعالی زمونږ نيتونو او هڅو ته ګوري، الله تعالی هېڅا ته د هغه د بد نيت له امله سزا نه ورکوي تر هغه وخته چې بد عمل يې نه وي کړی او برعکس په ښه نيت باندې اجر ورکوي اګر که ښه عمل يې تراوسه کړی هم نه وي.

دلته زمونږ هدف دا دی چې له نن وروسته يو ښه نيت وکړو، هڅه شروع کړو د امت د خلاصون او د ظالم د ظلم بندولو لپاره يوه مقدمه جوړه کړو، کېدای شي دا هڅې او نيتونه به باعث شي چې د ظلم او تورتم زولنې ماتېدل پيل کړي او يا همدا نيتونو او کوچنۍ هڅې په هغه ورځ د ځان د خلاصون لپاره د دليل په توګه رواړو په کومه ورځ چې انسان ته نور هېڅ ګټه نکوي، پرته له هغو چې مخکې يې کړې وي. له نن ورځې څخه مونږ غواړو چې د صهيونستي مالونو او توليداتو سره پريکون اعلان کړو، او پر ځای يې د خپلو اسلامي هېوادونو مالونه او توليدات استفاده کړو.

ولې بايد پريکون وکړو؟

له ديني اړخه مال د امتحان وسيله ده، الله تعالی فرمايي:

وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ

(الانفال: ٢٨)

او وپوهيږئ چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه په حقيقت کې د آزميښت وسايل دي، او له الله سره د اجر ورکولو لپاره ډېر څه دي.

نو کله چې مال د امتحان وسيله وي او انسان ورباندې امتحان کيږي، بايد چې متوجې شي چې د الله تعالی ورکړی مال چېرې مصرفوي، مهمه نده چې په ميليونونو مصرف وي يا د يوې روپۍ مصرف وي، مهمه دا ده چې آيا په غلطه لاره مصرفيږي يا په سمه لاره؟ بيا دلته خو دا هم مهمه ده چې آيا دا پيسې خو به هغه صهيونستانو ته نه ورځي چې شپه او ورځ يې يوه کړې ده او د مسلمانانو پر ضد راوتلي دي، نه د زر لاره پريږدي او نه د زور، په هر ډول چې مسلمان امت ذليل کيږي دوی يې هڅې کوي او په هر ډول چې مسلمان امت ته تاوان رسيږي دوی هماغه لاره انتخابوي. د مسلمانانو د زيرمو لوټل او د هغوی په سر او مال تجارت کړل خو د صهيونستانو د ورځنيو چارو يوه مهمه برخه جوړوي.

له صهیونستي تولیداتو سره په پریکون کې تر هر څه مهم دا دی چې مونږ دا نیت وکړو چې دا صهیونستي تولیدات دي، صهیونستان (یهود، نصارا او نور کفار) د الله تعالی دښمنان دي، له بله پلوه زمونږ د ولاء او براء په معیار کې د الله تعالی دښمن زمونږ دښمن او د الله دوست زمونږ دوست حسابیږي، نو د خپل ایماني غیرت له مخې مونږ ته لازمه نده چې له دې څخه استفاده وکړو او یقینا چې کله د الله لپاره له یو څه څخه ځان ساتو نو دې سره ایمان بشپړیږي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

مَن أحبَّ للَّهِ وأبغضَ للَّهِ، وأعطى للَّهِ ومنعَ للَّهِ فقدِ استَكْملَ الإيمانَ.

(رواه ابو داود)

چا چې د الله لپاره محبت وکړ او د الله لپاره یې نفرت وکړ، د الله لپاره یې (یو څه) ورکړل او د الله لپاره یې (یو څه) ورنکړل، نو په حقیقت کې هغه خپل ایمان بشپړ کړ.

کله چې مونږ دا ومنو چې د ظالمو او غاصبو صهیونستانو د مالونو مصرف کول او په خپلو ګټل شوو پیسو د هغوی تجارت یا برانډ ته وده ورکول په حقیقت کې له خپلو هغو مظلومو، ورڼو او ترڼو ورونو سره خیانت دی، کوم چې د همدغه ظالمانو له لاسه دې حالت ته رسېدلي دي، باید چې په ټول توان سره هغه صهیونستي تولیدات وپېژنو کوم چې زمونږ په هېواد کې لاهم خرڅیږي او تجارت یې روان دی، بیا باید د هغوی بدیل پیدا کړو او د خلکو ترمنځ یې مشهوره کړو چې د صهیونستي تولیداتو پرځای د خپل وطن تولیداتو ته زیات ارزښت ورکړي او په دې ډول زمونږ پاک هېواد له صهیونستي تولیداتو څخه هم پاک کړو. یادونه باید وکړو چې د اسلامي نړۍ په منځ کې افغانستان او په ټوله کې د پښتنو سیمې تراوسه دې برخې ته هېڅ متوجې ندي او ډېر کم کار یې ورته کړی دی، برعکس د نورې نړۍ د با احساسه مسلمانانو د پریکون له امله په ډېرو هېوادونو لکه سعودي عربستان، اندونیزیا، مالیزیا، پاکستان، ترکیه او نورو هېوادونو کې صهیونستي شرکتونو په میلونونه ډالره تاوان کړی دی او له دغه هېوادونو د خپلو ناپاکو نماینده ګیو ایستلو ته اړ شوي دي.

د مثال په ډول له هغه وروسته چې د مک ډونالډز (McDonald's) په نوم د خوراکي موادو لوی صهیونستي شرکت د طوفان الاقصی د عملیاتو په لومړیو ورځو کې اعلان وکړ چې اسرائیلي اشغالګرو او د هغوی جنګېدونکو عسکرو ته به په وړیا ډول خپل خوراکي محصولات ورکوي، نو په نړۍ کې د مسلمانانو له سخت غبرګون سره مخ شو او په ترکیه، اندونیزیا او مالیزیا کې یې په لسګونه څانګې وتړل شوې.

له پریکون وروسته دغه شرکت ته د پام وړ زیانونه ورسېدل، د بي بي سي د یوه راپور له مخې چې د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ په ۵ مه نېټه نشر شو، ښودل شوي وو، چې د تېر په پرتله د مک ډونالډز شرکت خرڅلاو کې د پام وړ کموالی راغلی دی او دا کموالی په منځنی ختیځ، اندونیزیا او مالیزیا کې تر نورو زیات او د پام وړ وو، نه یوازې په اسلامي هېوادونو کې بلکې په غیر اسلامي هېوادونو کې هم خلکو پریکون کړی وو چې د ځینو رسنیو لکه، د ایران انګلیسي


Reuters

World Business Markets Sustainability Legal Commentary More

Free meals for Israeli soldiers divide McDonald's franchises

By Pesha Magid

October 17, 2023 7:05 PM GMT · Updated October 17, 2023

Israeli customers at a McDonald's restaurant in Tel Aviv March 2, 2006. REUTERS/Ronen Zvulun/File Photo Purchase Licensing Rights

RIYADH, Oct 17 (Reuters) - McDonald's (MCD.N) franchises in some Muslim countries disavowed a move by the company's Israeli restaurants to give free meals to the Israeli military, highlighting the

د مک ډونالډز په واسطه اسرائیلي عسکرو ته د وړیا محصولاتو د وېشلو په اړه د رویټرز خبري آژانس راپور

ژبي «پرس تلويزون»، د «نيونيوز» په نوم رسنۍ او د ځينو نورو خبري ويب سايټونو د ناتائيد شوو راپورونو له مخې چې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ د مياشتې په ۲۱ مه نېټه نشر شول، پکې ويل شوي وو چې د مسلمانانو د پريکون له امله د «McDonald's» شرکت لږ تر لږه ۷ ميلیارده ډالر زيان کړی دی.

دلته مونږ د مثال په ډول د «مک ډونالډز» شرکت نوم راوړو، خو حقيقت دا دی چې د نړۍ اکثره لوی شرکتونو چې د خپل تجارت يوه لويه برخه يې په اسلامي خاورو کې روانه ده، د صهيونستانو په ځانګړې توګه د اسرائيلو اشغالګرو سره پوره همکاري لري، د مثال په ډول کولای شو د الجزيرې شبکې يوه تحقيقي راپور ته اشاره وکړو چې

ښکاره ويلي دي چې له اسرائيلو سره ولاړ دي، ۳۵ شرکتونو په ښکاره توګه اسرائيليانو ته مرستې ورکړې دي، او ۲۶ شرکتونه داسې دي چې دواړه لورو ته يعنې هم اسرائيليانو ته مرستې ليږلې هم د غزې خلکو ته (يادونه بايد وکړو چې تولو ته معلومه ده چې د غزې او يا په ټوله کې د فلسطين خلکو ته مرستې له دې امله نشو رسېدلای چې صهيونستانو اکثره وخت د هغوی لارې تړلې وې، نو دواړو لورو ته له مرستې څخه زياته ګټه اسرائيليانو ته رسېدلې ده.) د دغه ۲۱۲ شرکتونو له منځه يوازې درې شرکتونه داسې دي چې يوازې فلسطينيانو ته يې مرستې ليږلې دي. لدې راپور ښکاري چې زمونږ په پيسو پرسېدلې شرکتونه خپلې پانګې د چا په ګټه مصرفوي؟

صهيونستانو تجارت ته لا وده او شهرت ورکړي نو افغانان خو تر ټولو مخکې بايد دا کار وکړي، که د نورو قومونو لس فيصده خلک پريکون کوي د افغانانو ۹۰ سلنه خلک بايد پريکون وکړي، ځکه چې لومړی خو افغانان د خپل غيرت او اسلامي اخوت او همدردۍ له مخې خورا ښه مخينه او خورا ښه نوم لري، نو د خپلو ورونو سره همدردۍ لپاره تر ټولو کم کار دا دی چې حداقل زمونږ پيسې د هغو خلکو لاس ته ونه لوېږي کوم چې له اسلامي اندلس څخه شروع د جنوبي آسيا او سليمان ټاپوګانو تر لرې پرته سيمو پورې د مونږ د مسلمانو ورونو په قتل عام کې ښکېل دي او له بل پلوه له تېرو څه باندې سلو کلونو راهيسې د افغانانو هېواد د همدغه صهيونستانو، د

From this list, Al Jazeera categorised the 212 companies according to the following criteria:

- Denounced Hamas's October 7 attacks (184 companies)
- Said they "stand with Israel" (62 companies)
- Pledged money to Israel or Israeli groups (35 companies)
- Pledged money to aid groups specifically for Palestine (3 companies)
- Pledged money to international aid groups (26 companies)

Of the 212 companies on Sonnenfeld's list, at least 30 made financial pledges to Israel and its affiliated groups. Some of the largest pledges include: Michael Bloomberg ($25m), Jefferies ($13m), Blackstone ($7m), Salesforce ($2.4m), Boeing ($2m), Disney ($2m), Johnson & Johnson ($2m) and several companies pledged to match employee donations.

پکې يې د ۲۱۲ شرکتونو څېړنه کړې ده.

په راپور کې ښکاري چې د ۲۱۲ شرکتونو له منځه ۱۸۴ شرکتونو د طوفان الاقصی مبارک عمليات غندلي، ۶۲ شرکتونو په

دا چې د نوري نړۍ قومونه د صهيونستانو د ظلمونو، وحشتونو او شيطاني کړنو له امله د هغوی له توليداتو سره پريکون اعلانوي او نه غواړي د خپل جيب په پيسو د

هغوی د ملاتړو، متحدينو او غلامانو له لاسه کرېږي. نو بايد چې مونږ تر نورو خلکو او قومونو زيات متوجې وو او د صهيونستي توليداتو پرځای د خپل هېواد يا

نورو اسلامي هېوادونو تولیدات واخلو او د هغه د کیفیت او کمیت په ښه کولو کې خپل ونډه واخلو.

په وروستیو کې یو ځل بیا یادونه کوو چې د صهیونستي تولیداتو سره پریکون او د هغه نه اخیستل زمونږ اسلامي، ایماني، اخلاقي او انساني وجیبه ده، د هغوی پر ځای باید د خپل هېواد او د نورو هېوادونو بدیل وپېژنو او هغوی ته شهرت، وده او اولیت ورکړو، زمونږ ګران هېواد د نورو قومونو په پرتله د پریکون له اړخه وروسته پاتې دی، په داسې حال کې چې د خپل نوم او غیرت له مخې باید تر ټولو مخکې وای. په هغه جهان کې چې د دنیوي اسبابو له مخې مونږ ته یوازې ناهیلي پاتې ده نه باید خپلې دا هڅې کوچنی او بې اغیزې وګڼو، ځکه چې د الله جابر او فرعون ته یو بې وسه موسی لیږي، د وخت نمرود په یوه غوماشه هلاکوي او د وخت ابوجهل د دوه تنو تنکي ځوانانو په عقابي پنجو کې ښکېل کوي او د خپل غرور، شهرت او ځواک په اوج کې یې د نورو لپاره عبرت ګرځوي.

په راتلونکو صفحو کې زمونږ په ګران هېواد کې د خرڅېدونکو صهیونستي تولیداتو لېست خپرېږي ترڅو زمونږ ګران هېواد وال هغوی وپیژني او له اخیستلو څخه یې ډډه وکړي. الله تعالی د مونږ ته همت راکړي چې لږ تر لږه خپلې ګټل شوې پیسې په خپلو وطني تولیداتو او یا په هغو تولیداتو ورکړو چې په اسلامي هېوادونو کې تولیدیږي او د دین، امت او مظلومانو د ملاتړ لپاره له صهیونستي تولیداتو سره پریکون وکړو. آمین.





د صهیونستي تولیداتو لېست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

د خوراک او څښاک توکي




آیسکریم



اوبه

ROSHEN
خواږه او چاکلیټ



نوشابه



د قهوې لپاره



د ماشومانو سیرلاک

Cadbury
خواږه او چاکلیټ



خواږه او چاکلیټ



وچې شیدې



چپس

Coca-Cola
نوشابه

Barbie
خواږه او چاکلیټ



خوراکي



خواږه او چاکلیټ

HERSHEY'S
THE HERSHEY COMPANY
خواږه او چاکلیټ



نوشابه



بیسکویټ



خواږه او خوراکي



چای



چپس



پاپړ

MIRINDA
نوشابه



جوس



تیارې شیدې او د شیدو مواد

m&m's
خواږه او کاکاو

SUBWAY
د خوراک او څښاک شیان

Strepsils
یو ډول دوا

nutella
خواږه او خوراکي مواد

د صهيونستي توليداتو لېست چې بايد ورسره پرېکون وکړو!

د خوراک او څښاک توکي



انرژي



نوشابه



قهوه



د ماشومانو وچې شيدې



وچې شيدې



خواږه او بېسکويټ



خوراکي



خواږه، پيرني



بسکويټ



نوشابه



چپس او پاپړ



خواږه او کاکاو


McDonald's
فاست فود



انرژي



خواږه او کاکاو



نوشابه

جامې، پاکونکي او سينګار توکي



جامې او سمسارې



جامې او پايزار



د کالي مينځلو صابون



جامې، پايزار او نور



عطر او خوشبويي



شامپو



خوشبويي



پايزار او ماشينري



جامې، پايزار او نور

د صهیونستي تولیداتو لېست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

جامې، پاکونکي او سینګار توکي



دتشناب تیزاب



پاکونکي او خوشبو



صابون، شامپو او کریم



پاکوونکی

closeup

دغاښو کریم



دغاښو کریم او برس



کالیو مینځلو پوډر



جامې او پایزار



شامپو

Gillette

دویښتانو د صفایي وسایل

MARKS & SPENCER

جامې او سمساري



صابون او نور

L'ORÉAL

شامپو او نور



دبدن بوی ضد

PANTENE

شامپو او نور



دماشومانو پمپر



دمخ او بدن کریم



جامې، پایزار او نور



دتشناب تیزاب



ظرف شویي



دسپورت جامې



صابون، شامپو او نور



دغاښو کریم، برس او نور



دتشناب تیزاب



سمساري مواد



شامپو او صابون



شامپو او نور



صابون او نور مواد

REVLON

شامپو او دویښتانو رنګ



دکالیو مینځلو پوډر



واسلین، کریم او دپوست ساتونکي



جامې

د صهیونستي تولیداتو لېست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

جامې، پاکونکي او سینګار توکي



GARNIER

د پوستکي او وېښتانو اړوند شیان

Johnson&Johnson

د ماشومانو شامپو او صابون

TOMMY HILFIGER

جامې او پایزار



جامې

COLGATE-PALMOLIVE

د خولې او غاښونو اړوند

د برقي وسایلو، قرطاسيې او ځینو نورو اجناسو کمپنۍ

IBM

amazon



intel

NOKIA

BRAUN









NESPRESSO



Mercedes-Benz



metacafe



CALTEX



NVIDIA







MOTOROLA



Microsoft

Pelikan



SIEMENS

ORACLE





NATIONAL GEOGRAPHIC

PayPal

Google

LINC PENS

PARKER EST. 1888

Schneider Write it





په اسلامي تاریخ کې داسې پېښې هم شوې دي، چې د جهاد او سربښندنې په لومړي صف کې جنګېدونکو ځینو مجاهدینو به له فتحې وروسته دا فکر وکړ، چې نور نو جهاد ختم شو او مونږ به خپل عادي ژوند ته ور وګرځو، خپل تجارت، زراعت یا بل هر کسب چې پخوا یې د جهاد په وجه پرېښی و، خو د الله تعالی سنت او طریقه داسې نه ده، الله جل جلاله جهاد د نورو عباداتو په څېر نه دی ګرځولی، چې د بنده ګانو له ذمې څخه په یو وخت کې ساقط شي. یعني نه لمونځ دی، چې په ورځ کې پنځه ځله فرض دی، نه روژه ده، چې په کال کې یې یوه میاشت نیول فرض دي، نه زکاة دی، چې پر صاحبِ نصاب باندې په حولانِ حول سره فرض ګرځي او نه هم حج دی، چې په ټول عمر کې په مالدارو خلکو یو ځل فرض دی، بلکې دا فرض پر هر بالغ مسلمان چې شرعي عذر ونه لري، دائمي فرض دی.

دا فکر چې جهاد هم شاید ساقط ګرځي په خیر القرون کې او د نبي الملاحم صلی الله علیه وسلم په لښکر کې هم د مکې مکرمې له عظیم الشانه فتحې وروسته په ځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم کې پیدا شو، چې هماغه مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې فکري ناروغۍ علاج وکړ او ویې فرمایل:

کذب؛ الآن الآن جاء القتال

هغه دروغ وايي؛ اصلي قتال اوس پیل شو

دا جمله یوازې د یوې شیبې خبره نه وه، بلکې د یوه شرعي دریځ او مفکورې بنسټ او اساس و، چې امت ته یې له فتحې وروسته له خپلې سلاح، داعیې او هدف څخه د غفلت نه کولو درس ورکړ. د اسلام تاریخ شاهد دی، چې مسلمانان تل هغه وخت له ماتې سره مخ شوي دي، چې همدا مصطفوي ﷺ پیغام یې هېر کړی وي او یوازې د بریا په نغارو او شعارونو یې ځانونه تېر ایستلي وي، له همدې امله یې نظم کمزوی شوی وي، صفونه یې ګډوډ شوي وي او د مسئولیت احساس یې د احساساتو او خوښیو قرباني شوی وي.

دا زرینه جمله خو یوازې د بدر، احد او فتح مکې د ګډونوالو غازیانو له پاره نه وه، بلکې د امت د هر مجاهد له پاره ده. امت هغه وخت نه لوېږي، چې دښمن یې ځواکمن وي، بلکې هغه وخت لوېږي، چې خپل ځان ته درواغ ووايي، چې ګواکې خطر کم شوی دی، امتحان پای ته رسېدلی دی او نور نو قربانۍ ته اړتیا نشته.

نن چې الحمد لله په افغانستان کې له شل کلن اشغال څخه د بې شمېره قربانیو په بدل کې ازادي اخیستل شوې ده او د الله تعالی د دین کلمه لوړه ده، دلته هم مجاهدین له همداسې حالته تېرېږي، نو دا ډېره اړینه ده، چې هر مجاهد د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مبارک قول په ذهن کې وساتي، چې اصل د جهاد میدان اوس پرانیستل شوی دی، د اسلام د غالب راوستلو او د کفر د ځپلو له پاره اوس زمینه مساعده شوې ده او افغانستان د اسلام او مسلمانانو یوه ارامګاه او مرکز د جوړولو فرصت اوس مهیا شوی دی، نو پورته خبرو ته په نظر کولو سره په کار دی، چې هوش سنبال کړو، خپل هدف ته متوجه شو او له دې عظیم نعمت څخه داسې استفاده وکړو، څنګه چې یې حق دی، تر څو هم د الله تعالی په وړاندې خپل مسئولیت په اکمله معنی سره ترسره کړو او هم مو خپلو نسلونو ته د استقلال او آزادۍ رښتینی تاریخ جوړ او پرېښی وي.

و ما ذالک علی الله بعزیز

په شام کې د جهاد راتلونکی ۱

استاد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق

د بت شکن اداري یادونه

په شام کې د جهاد راتلونکی په نوم لیکنه د عالم او مجاهد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق سره د النازعات اداري د یوې مصاحبې لیکل شوې بڼه ده، چې پکې یې ځینې واقعیتونو ته اشاره کړې ده، نه یوازې د شام بلکې د نورې نړۍ مسلمانانو ته هم پکې نصیحتونه او پندونه شته دي، په دې لیکنه کې هڅه شوې څو د شام او په ټوله کې د ټول امت اسلامي مشران وهڅوي چې د خپلو مسلمانو وروڼو او مجاهدینو سره ریښتیني وه اوسي، د کفارو او نورو سیکولر هېوادونو له غیرې څخه لرې وه اوسي او پکې یې نورو ډېرو ګټورو خبرو ته هم اشاره کړې ده، د بت شکن اداري دا لیکنه په پښتو ژباړلې ده او له خپلو لوستونکو څخه هیله لري چې له افراط او تفریط، جذبې او احساساتو څخه لرې او تېرو تاریخي واقیعتونو ته په کتلو سره دا لیکنه په سړه سینه ولولي، مونږ له هېچا سره هېڅ ډول شخصي دوښمني نلرو، نو چې هر څه وي یوازینۍ هیله به مو دا وي چې د امت خیر پکې نغښتی وي او په واسطه یې وکولای شو د جهاد پاکه لاره همداسې پاکه وساتو او په دې لاره کې د بهېدونکو وینو سره له خیانت څخه خلک راوګرځوو.

بسمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الحمد لله رب العالمين، ولا عدوان إلا على الظالمين، والصلاة والسلام على رسولنا الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

النازعات اداره:

له نن څخه شاوخوا یوه نیمه میاشت وړاندې زمونږ معززو مجاهدینو وروڼو د شام هیواد سیمې د نصیري حکومت له ولکې څخه آزادې کړې او له حلب، حماة او حمص څخه نیولې تر دمشق، طرطوس، لاذقیې او د سمندر تر ساحلي سیمو پورې اسلامي مرکزونه یې د بشار الاسد له ظالمانه نظام څخه آزاد کړل.

په روانه میاشت کې په شام کې داسې پېښې او پیچلي بدلونونه په ډېرې چټکۍ رامنځته شول چې ډېرې مجاهدین او د شام په محاذ کې د ازادۍ له پاره جنګېدونکي کسان یې حیران کړل او د دې مرحلې په درک کولو کې د ګډوډې او تذبذب ښکار شول، چې له امله یې د جهادي او اسلامي فکر او عمل په ډګر کې ګنې پوښتنې راولاړې شوې او انقلابي بحثونه پیل شول او بیا دا اړینه وګرځېده چې هغه کسان چې د علم، ایمان، جهاد او دعوت الی الله ځانګړنې لري، د مؤمنانو په زړونو کې یقین ټینګ کړي او د هغو کسانو له زړونو څخه چې د اسلام له نصرت سره تړلي دي، نااميدي او اضطراب لرې کړي، تر څو وکولای شي د شام پر ټوله خاوره د دینِ اسلام د ملاتړ او د شام د معززو خلکو د عزت او ساتنې له پاره ځنډېدلي ګامونه بېرته منظم کړي او دلته له شام څخه زمونږ موخه د شام لویه تاریخي سیمه ده؛ یعني له دمشق څخه تر مسجد اقصی او د ټول فلسطین تر خاورې پورې.

د دغو پېښو په اړه د خبرو له پاره مونږ د خپل معزز ورور استاد عبدالعزیز الحلاق حفظه الله د کوربتوب کولو ویاړ لرو. استاد عبدالعزیز الحلاق حفظه الله د جهادي، دعوتي او شرعي سیاست په چارو کې مهارت لري، هغه زمونږ بلنه ومنله تر څو په دې مکالمه کې ګډون وکړي او په عمومي ډول به په شام او په ځانګړي ډول په سوریه کې، د جهاد او دعوت پر راتلونکي بحث او د نظر تبادله وکړي. همدارنګه به پر هغو مهمو موضوعاتو هم رڼا واچول شي چې دا مهال د مرابطو مجاهدینو ترمنځ او د عامو خلکو په مجلسونو کې پرې تودې خبرې روانې دي. دا مکالمه به عموما د هغو کسانو له پاره ګټوره وي چې له دعوت الی الله او فی سبیل الله جهاد سره لېوالتیا لري او په ځانګړي ډول به د مجاهدینو او داعیانو له پاره اغېزمنه او الهام ښونکې وي. مونږ له الله تعالی څخه مرسته او توفیق غواړو.

مونږ خپله وینا د خیر له کلمې سره پیلوو: محترم ابو اسامه عبدالعزیز الحلاق صاحب! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، مونږ تاسې ته په دې لیدنه کې هرکلی وایو، چې په کې به د شام د دعوتي او جهادي ډګر اړوند تر ټولو مهمې علمي، فکري او منهجي پوښتنې وڅېړو او له هر څه وړاندې، مونږ تاسې ته د دې پرېکنده بریا مبارکي وایو او له همدې ځایه له تاسې سره خپله مکالمه پیلوو. نو اې ابو اسامه! مونږ تاسې ته د هغې سترې فتحې مبارکي وړاندې کوو چې الله تعالی مونږ ته او زمونږ امتِ مسلمه ته د جهاد په برکت راکړه. مونږ له الله تعالی څخه دعا کوو چې مونږ ته د مسجد اقصی او د ټول فلسطین فتحه

هم را په برخه کړي، هغه د غاصبو صهیونیستانو له منګولو خلاص کړي او زمونږ سترګې پرې یخې کړي. آمین.

استاد عبدالعزیز الحلاق: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، زما ګرانه وروره! الله تعالی دې تاسې ته برکت درکړي. زه دعاء کوم، چې الله تعالی تاسې ته د دې نېکې بلنې، مېلمه پالنې او ښه ګومان غوره بدله درکړي. ربښتیا دا ده چې زه یوازې دومره وینم چې تاسې زما په اړه له اندازې ډېر ښه ګومان کړی دی. نو ځکه زه حق لرم چې ستاسې په اړه د متنبي دا بیت ووایم:

زه دا ټولې ستاینې په ربښتینې مینې سره بېرته تاسې ته درګرځوم

ځکه د ستاینې وړ هماغه کسان دي چې دا ځانګړنې په ربښتیا په کې موجودې وي

زه تاسې ته د همدې سترې نېکمرغۍ مبارکي وایم، چې الله تعالی د ظالم بشار الاسد د حکومت له پای ته رسېدو سره د شام مسلمانانو او زمونږ ټول امتِ مسلمه ته ورکړه. نو ټولې ستاینې یوازې د الله له پاره دي، ځکه د هغه په فضل او کرم سره نېک کارونه سرته رسېږي. مونږ د الله له مهربانه ذاته، د عظیم عرش له ربه غواړو چې د خپلو مجاهدینو ورونو په لاس د شام ټولې سیمې له اشغالګرو طاغوتونو څخه آزادې کړي او د سوریې پر ټوله خاوره په بشپړه او هر اړخیزه فتحه زمونږ خوښي پوره کړي.

د مرکې مدیر: محترم استاده! مهرباني وکړئ مونږ ته د سوریې (شام) د آزادۍ او فتحې په اړه له خپل نظره وضاحت راکړئ؛ هغه فتحه چې زمونږ مخې ته یې د اموي فاتحو قوماندانانو د عظمت خاطرې را ژوندۍ کړې. تاسې دا ستره فتحه څنګه ارزوئ او دا زمونږ تېر عظمت څومره له نننۍ شانداره حالت سره تړي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: ګرانه وروره! په دې کې هېڅ شک نشته چې څوک د دې مجرم نصیري حکومت په پای ته رسېدو خوشحال نه وي، د هغه په زړه کې د ایمان ذره هم نشته. همدارنګه په دې کې هم شک نشته چې د «ردع العدوان» د مبارکې معرکې پر مهال زمونږ د ورونو او خویندو د آزادۍ صحنې، د ظالم نصیري طاغوت له واکمنۍ د هېواد خلاصون، د شام پر خاوره د الله د کلمې سربلندي، د شرک او کفر ماتې، د خلکو د ازادۍ او عدالت په فضا کې د ساه اخیستلو فرصت او د دعوت الی الله او د هدایت د ربړا دروازې پرانیستل، مونږ پر دې ټولو نعمتونو د الله تعالی بې حده شکر اداء کوو او ټول مسلمانان پرې له زړه خوښي څرګندوي. دا ټول د الله په لاره کې د جهاد له سترو موخو او پایلو څخه دي، چې یوازې د الله په فضل ترلاسه شوي دي او دا نعمتونه د امتِ مسلمه له پاره د جهاد له سترو برکتونو شمېرل کېږي. دې منزل ته د رسېدو له پاره، د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه د امت ډېرو زامنو برخه واخیسته، شتمنو په خپلو مالونو، علماوو او داعیانو په خپلو دعوتي هڅو، مجاهدینو په خپلو ځانونو او وینو او د مظلوم امت عامو خلکو په خپلو دعاوو، آهونو او زاریو سره تر دې منزله د رسیدو له پاره ونډه واخیسته. دلته باید هېڅکله د غزې مجاهد ورونه او زمونږ د سر تاجونه، د «کتائب القسام» اتلان هېر نه کړو؛ ځکه د الله له مرستې وروسته همدوی وو چې د «طوفان الاقصی» مبارکه معرکه یې پیل کړه او هغه تر ټولو اغېزناک لامل یې رامنځته کړ چې په پایله کې د سوریې د پوځي عملیاتو د قوماندانانو په مشرۍ د «ردع العدوان» طوفان راپورته شو. الله دې هغوی ته بریا ورکړي. الله تعالی دې هر هغه چاته چې د دې سترې فتحې په تیاریو کې یې برخه اخیستې، د خیر بدله ورکړي او مونږ له الله څخه غواړو چې د خپلو وفادارو بندګانو له پاره د دې فتوحاتو پایلې خوندي وساتي او له ظلم څخه د هېواد او ولس د خلاصون له پاره د في سبیل الله جهاد او د شامي انقلاب د بشپړولو توفیق ورکړي.

خو د دسمبر د اتمې (یعني د دمشق فتحې) په اړه زما شخصي نظر دا دی، نو زما ګرانه وروره، ماته اجازه راکړئ چې د خلکو له مبالغې سره لږ اختلاف څرګند کړم. زه وېره لرم چې دا زیاتې مبالغې به د سوریې د خلکو شعور او بیداري کمزورې کړي او د دمشق فتحه به له خپل واقعي او حقیقي انداز څخه ډېره لوړه وښیي. بېشکه د نصیري طاغوت له ولکې د دمشق آزادېدل د اهلِ اسلام له پاره ستره بریا ده، خو دا هغه بشپړه او عزتمنده فتحه نه ده چې د اسلام مشران یې هر وخت او هر ځای هیله لري. حقیقت دا دی چې د سوریې خاوره لا هم د نړیوال تسلط او نړیوالې غلامۍ تر بار لاندې ساه اخلي او لا هم د نړیوال نظام د زورواکو تر رحم و کرم لاندې ده او د هماغو نړیوالو بادارانو تر نفوذ لاندې ده چې پخوا یې نصیري طاغوت پر مونږ مسلط کړی و او نژدې نیمه پېړۍ یې ساتلی و.

ربښتیا دا ده، ګرانه وروره، چې دا فتحه یوه جزوي فتحه ده، نه هغه بشپړه او وروستۍ بریا چې تر هغې وروسته بله بریا نه وي لکه څنګه چې خلکو ګڼلې ده. هر عادل تبصره کونکی پوهېږي چې دا فتحه د خالص جهادي ځواک له لارې نه ده راغلې، بلکې د صلیبي-صهیوني استعماري پروژې او د شرعي جهادي پلان د موقتي همغږۍ په نتیجه کې رامنځته شوې ده. هغوی د خپلې برلاسۍ تر سیوري لاندې مجاهدینو ته دا اسانتیا برابره کړه چې موخه ترلاسه کړي او هغوی یې د یوې ستغې چوکۍ په څېر وکارول تر څو د سیمې نور هغه لوبغاړي کنټرول او مجازات کړي، چې د دوی د سرو کرښو خیال نه ساتي. نړیوال کفر خو بس مجاهدینو ته پر مانۍ او ځوکۍ د واک تر لاسه کولو زمینه مساعده کړه او د هغه ځمکو د نیولو لاره یې ورته هواره کړه، چې دوی مخکې خپلو غلامانو ته ورکړې وې، خو هغوی د دوی ټاکلو شرائطو ته ژمن پاتې نه شول، نو کله چې مجاهدین واک ته ورسېدل، لوېدیځ د خپلو زړو او ناپاکو لارو په وسیله د هغوی مهارول پیل کړل؛ د ګواښ او تطمیع له لارې یې د هغوی پر عقیدې فشار راوړ، د هغوی ډېری پوځي او ستراتیژیک امکانات او د غنیمت مال یې له تباه کړ، هغوی یې حیران کړل، چې دا په اصل کې د شامي عوامو ملکیت و او د مجاهدینو د کړنو د ثمار له پاره او د هغوی پر اقداماتو د واک راوستلو له پاره یې په خپله سر پرستي کې د جائیداد د مالک کردار اداء کړ او د خپلو مطلوبو رعایتونو د سطحې اندازه یې ولګوله. اې کاش دوی په همدې بسنه کولای، خو دوی د مجاهدینو سپکاوي ته دوام ورکړ، د هغوی عزت او غیرت ته یې سپکاوی وکړ او هغوی یې د خپلو اصولو او منهج پرېښودو ته اړ کړل، څکه نو هغوی د دوی خوا ته د جرمني همجنس پرستو طوائفو ښځو یوه ډله ولېږله، چې د مجاهدینو قائد له خپلې عقیدې او اصولو څخه واړوي. کله چې هغه د مجاهدینو تر واکمنۍ لاندې سیمې ته ورسېده، نو هغوی یې له خپلو اصولو څخه اړولو ته وهڅول، پر هغوی یې اقتصادي دروازې وتړلې او اخطار یې ورکړ، چې تر هغه وخته به دوی ته خیرات ور نه کړي، تر څو چې د دوی احکاماتو ته سر ټیټ نه کړي او غوښتنې یې ونه مني. نو مونږ په کومه عظیمه فتحه ځان ته فریب ورکوو؟

زه په بشپړ وضاحت وایم، چې د سوریې مجاهدین چې نن په دمشق کې د حکمراني په منظر نامه کې واکمني کوي او د صهیوني-صلیبي نړیوال تسلط تابع دي، هغه چې دوی ته یې ددې فتحې د حاصلولو فرصت ورکړی دی. او د دمشق د واکمن قیادت خپل ځان پر اسلامي امارت ور قیاسول، نه یوازې ناسم دي، بلکې یوازې فریب ده. د افغانستان یوه ربښتینې انقلابي جهادي فتحه وه چې په نتیجه کې یې یو آزاد قوت پیدا شو، داسې ځواک چې په لاسونو کې یې ځنځیرونه نه وو، څکه هغوی نړیوال نظام په افغاني چکړ کې را ګیر کړ او له ښه ستړي کولو وروسته یې د خپلې خوښې مطابق یو نظام جوړ کړ. زما ګرانه وروره! زه دا خبره نه ردوم، لوېدیځ به مجاهدینو ته یو څه وخت ورکړي چې د «ترهګرۍ ضد جګړې» په ازموینه کې یې وازمویي، څکه نو هغوی له دوی سره د ځواک دا حاشیه پرېښې ده، چې وګوري، دوی څه کوي؟ او هغوی دا خبره په ښکاره مجاهدینو ته کړې ده، چې: «مونږ ستاسې خبرې اورو، خو ستاسې عملونه به ګورو.» او دلته باید مجاهدین په یاد ولري، چې د دوی رب هم همدا خبره ورته کړې ده.

قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ۝ (سورة الأعراف:۱۲۸-۱۲۹)

«موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل:«له الله څخه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ، څمکه د الله ده، د الله چې چاته خوښه شي، د هغې وارث یې ګرځوي؛ او وروستۍ کامیابي د پرهېزګارانو په برخه ده.» د هغه د قوم خلکو وویل:« ستا له راتګ څخه مخکې هم مونږ ځورول کېدو او اوس ستا له راتګ سره هم ځورول کېږو.» هغه ځواب ورکړ: «هغه وخت نژدې دی چې ستاسې رب، ستاسې دښمنان هلاک کړي او تاسې ته په څمکه کې خلافت درکړي. بیا وګوري چې تاسې څنګه عمل کوئ.»

د مجاهدینو ډله به یقینا د غرب په ازمایښونو او امتحاناتو کې ناکام شي، که مجاهدین پر خپل دین او اصولو ټینګ پاتې شي، نو لوېدیځ به هغوی ته هماغه سور څراغ وښیي چې پخوا یې د هغوی دښمنانو ته

ښودلی و او د دوی دښمنانو ته به یو ځل بیا زرغون ځراغ ور ښکاره کړي، تر څو د همدې فرقه وارانه جنګ محاذ ته راشي، په کوم کې چې تیر لس کاله ورسره جنګېدل. همدارنګه صهیوني ـ صلیبي اتحاد زمونږ مسلمه امت د فرقه یي جګړو کندې ته ورغورځول غواړي، تر څو دوی ته زمونږ پر ځمکو د خپلو استعماري پلانونو ترسره کول او زمونږ د صلاحیتونو تباه کول اسانه شي او الله تعالی زمونږ مرستندوی دی.

د مرکې مدیر: نو شاید ته فکر کوې چې دا فتحه د غزې پر محور د برید کولو له پاره د یوې ډرامې په څېر ده او دا شامي ځوان مجاهدین په سیمه کې د صهیوني ـ صلیبي پلان د قوت له پاره د نړیوالې کرایې پر میدان کار کوي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: نه، زما ګرانه وروره! معاذ الله، الله دې نه کوي چې زه د خپلو مرابطو مجاهدو ورونو مقام او شان راکم کړم، یا د هغوی پر دین او نیتونو شک وکړم؛ ځکه زه پخپله هم له همدوی څخه یم. ما د «ردع العدوان» په معرکه کې د مجاهدینو له لوري یوازې صداقت، وفاداري او پر دین ځان قربانول لیدلي دي. خو ما ستاسې مخې ته د فتحې انځور هماغسې وړاندې کړی لکه چې په حقیقت کې دی، نه د نویو هلکانو د مبالغو پر بنسټ، نه د احساساتي ورونو د ډېرو خبرو پر اساس او نه د هغو ځیرکو او دوکه کونکو کسانو د جوړو کړو کیسو له مخې چې غواړي زمونږ بیداري او شعور له منځه یوسي، زمونږ فکرونه واړوي او مونږ د وهمونو او خوبونو په نړۍ کې وساتي، تر څو ربښتیا او واقعي حالات زمونږ مخې ته څرګند نه شي.

ګرانه وروره! سره له دې چې مجاهدین پر دمشق واکمن دي او د سوریې نژدې پر نیمايي خاوره واک لري، خو دا باید هېر نه کړو چې په حقیقت کې دوی لا هم د اشغالګرو د تسلط تر سیوري لاندې دي. پر مجاهدینو او د شام پر ولس لا هم سیاسي، کلتوري او اقتصادي قبضه مسلطه ده او د دې بې‌شمېره شواهد شته. ربښتیا دا ده چې هغه اموي فتوحات چې تاسې یې یادونه وکړه او د دمشق له فتحې سره مو پرتله کړل، د اسلامي برلاسۍ او تفوق په زمانه کې ترسره شوي وو. هغه فتوحات نه د نړیوال کفر د سردارانو په اجازه، رضایت او اسانتیا رامنځته شوي وو او نه د مجاهدینو د ستایلو وړ شرعي ارادې د کفارو له کرکجنې او لعنتي ارادې سره د یو ځای کېدو پایله وه.

تاسې د خپل رب په نوم راته ووایئ آیا د تاریخ په کوم ځای کې دا لیکل شوي چې کوم اموي خلیفه یا وزیر د روم پاچا هرقل ته د ځواک او خوشحالۍ له هیلو سره د مبارکۍ او برکتونو پیغام لېږلی وي؟

سربېره پر دې، د بني‌امیه دورې ته د ستنېدو او هغوی د اسلامي تاریخ تر ټولو لوړ مثال او غوره بېلګه ګرځولو شعار د جمهورو علماوو په نزد د غور وړ دی. مونږ ته خو د خلفای راشدینِ مهديينو د سنتو د پیروي امر شوی دی، نه د اموي خلفاوو؛ او له مونږ سره د منهاج النبوة پر لور د ستنېدو وعده شوې ده، نه د بني امیه د منهاج پر لور.

د مرکې مدیر: سمه ده، خو ابو اسامه! ستاسې ځینو خبرو زه حېران کړم؛ داسې ښکاري چې تاسې د دې فتحې، یا د هغې د طریقې او انداز په اړه ځینې تحفظات لرئ. ستاسې له خبرو داسې هم څرګندېږي چې د شام د نوې اداري چلند د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو سره تاسې ته د قناعت وړ نه دی؛ که خبره برعکس ده؟ ستاسې د نوې شامي اداري په اړه تحفظات څه دي او پر څه یې نیوکه کوئ؟ هغوی د هغو لویو هېوادونو پر وړاندې څه کولی شي چې په شام کې د خپلو ګټو په لټه کې دي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: ګوره ګرانه وروره! کله چې مونږ د سوریې اوسنی انځور، د هغه حقیقت او د ۲۰۲۴م کال د پای پېښې او پایلې ارزوو، نو هغه څه چې په سوریه کې شوي، د څو مهمو تاریخي ښارونو له آزادۍ پرته بل څه نه دي؛ چې تر ټولو مهم یې پلازمېنه دمشق ده، چېرې چې د اسلام د مجاهدینو د ډلو واک دی. زما په شخصي اند، دا کچه آزادي «پریکنده فتح» او «ربښتینې بریا» بلل یوازې د یوې هیله ښېونکې استعاري په توګه منل کېدای شي، چې مونږ هیله لرو الله تعالی به یې د امتِ مسلمه او د اهلِ شام له پاره بشپړه کړي. خو هغه حقیقت چې باید په سمو ټکو تنظیم شي او شرعي موافقت یې په علمي، فقهي، شرعي او منطقي ډول بیان شي دا دی، چې شام (سوریه) تر اوسه فتحه شوی نه دی او څه چې شوي یوازې د څو مهمو ښارونو آزادي ده. دا د مجاهدینو او انقلابیانو پر غاړه د ټولو وجایبو له ډلې یوازې د ځینو ادا کول دي. د علم او بصیرت خاوندان باید د نړیوال کفر د امامانو له لوري مسلط شوي داخلي ایجنټ (بشار الاسد) د پرځولو په خوشحالۍ کې ړانده نه شي، باید بې‌وختې

پرېکړې ونه کړي، او د انقلاب د پای، د شامي جهاد د دورې د ختمېدو او د دولت جوړونې د پیل په اعلان کې بېړه ونه کړي؛ ځکه دا د جهاد او انقلاب پر بلبېدونکو سکرو د یخو اوبو تویولو ته ورته دي. هر منصف او هوښیار انسان پوهېږي چې د سوریې فقهي او واقعي حقیقت دا تاییدوي چې دا خاوره لا هم تر قبضې لاندې ده او یرغلګر دښمن لا تر اوسه ترې نه دی شړل شوی او صهیوني-صلیبي قبضه لا هم د سوریې پر ډېرو سیمو واکمنه ده.

سربېره پر دې، د بیدارۍ او امانتدارۍ رهبرۍ دنده ده چې خپلو انقلابي خلکو او مجاهدو سرتېرو ته له واقعیت سره سم انځور وړاندې کړي؛ هغوی ته ووایي چې د شام پر خاوره د بهرنیو اشغالګرو یوه پېچلې ګډه قبضه وه، چې مخکې یې د شتمنیو د وېش له پاره د بشار الاسد په نوم د یو داخلي ایجنټ پر منلو اتفاق کړی و او کله چې انقلابیانو په ۲۰۱۱م کال کې پاڅون وکړ، نو همدغو اشغالګرو خپله صهیوني-صلیبي، امریکایي-روسي جګړه پیل کړه او هر یوه خپل متحدین راوستل، تر څو د شامي نفوذ او شتمنیو وېش تنظیم کړي. بیا چې په اوکراین کې د دغو لویو هېوادونو ترمنځ جګړه ونښته او اختلافات ژور شول، الله تعالی د هغوی په زړونو کې درز واچاوه، تر دې چې دا اختلافات د ځمکې پر مخ خپل وروستي حد ته ورسېدل، په ځانګړې ډول د شام پر خاوره. له دې وروسته د اکتوبر اوومه راغله؛ یعني د «طوفان الاقصی» مبارک عملیات، چې ډېر هغه ترونونه یې ونړول چې دوی پرې مخکې موافق شوي وو. د همدې شخړو او



جګړو په فضا کې د «ردع العدوان» مبارکه معرکه پیل شوه او شامي مجاهدینو تر ټولو کوچنی طاغوت، بشار الاسد، له ښخه راوپرځاوه، که څه هم هغه د شامي مسلمانانو پر وړاندې تر ټولو ظالم و، خو حقیقت دا دی چې د اهلِ شام او د ټول امتِ مسلمه له پاره تر ټولو لوی مجرم او خطر یوازې بشار الاسد نه و. تر دې دمه سوریه یوازې له تر ټولو کمزوري بهرني اشغالګر، یعني ایران، څخه آزاده شوې ده؛ خو لوی بهرني اشغالګر لا هم پر شامي خاوره ناست دي او نفوذ یې سره وېشلی دی. نو

امانتداره رهبري باید خپل ولس او سرتېري د ټولو چارو له سمې زاويې خبر کړي، د حالاتو او پايلو حقيقت روښانه کړي او د شام پر وړاندې د اشغالګرو ګواښونه که د صهيوني-صليبي جګړې معاصر باداران وي او که د هغوی سیمه‌ییز ایجنټان بې له وېرې څرګند کړي.

تر کومه ځایه چې ستاسې د دويمې پوښتنې تړاو دی نو زما په اند د مجاهدينو مشرتابه کولای شي د هغو صهيوني-صليبي هېوادونو پر وړاندې چې د شام د خاورې طمعه لري، ګڼ ګامونه واخلي. تر ټولو لومړی باید له خپل ولس، سرتېرو او امت سره ربښتيني وي؛ په ښکاره ووايي چې مونږ لا هم پر شامي خاوره له ستر اشغال سره مخ يو او دا چې د اسلامي حکومت د نسکورولو داخلي او بهرنۍ دسيسې شته؛ داسې کسان هم شته چې د مجاهدينو د جهادي لاسته راوړنو د غلا هیله لري. جهادي انقلاب لا ژوندی دی او تود دی؛ د هغه لمبې او سکاره به تر هغه بلېږي چې د سورېې وروستۍ ټوټه هم د صهيوني-صليبي جګړې له وروستي بهرني اشغالګر او داخلي ایجنټ څخه آزاده نه شي. د نوې شامي ادارې له پاره اړينه ده چې خپلو عوامو، سپاهيانو،عربو او اسلامي امت ته حقايق روښانه کړي او په ډاګه ووايي، چې مونږ تر اوسه يوازې د ظلم لومړی خول لرې کړی دی؛ کوم چې په حقيقت کې د تر ټولو سترې ناروغۍ نښه ده، خو د شام په سيمه کې تر ټولو ستره جګړه پر دې ځمکه صهيوني-صليبي قبضه ده، هغه څوک چې خپل ایجنټان ټاکي او د شامي ولس پر سینه يې کښېنوي. الله ښه پوهېږي.

د مرکې مدير: سمه ده! ما چې د سورېې د حقيقت په اړه ستاسې له مايوسه کونکي نظر څخه څه زده کړل، هغه دادی چې د انقلاب د ختمېدو اعلان کول يوه انقلابي تېروتنه او د شامي ولس له پاره ګمراه کوونکې پرېکړه ده. خو آيا تاسې فکر نه کوئ چې نوی مشرتابه له دې سخت واقعي وضعيته خبره ده، خو غواړي د سيمې د متکبرو او اشغالګرو هېوادونو خطر تر خپله وسه د شامي ولس پر وړاندې بې اغېزې کړي؟ آيا دا له سياسي پلوه معقوله نه ده چې د کمزورۍ په دې سیوري کې او تر سختو فشارونو لاندې، اداره منظمه کړي او همماله لوی ځواکونه وغولوي؟

استاد عبدالعزيز الحلاق: زه هېڅ مايوس نه يم، زما ګرانه وروره! په الله قسم، زه د يوه محتاط انسان په څېر هيله مند يم؛ خو غواړم چې زه او زما ورونه په نوي مشرتابه کې له ځان، له خپل ولس او له وفادارو مجاهد سرتېرو سره ربښتيني واوسو. ولې د انقلاب د ختم اعلان کوئ حال دا چې اړتیاوې يې لا نه دي پوره شوې؟ ولې د جهاد د پای دعوه کوئ حال دا چې د هغه مسئوليتونه لا پر ځای دي؟ دا د شرعي، فقهي، انقلابي او سياسي تلې له مخې ستره تېروتنه ده. په دې کار سره دوی د مبارک انقلاب پر لمبو يخې اوبه شيندي او د جهادي غيرت اور پخپله وژني، سره له دې چې ويني لوېديځ د ورکړل شويو امتيازونو له امله خوشحال دی او ستاينه يې کوي!

دا هېڅکله روا نه ده، او بايد هېڅکله داسې لارو هڅه ونه شي چې له سياسي او شرعي پلوه ناسمې وي؛ دا لارې کولی شي دوی، مجاهدين او ټول انقلاب د تباهۍ کندې ته ټېل وهي.

زما ګرانه وروره! که دوی ربښتينې او پرېکنده فتحه غواړي، بايد ظالمانو ته په ښکاره «نه» ووايي او ورته ووايي: تاسې زمونږ پر خاوره اشغال کونکي ياست، او زمونږ ولس به دا غاصبانه قبضه او متکبرانه سرپرستي ونه مني. او هو هغوی کولی شي د پاتې اشغال شوې شامي خاورې د آزادولو له پاره خپله جهادي او انقلابي مبارزه لنډ مهاله وځنډوي تر څو ساه واخلي او صفونه منظم کړي؛ خو بيا هم باید له ولس، سرتېرو او امت سره ربښتيني پاتې شي. له دې وروسته، د اوسني ضعف تر سیوري لاندې، د اشغالګرو سره دا دريځ نيول سم دي چې مونږ ستاسې له قبضې سره مخ يو. يا به اشغالګر له ډيپلوماتيکو او سياسي لارو شامي خاوره پرېږدي او يا به د مجاهدينو مشرتابه اعلان وکړي چې د اسماني او ځمکنيو قوانينو له مخې به له هرې مشروع لارې مقاومت کوي او که هر څومره وخت ونيسي، خپله انقلابي او جهادي مبارزه به بېرته پيلوي تر څو د خپلې خاورې وروستۍ ذره هم له هر اشغالګر او ايجنټ څخه آزاده کړي.

تر کومه حده چې زمونږ پر اسلامي نړۍ قابضو هيوادونو ته د دوکې ورکولو د امکان په اړه ستا سوال دی، نو زما په ناچيز نظر دا تصور زمونږ د متکبرو دښمنانو د حقيقت په اړه له تر ټولو ساده لوحو اسلامي انګېرنو څخه دی. زما وروره! دا هېوادونه خيريه بنسټونه يا دعوتي ډلې نه دي، چې مسلمانان يې وغولوي او داسې يې وځلوي، لکه څنګه چې يې ځيني خلک

خوب ويني او وهم او گمان کوي. دا هغه ظالم دولتونه دي چې زمونږ غوښې يې خوړلې دي، زمونږ وينې يې څښلي دي لوی شوي او زمونږ ښځې او ماشومان يې قتل کړي دي را ستر شوي دي او لا هم وده کوي. دا جګړه خوښونکي هيوادونه دي، چې ورانول او جنګ خوښوي. دوی په تباهي کې مهارت لري او د دوی خونړۍ تاريخ ددې خبرې شاهد دی چې دوی استعماري ځواکونه دي، چې خپلو دښمنانو ته د ماتې ورکولو او سر پيچلو صلاحيت لري. تر دې پورې چې د مسابقتي انساني تهذيبونو د تباه کولو مهارت هم لري او هر څوک چې د دوی په اړه ساده تصور ولري، پايله به يې دا وي چې د هغوی د غلامانو غلام، د ايجنټانو ايجنټ او د ګوډاګيانو ګوډاګی به شي.

زما ګرانه وروره! مونږ له هغو سلطنتونو سره مخ يو چې په ميليونونو انسانان يې وژلي دي. که زمونږ له منځه کوم مسلمان د هغوی تر رحم و کرم لاندې پر خپل ځان د مسلطې بين المللي ورورولي په احسان سره واک ته ورسېږي، هغوی به ورته د ساه اخيستلو يا د صفونو د بيا تنظيم له پاره يوه شېبه وخت هم ورنه کړي؛ بلکې هغوی خو زمونږ پر وړاندې د دسيسو او لوبو په چمتو کولو بوخت دي او مونږ به هماغه دايرې ته ورننوځو چې بشار الاسد په کې نيمه پېړۍ ژوند وکړ او له بده مرغه بيا به د مجاهدينو هغه مشران لټوو چې په مينه او ويره يې ولمانځي او ورته عاجزي وښيي.

د مرکې مدير: محترم استاد عبدالعزيز الحلاق! راځئ د موضوع ژورو ته ننوځو. ستاسې په اند، د دمشق د آزادۍ له نژدې دوو مياشتو وروسته، چې په ټوله سيمه کې په عمومي ډول او په ځانګړي ډول په سوريه کې کوم اثرات راڅرګند شوي، د هغوی په رڼا کې تاسې په شام کې کوم خطرونه وينئ؟

استاد عبدالعزيز الحلاق: په ټوله سيمه کې او په ځانګړي ډول په سوريه کې تر ټولو لوی خطر صهيوني-صليبي خطر دی. دا خطر له نصيري خطر سره هيڅ ډول د پرتله کېدو وړ نه دی، هغه خطر چې مخکې يې بشار الاسد استازيتوب کاوه. شامي انقلابيان په دې ګومان پاڅېدلي وو چې په سوريه کې يوازينی خطر محلي نصيري حکومت او د هغه متحدين دي، خو اوس پرې دا خبره روښانه شوې چې صهيوني-صليبي دښمن له هرې خوا لکه د پنجو په شان پر هغوی کلکه محاصره راوستې ده.

لومړی او تر ټولو مهم خطر اسرائيلي-صهيوني خطر دی، چې د «سيمې د بادار» په نوم پېژندل کېږي. دا معلومه ده چې هغه د جنوبي سوريې د سيمو په ګډون د ستر شام پر مهمو برخو ولکه ټينګه کړې ده. دا نيونه لا هم د جنوب له لوري پراخېږي. مونږ بايد دا هم هېر نه کړو چې په درعا، قنيطره او سويدا کې د خائنانو ډېر ملاتړي او مرستندويان شته، چې په کې د ځينو سني ډلو، دروزي فرقې او نورو اړوند کسان شامل دي. دا خطر د ټول ستر شام له پاره تر ټولو لوی خطر بلل کېږي. اسرائيل هېڅکله د خپلو موخو او هيلو له څرګندولو سترې شوی نه دی او له هرې شونې لارې او وسيلې يې دا موخې په ښکاره بيان کړې دي. هغه نقشې چې صهيوني پوځيانو پر خپلو اوږو ځړولې وې، د دې پارونکو نښو په سمندر کې يوازې يو څاڅکی دی.

د دې خطر تر ټولو خطرناک اړخ د «احمد العودة» په مشرۍ د عربي-صهيوني ځواکونو خطر دی. همدغه کس لومړی څوک و چې دمشق ته داخل شو او د واک نسکورولو ادعا يې وکړه، په داسې حال کې چې تر هغه وخته لا هيئة تحرير الشام حمص هم په بشپړه توګه نه و آزاد کړی. وروسته له دې هغه له قومندان احمد الشرع (پخوانی جولاني) سره په فور سيزن هوټل کې له خپل عجيبه او نادر ملاقات وروسته د دمشق له صحنې ورکېږي، خو بيا وروسته د سورېې په سياسي او پوځي ډګر کې تر ټولو مخکښه څېره ګرځي. مونږ بايد دا هم هېر نه کړو چې کوم خطر مو په ليبيا کې د حفتر او په سوډان کې د حميدتي له خوا وليد، هماغه ډول خطر دلته هم شته. احمد العودة د «شام حميدتي» او «د سورېې حفتر» دی، ځکه چې هغه د متحده عربي اماراتو، اردن او د سيمې د نورو انقلاب ضد هېوادونو بشپړ ملاتړ لري. تر دې هم خطرناکه دا ده چې هغه په يوه وخت کې د روسيې او امريکا ملاتړ هم لري، چې دا خپله يوه عجيبه او د انديښنې وړ خبره ده. د دمشق له آزادۍ سمدستي وروسته، ګاونډيو هېوادونو د دوی له پاره د روزنې، جلب و جذب او وسلو دروازې پرانيستې دي. نو آيا مونږ د جنوب له لوري د انقلاب د رد پر څنډه ولاړ يو؟

دوهم خطر امريکايي-صهيوني-صليبي خطر دی، چې د خپلو عربي او کردي اجنټانو له لارې يې د سورېې د خاورې پر ځينو برخو ولکه ټينګه کړې ده. د سالم ترکي العنتري په مشرۍ ازاد سوريايي پوځ

(فري سيرين آرمي) د امريکايي-صهيوني-صليبي جګړې له عربي اجنټانو څخه دی. د دوی مرکز د امريکا د «التنف» پوځي اډه ده، چې د سوريې، عراق او اردن ترمنځ په مثلثي سيمه کې موقعيت لري. که څه هم دا ځواکونه دا مهال د نوې ادارې او نوې سوريايي اردو برخه ګرځېدلي، خو په حقيقت کې دا هماغه «صحوات» دي، چې په ۲۰۰۸ کال کې په عراق کې د امريکايي جنرال پيټرياس له خوا جوړ شوي وو. دا د سيمې په کچه د صحواتو د پروژې غځونه ده او په سوريه کې د امريکايي پوځ مخکښې جګړه ييزې دستې ګڼل کېږي، چې شمېر يې له لسو زرو اوښتی او وسلې او بشپړه روزنه يې د امريکا د دفاع وزارت تر څار لاندې ترسره کېږي. تر کومه ځايه چې د امريکايي-صهيوني-صليبي جګړې د کردي اجنټانو تړاو دی، هغوی د سوريايي ډيموکراتيک ځواکونو (SDFيا قسد) په نوم پېژندل کېږي، چې مشري يې ظالم مجرم «مظلوم عبدي» کوي. دا بې دينه ډله د شام له تر ټولو بدو کافرانو څخه ده او د اسلام او اهل اسلام پر وړاندې تر ټولو سخته کرکه لري. د دوی په سيمو کې د قرآن کريم حفظ کول منع دي او د اسلام له نښو او شعايرو څخه ډېرو ته اجازه نه ورکول کېږي. په دوی کې داسې کسان هم شته چې لا تر اوسه د اور، لمر او سپوږمۍ عبادت کوي. په شام کې له دغو ملحدو کردانو او نصيري رافضيانو څخه لوی کافران نشته او نه هم داسې څوک شته چې تر دوی ډېر له اسلام او مسلمانانو سره دښمني ولري. دا ډلې د سوريې پر هغو پراخو سيمو واکمنې دي چې ستراتيژيک اهميت لري او له اقتصادي پلوه خورا مهمې دي، ځکه چې د تورو سرو زرو، يعني د سوريې د تېلو زېرمې په کې شته. دوی د خپلو سيمو دننه د امريکايي اډو ساتنه تر خپلې ساتنې هم ډېره مهمه بولي. د مجاهدينو له خوا د دمشق تر آزادۍ وروسته، هغوی په دې وروستيو کې امريکايي پوځي اډې نمبر ۲۹ او ۳۰ هم جوړې کړې دي، چې دا د دې خبرې څرګند ثبوت دی چې دوی لا هم د سوريې د خاورې پر ځينو برخو خپل اشغال ساتلی او حتی نوې سوريايي اداره هم دې ته اړ باسي چې دا حالت ومني.

دريم خطر روسي-صليبي او د هغوی د دوديزو متحدينو خطر دی، هغه ځواکونه چې نژدې نيمه پېړۍ يې د دمشق پر صحنه واکمني کړې ده. دا مهال دوی د لاذقيې په غرونو او ساحلي سيمو کې پوځي اډې او کلکې کلاوې جوړوي. هغوی يو داسې فرقه يي ولسي روايت لري چې پالنه يې کوي او دا ورټياوې يې د ادلب، عفرين او شمالي شام له هغو خلکو ډېرې دي چې د انقلاب د تېرو ديارلسو کلونو پر مهال يې د شامي انقلابيانو ملاتړ کاوه. دوی د ايران، روسيې، لبنان، يمن او نورو له خوا پراخ مالي ملاتړ ترلاسه کړی او په نژدې راتلونکې کې دا احتمال شته چې مونږ به د دوی د تخريبي فعاليتونو لوی پراخوالی ووينو. ځکه چې دوی اوس د خپلو ليکو د تنظيم او د نصيري انقلابي جوړښت د بيا رغونې په حال کې دي. په طرطوس کې د روسيې د حميميم اډې پاتې کېدل او د طرطوس بندرونه د دې خطر د ځواک، بقا او ثبات تر ټولو ستر لامل دی[1].

څلورم خطر داعشي-صهيوني خطر دی، هغه خطر چې جوړ شوی، ساتل کېږي او روزل کېږي. د داعش د ودې له پاره ځانګړي فارمونه جوړ شوي دي. له تېرو لسو کلونو راهيسې سختې صهيوني-صليبي هڅې روانې دي، څو د داعش جنګيالي د فکري ګمراهۍ له چوکاټه وباسي او د مزدورۍ په چوکاټ کې يې داخل کړي. او که کوم داعشي يوازې پر خپلې خارجي ګمراهۍ ټينګ پاتې شي او د مزدورۍ چوکاټ ته له داخلېدو انکار وکړي، نو د هغه ساتونکي او ملاتړي يې د شام په باديه، تدمر او د حمص په شاوخوا سيمو کې له منځه وړي، تر څو د مزدور داعش جبهه د ګمراه داعش پر جبهه برلاسي پاتې شي. دا خطر د شام د اهل سنتو د پروژې له پاره د زهري خنجر په څېر دی. هېڅ مبالغه نه ده که ووايو چې دا خطر هم د پورته يادو شويو خطرونو څخه کم نه دی، بلکې دا د جهادي صفونو ترمنځ د لا ډېرې دښمنۍ د پيدا کولو وړتيا لري. همدا لامل دی چې صهيوني-صليبي کمپونه لا هم د دوی پالنه کوي، هغوی تر خپلو سترګو لاندې لويوي، تر څو د امت مسلمه پر وړاندې د کرکې عوامل پياوړي کړي او د

---

[1] له يوې مياشتې څخه هم لږ وخت تېر شو چې د محترم استاد دا اندېښنه سمه ثابته شوه او د دې مکالمې د اردو ژباړې تر خپرېدو پورې، دغه خطر خپل تخريبي فعاليتونه پيل کړي دي.

اهل سنتو پر وړاندې د بغض او دښمنۍ ریښې لا ژورې کړي. ژر به مونږ ووینو او واورو چې صهیوني-صلیبي دوزخیان به شپیلکونه ووهي او خپلو داعشي سپیو ته به اشاره کوي، تر څو د شام د اهل سنتو د مجاهدینو د غوښو د ښکار له منظرو څخه خوند واخلي. مونږ له الله تعالی څخه سلامتي او عافیت غواړو. د نړیوالې صهیوني-صلیبي جګړې له پاره د داعش د خدمت او د یوې فعالې وسیلې کېدو تر ټولو رښتیني بېلګه هغه ده چې امت مسلمه په افغانستان کې ولیده او لا یې هم ویني. هغوی د امریکا او د سیمې د امریکایي اجنټانو ملاتړ درلود او لا یې هم لري. کله به چې مجاهدین په یوه سیمه کې د هغوی له منځه وړلو ته نژدې شول، نو کافرو پوځونو به سمدستي حرکت کاوه، د الوتکو له لارې به یې مرسته ورسره کوله او له مخکې جوړو شویو کمپونو ته به یې لېږدول، تر څو یې پالنه وکړي، نسل یې وروزي او مناسبه فکري غذا ورکړي او اوس چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له خوا د داعش کمپونه له منځه وړل شوي، نو په پاکستان او تاجکستان کې د هغوی د روزنې بندوبست شوی او ځینو ګاونډیو هېوادونو ته امر شوی چې د دوی معسکرونه خپلو سیمو ته ولېږدوي، تر څو د اړتیا پر مهال د اسلامي شریعت د پلان پر ضد وکارول شي او په دې توګه صهیوني-صلیبي پلان بشپړ کړي.

پنځم خطر د سیکولرې ترکیې خطر دی؛ هغه چې په «ناټو کې د ارتداد د مشرتابه» په توګه پېژندل کېږي. دا یو داسې خطر دی چې لا هم د شمالي شام له وضعیت او هلته د ترکیې له پوځي اډو سره ټینګه اړیکه لري. مونږ باید دا هېر نه کړو چې ترکیه اوس په ظاهره د سوریې د سرپرست لاس او د هغې د شا څښتنه ګرځېدلې ده او د شام له پاره د صهیوني-صلیبي پولیس د رول لوبوي. پر شام د ترکیې نفوذ به په فکري، ټولنیز، سیاسي او پوځي ډګرونو کې له حده واوړي. همدارنګه باید دا هم هېر نه کړو چې د «آزاد سوریایي پوځ» او «وطني پوځ» په څېر تر بېلابېلو نومونو لاندې زرګونه سوریایي جنګیالي د ترکیې تر واک او اغېز لاندې دي. د سیکولرې ترکیې د پلان د خطر حقیقت دا دی چې دا هېواد د مسلمانانو پر ضد په صهیوني-صلیبي جګړو کې نه یوازې یو باوري اجنټ دی، بلکې د صهیوني-صلیبي اتحاد، یعني ناټو، یو اساسي غړی هم دی او د مسلمانانو پر لور تر ټولو پیاوړی او تر ټولو بد غشی ګڼل کېږي. دې پلان په تېرو دوو لسیزو کې د افغانستان د اشغال پر مهال هم بریدونه او پوځي ماموریتونه ترسره کړي دي. ترکیې د کمزورو مسلمانانو له وینې او غوښې څخه دومره استفاده کړې چې ځان یې پرې موړ کړی دی؛ که هغه په افغانستان کې زمونږ د مسلمان ورونو وینه او غوښه وه او که د سوریې پر پوله د ترکیې د جاندرما ځواکونو له خوا زمونږ د هغو سوریایي ورونو او خویندو وینه وه چې د پناه غوښتنې هیله یې لرله. همدارنګه، لکه څنګه چې نن ورځ مونږ له انسانیت څخه تشه ترکیه وینو چې په مالي، صومالیه او د افریقې په ساحلي سیمو کې د بېوزلو او کمزورو مسلمانانو وینه تویوي دا هر څه یو هوښیار انسان دې ته اړ باسي چې په نژدې راتلونکي کې په سوریه کې د مسلمانانو د وینې په اړه د ترکیې پلانونو پر وړاندې جدي شکونه او اندېښنې ولري.[2]

زما په اند همدا پنځه محاذونه د شام د راتلونکي پر وړاندې تر ټولو خطرناک محاذونه دي. له دې پرته نور داخلي او بهرني خطرونه هم شته، خو دا مهال د همدې سختو او بنسټیزو خطرونو یادونه بسنه کوي.

د مرکې مدیر: مونږ ستاسې پر دغو ګټورو خبرو د الله تعالی شکر ادا کوو، ځکه تاسې زمونږ پام هغو خطرونو ته واړاوه چې مونږ اټکل نه کاوه چې دومره به لوی، پراخ او له یو بل سره تړلي او پېچلي وي. زه له تاسې څخه مننه کوم چې تاسې دا موضوعات په داسې ښه راټول او بیان کړل چې څارونکو ته د شام د اوسني واقعیت درک اسانه شي.

(ادامه لري، ان شاء الله)

---

[2] له یوې میاشتې څخه هم لږ وخت تېر شو چې د محترم استاد دا اندېښنه هم پر ځای ثابته شوه او د دې مکالمې د اردو ژباړې تر خپرېدو پورې، د سوریې د تدمر هوایي اډه (T4) ترکیې ته سپارل شوې ده.

د عصر معجزه
تر ځمکې لاندې غزه

ډاکټر محمد طنین

د اسلام په لومړي دفاعي سنګر کې د قسام صادقینو رجالو ددې نایابه شبکې پر مټ ټولې عسکري محاسبې وننګولې، عسکري مفاهیم او نظریات یې چلینج کړل.

د غزې ځمکه که له پاسه د بمونو، توغندیو، اور او وژنې یوه ډارونکې ننداره ده، مګر ترې لاندې د یوې پټې، خو د فعالې جګړې مرکز هم دی؛ د دښمن بشري قوت څه چې روباټونه یې هم په کشف کې پاتې راغلل بلکې د Lavender او Gospel په نوم یې AI سیسټمونه هم فلج او ناکام شول.

ددې نایابه تونلونو ویستلو فکر چې د مقاومت د اکسیجن بڼه یې غوره کړې له کومه را پیدا شو؟

هغه وخت چې په 2005م کال یرغلګر د شارون په رهبرۍ له غزې ووتل او حماس د غزې کنټرول په لاس کې واخیست؛ صهیونیستي رژیم له څلور طرفه، هوا، اوبو، او د ځمکې له لارې غزه محاصره کړه؛ او غزه په یوه سرخلاصي زندان چې میلیونونه مسلمانان پکې اوسیدل مبدل کړای شو؛ مصر خپل طرف او غاصب رژیم د اشغالي فلسطین له طرفه غزة په کانکریټي دېوالونو را تاو کړه؛ مقاومت د یوې بدیلې لارې د پیدا کولو په لټه کې شول، تر څو خپل تحرکات تنظیم او د راتلونکې محاسبات وسنجوي؛ د تونلونو ویستلو فکر د لومړي ځل لپاره د غزې د اسلامي پوهنتون له یو تن استاد سره پیدا شو، چې نوموړی د کتائب القسام د یوې ځانګړې قطعې مسؤل وه، نوموړي دا فکر رهبرۍ سره شریک او پر طرحه کار پیل او د عمل میدان ته راوړاندې کړای شو، لومړیو کې دا تونلونه له بهر نړۍ سره د روابطو ساتلو چې هدف یې مصر ته ویستل وه پیل شول، وروسته دې نظریې پرمختګ وموند ستر شول او ستراتیژیکه بڼه یې غوره کړه؛ د تونلونو ویستلو پیل داسې وه چې د کورونو له داخل چې سر به یې پټ وه ویستل کېدل تر څو یې مصنوعي سپوږمکۍ، صهیونیستي جاسوسان، ډرون او نور څارونکي وسایل نکړي کشف، مکمل نقشه ترتیبېده، د انجینرۍ ټیم د هدایت پر اساس پیل به یې د کور له داخله او پای به یې هم د یو کور داخل ته رساوه؛ د تونلونو خاورې به لومړی په همدې کور کې ساتل کېدې وروسته به تدریجاً بحر ته اچول کېدې.

دا تونلونه به د بشري ځواک پر مټ جوړېدل بغیر لدې چې په وسایلو دې تکیه وشي او له همدې امله نه اټکلیدونکی کم مصرف پرې راغی.

کتائب القسام ددې تونلونو لپاره یوه د وحدة الانفاق په نوم یوه ځانګړې قطعه جوړه کړه، داد غزې د روانې جګړې تر ټولو پټه، خو اغېزمنه برخه ده، دا یوه منظمه، تخنیکي او پوځي شبکه ده چې هدف یې د اشغال پر ضد مقاومت ته ستراتیژیکه برلاسي ورکول دي، د دې واحد کار یوازې د عادي تونلونو جوړول نه دي، بلکې دې دلګۍ یو بشپړ تحت‌الارض (ځمکې لاندې) نظام رامنځته کړی دی، چې د جنګي تجهیزاتو ذخیره، د مقاومت د مجاهدینو خوځښت، د قوماندې مرکزونه، د بندیانو ساتنه، او د حملو تنظیم پکې تر سره کېږي.

وحدة الانفاق له هغو انجنیرانو، تخنیکي متخصصینو، او تجربه‌کارو کارګرو څخه جوړه دلګۍ ده چې د جګړې د اړتیاوو مطابق پیچلي او ژور تونلونه جوړوي، د تونلونو دننه فضا یوازې خامه غارونه نه دي دا جوړښتونه د برېښنا سیسټم، د هوا جریان، مخابراتي تجهیزات او حتی د تګ راتګ لپاره واړه وسایط لري، ځینې تونلونه دومره پراخ دي چې د حماس سرتیري پکې په موټرسایکلونو حرکت کوي د قوماندې لپاره ځانګړې خونې، د اسنادو خوندي ځایونه او د ټپیانو بسترځایونه هم پکې شامل دي؛ پدې تونلونو کې اوسېدل غیر د

قسام له روزل شویو افرادو نورو ته محال دی.

تحت راية الطوفان خندق خباب کتاب لیکونکی شهید محمد زکي حمد د جګړې په جریان کې د وحدة الانفاق د دلګۍ چې نوموړی یې هم غړی وه وایي:

د طوفان الأقصی د مبارکو عملیاتو په جریان کې د تر ټولو سختو دندو څخه یوه د هغو تونلونو ترمیم وه چې د اسرائیلي ځواکونو له خوا بمباریدل، او موږ یې د همدې جګړې په جریان کې د بیا ترمیم په پار له خورا ابتدایي وسایلو استفاده کوله؛ د یو متر تونل د بیا رغولو لپاره د لسو مجاهدینو د ټولې ورځې هڅو او کار ته اړتیا وه او هر مجاهد به چې کله بیرته د استراحت لپاره راستنېده نو د ددې سخت کار او هڅو دروندوالی به یې په خپلو تنونو کې له ورایه احساسېده، موضوع یوازې تر همدې سخت کار پورې محدوده نه وه؛ بلکې د تونلونو د ترمیم لپاره د سوځېدلو او بمبار شویو کورونو څخه د لرګیو او فلزاتو راټولول، د بریښنا او اوبو د پایپونو بیا ترمیمول هم وه؛ چې دا ټولې ډېرې سترې کوونکې او خطرناکې دندې وې، څو مجاهدین د دغو کارونو په جریان کې په بشپړه ویجاړې شوې سیمه "بیت حانون" کې شهیدان شول، دوی به بهر له تونله وتل، پر سر به یې د یرغلګرو ډرون ګرزېدې، لارې، کوڅې او کورونه له یرغلګرو ډک وه، مګر دوی بیا هم له خپل مسؤلیت نه پر شا کېدل، چې پرله پسې د الوتکو له خوا ځارل کېده او اسرائیلي پوځ تر دوی لوړ په چتونو کې یې پر سرونو ګرزېدل را ګرزېدل!

د امت د شهید یحیی سنوار تقبله الله په یوه وینا کې وایي: د غزې تونلونه 500 کیلو متره اوږدوالی څخه هم زیات پراخوالی لري؛

دا دوه قسمه تونلونه دي: لومړی لوژیستیکي او عملیاتي تونلونه؛ عملیاتي تونلونه بیا پخپل ځان کې په دوه ډوله دي دفاعي او هجومي.

لوژیستیکي تونلونو کې موټر هم دننه کیدای شي، ستر_ستر بار میزایلو د ځای پر ځای کېدو مجال هم لري.

هجومي او دفاعي تونلونه موقتي دي له استفادې بعد یې مقاومت خپله ورانوي او یایې دښمن ته پرېږدي، مګر ستراتیژیک او لوژیستیکي تونلونه همیشني وي، دلته رهبري اوسي، له همدې ځایه طرحې او پلانونه چمتو کیږي.

د تونلونو شکلونه هم د جوړښت او ډیزاین له مخې په دوه ډوله دي:

ارنب او عنکبوتي؛ چې په ارنب کې دفاعي او هجومي شامل دي؛ او عنکبوتي لویې_لویې شعبې لري د وتلو او ننوتلو لارې یې مجهولې دي؛ او یوازې محدود خلکو ته معلومې وي؛ د 500 کیلو متره اوږدوالي سره دا تونلونه د ژوروالي له پلوه هم د ارزښت وړ دي، ژوروالی په مختلفو سیمو او جګړیزو تکتیکونو ته په کتلو سره فرق کوي، له لس مترو نیولې تر دیرش مترو پورې ژوروالی لري چې BBC انګلیسي برخې خبریال د تحقیق پر مهال هم دې موضوع ته اشاره کړې وه.

د دې تونلونو تر شا د ډېرو خلکو هڅې پرتې دي، ځینې یې د کار پر مهال ټپیان شوي، ځینو همدلته د شهادت جام پر سر اړولی، دلته رجالو میاشتې میاشتې په تورو تیارو کې بغیر لدې چې د لمر وړانګې یې بدن حس کړي کار کړی، مختلف امراض او شکنجې یې ګاللي، دا هر څه د یو ستر او مقدس هدف لپاره تر سره کېدل، دلته یو انګیزه موجوده وه، د حریت خواږه یې حس کول، او د راتلونکې یوې سترې معرکې ته په چمتووالي بوخت وه.

د أقصی د طوفان د مبارکو تعروضي عملیاتو په جریان کې سلګونه نیول شوي صهیونیستي وګړي همدې تونلونو ته را منتقل کړای شول.

وحدة الظل:

دا ځانګړې قطعه د جلعاد شالیط یهودي پوځي له ژوندي نیولو وروسته په 2006 م کال د القائد الکبیر شهید محمد الضیف تقبله الله په امر تأسیس شو؛ دا قطعه تر ۲۰۱۶م کال همداسې پټه ساتل شوې وه، د اسیرانو ساتل، انتقال او ترتیب یې وظیفه ده، 5 کاله یې شالیط د موساد له سترګو پټ وساته او بیا یې له 1000 څخه د زیاتو فلسطیني بندیانو په مقابل کې خوشې کړ؛ د وحدة الظل د افرادو شمیر نا معلوم، د قسام سیوری بلل کیږي، هر زلمی یې داسې روزل شوی چې په انګلیسي او عبراني ژبه پوره حاکم وي.

یهودو د طوفان الاقصی د عملیاتو په جریان کې نیول شویو بندیانو پسې د غزې لویشت لویشت خاوره واړوله، خبنته یې پر خبنته پرې نښوده، او دا په تاریخ کې تر ټولو ستر سري او استخباراتي عمل وه چې مقاومت خپل تونلونه پټ وساتل او هیڅ قوت پدې

ونه توانېده چې کشف دې کړي؛ د کتائب القسامویاند شهید ابوعبیدة تقبله الله په یو پیغام کې وویل:

تاسو به په هیڅ صورت خپل یو بندي ته هم ونه رسیږئ مګر د قسام په خوښه او توافق سره او دا یې عملاً ثابته هم کړه؛ او داد تاریخ تر ټولو سترو عملیاتو له جملې څخه وه چې دوی بندیان داسې پټ وساتل چې یرغلګرو یې حتی مړو ته هم لاسرسی نکړ پیدا؛ ژوندي خو هسې خوب او خیال ثابت شو، یرغلګرو د خپل هر بندي په اړه د معلوماتو په بدل کې 5 میلیونه ډالر انعام ایښی وه، ټوله غزه کې چې مصنوعي لوږه او تنده چې تاریخ یې ډیر کم مثالونه لري پرې راوستله شوه قسامي مجاهد خو څه چې یو عام غزه وال هم د ذرې په اندازه معلومات نه ورکړل او نه یې په پیدا کېدو وتوانېدل؛ او ددې هر څه کریډېټ همدې وحدة الظل ته حاصلیږي!

غازیان له همدې تونلونو راوتل د الیاسین_105 پر مټ یې یرغلګر دې ته اړ کړل چې خپل د 1970م کال پخواني ټانګونه بیرته رامیدان ته کړي، ځکه د میرکافا نوی نسل یې د ختمېدو سره مخ کړ، همدا رنګه یې یرغلګر د پوځیانو له کمښت سره مخ کړل! د غزې دې تونلونو ثابته کړه چې په دفاعي جهاد کې څومره له لوړ ارزښت څخه برخمن دي، په معاصر زمان کې کفري نړۍ له پر مختللو اسلحو، هوایي ځواک، رهبري شویو توغندیو او له سترو جاسوسي شبکو څخه برخمن دی، بل طرف مقابل کې یې جهادي حرکتونه لدې یو څخه هم ندي برخمن او په دفاعي حالت کې قرار لري؛ نو لازمه ده چې د دښمن د بندیانو د ساتنې، ځان ساتنې اسلحو ذخیره کولو، هوایي بریدونو پر وړاندې د ځان، رهبرۍ او وسایلو ساتنه، د ځارنې drones, satellites څخه پټ تحرکاتو په پار، د لوژستیکي تګ راتګ خوندي لارېو په شکل، د ناڅاپي راښکاره کېدو او نورو مختلفو مجالونو کې ترې استفاده وشي او په پراخه پیمانه وکیندل شي!

****

د سعد بن معاذ رضي الله تعالی عنه دعا

د خندق په غزا کې د کفارو او مسلمانانو ترمنځ خندق پروت وو او یو پر بل یې مستقیم یرغل نشو کولای، بلکې مسلمانان محاصره شوي و او دواړو طرفونو یو پر بل غشي اورول، په همدې وخت کې سعد بن معاذ رضي الله عنه د یو تن قریشي حبان العرقة له لوري په لاس وویشتل شو او سخت ټپي شو، له لګېدو وروسته سعد رضي الله عنه داسې دعا وکړه چې: «خدایه! تاته خو معلومه ده چې زه له دغه قوم سره چې ستا رسول یې درواغجن وباله او له خپل وطن یې وشړلو، په هومره مینه او جذبه جهاد کوم چې د بل چا په وړاندې مې دومره جذبه نه راپاریږي؛ خدایه! زه خو اټکل کوم چې زمونږ او د دوی جنګ نور پای ته رسیږي، که زمونږ او د دوی ترمنځ جنګ ختم نه وي نو زما لاس جوړ کړه چې ورسره وجنګېږم او که ته زمونږ او د دوی ترمنځ جنګ پای ته رسوې نو زما زخم اوبلن کړه چې ترې مړ شم. (رواه بخاري)

او د دعا په پای کې یې وویل: «یا الله! تر هغه مې مه مړ کوه، چې په بني قریظه و (خاینو یهودانو» مې سترګې یخې نه وي.» (ابن هشام)

د نقاب پوش ترشا...!

هیله شهیدزی

په عمومي ډول محمدي امت هېڅ زمانه کې هم د اتلانو او مېړنو له شتون څخه خالي نه دی پاتې شوی. خو نولسمه او شلمه پېړۍ، په ځانګړي ډول د خلافت له سقوط وروسته، چې پر امت باندې کوم ټولیز جمود او سستي راغلې وه او د امت خاص او عام داسې ښکارېدل لکه د "له دنیا څخه مسلمان ورک شو" نوحه چې لولي، د شلمې پېړۍ له پای او د یوویشتمې له پیل سره سم د تاریخ پاڼه د داسې ستورو په ځلیدا روښانه شوه چې ځلا یې سترګې خیره کوي، او د عزم او همت خاوندانو ته نه یوازې مشعلِ راه ده، بلکې هر یوه ته د خپل ځان د ازمېښت یوه پرله‌پسې او دوامداره بلنه هم ده. له شیخ عبدالله عزام او شیخ احمد یاسین څخه، چې امت ته یې د عمل لار وښوده، نیولې تر اسامه بن لادن او ملا محمد عمر پورې، چې امت یې د عروج پر لور روان کړ او د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې د مال او دولت، واک او اختیار، او د ژوند په هره شیبه کې د قرباني جرئت ور وباښه. که د معاصر جهاد د مشایخو فکر او نظر شومره مجاهدین راپورته کړل، او که د شیخ اسماعیل هنیه سیاست وي، په ټوله کې دا لړۍ اوږده ده. په دې لړۍ کې هر نوم د دې وړ دی چې پرې کتابونه ولیکل شي. هغوی په څه شان ژوند وکړ، او کله چې د دې ازموینې له ډګر څخه د تلو وخت راغی، نو په څه ډول مقتل ته لاړل ... که هغه د سنوار عصا وي چې په وروستۍ شېبه کې هم په دفاعي توګه لوړه پاتې کېږي او د پرله‌پسې جهاد کیسه په همدې وروستي عمل کې رانغاړل کېږي؛ او که د کوم ګمنام ټیپي مجاهد وروستۍ سجده وي د خپل رب حضور ته، چې په هغه کې له اطاعت او محبت ډک روح خپله ونډه ادا کوي او د خپل محبوب رب غېږې ته ورننوزي. د امت دغو زامنو ثابته کړه چې د دې امت د میندو غېږې نن هم شنې دي؛ په غېږو کې یې نن هم طارق او قاسم روزل کېږي، او د زوال او انحطاط په دې پېر کې هم دا امت د ایمان، یقین او ښه امید له بې‌سارې شتمنۍ څخه تش لاس نه دی.

له ادیبانو سره الفاظ پای ته ورسېدل، شاعرانو ته اشعار ور کم شول. د دغو اتلانو د کیسو په لیکلو لیکلو کې رنګ هم ملتیا پرېښوده، خو دا کیسې پای ته ونه رسېدې. هر دور او هرې سیمه د رب د کلمې د لوړولو لپاره خپل خپل لعل او ګوهر وړاندې کړل. له همدغو بې‌سارو ګوهرو څخه یو هم د ابو عبیده نوم دی. هغه نقاب پوش چې یوازې امت مسلمه نه، بلکې د نړۍ هر عادل او باعزته انسان یې په مینه کې ګیر شو. پر نړۍ واکمنو ځواکونو هغه ترهګر باله، خو همدغه ځواکونه چې خپل ټول امکانات، خپل تبلیغات او د حقیقت د خپرولو پر وړاندې لګول شوي بندیزونه ناکام ویني، بېوسه یوازې غاښونه چیچي؛ ځکه ویني چې د دوی له ټولو هڅو سره سره، هغه څوک چې دوی یې "ترهګر" بولي، د نړۍ د انصاف‌خوښو خلکو په نظر د عزت، شرافت او د باطل پر وړاندې د مقاومت نښه بلل کېږي. دا نقاب پوش اتل څوک و چې د نړۍ ډېری خلک یې له اصلي نومه هم خبر نه دي؟ هغه د څه لپاره ودرېد؟ څه یې ویل؟ د کوم هدف لپاره یې مبارزه کوله؟ نه یې د وسایلو کمښت ته پام کاوه، نه د یخ او ګرمي سختیو ته، نه یې خپل لوږه ځپلی بدن په نظر کې نیوه او نه د دښمن شمېر او ځواک هغه اړ کړ چې له خپل دریځه واوړي ... هغه څوک و چې کله به یې خبرې کولې، نړۍ به چوپه خوله ورته غوږ نیوه؟ هغه څوک و چې د ده د یوې شېبې لیدلو لپاره به خلک ساعتونه منتظر پاتې کېدل، حال دا چې د دې نقاب پوش اصلي څېره هېڅ چا هم نه وه لیدلې.


هغه نقاب پوش چې هېڅکله یې د خپل ځان شهرت نه غوښت، چې تل د یوه رمزي

نوم تر شا پټ پاتې شو، تر دې چې د يوې ډلې، يوې مفکورې او يوې مبارزې ننبه وګرځېد. نن د هغه د مينه‌والو يوه لويه برخه نړۍ د هغه له اصلي پېژندګلوۍ سره اشنا کوي. د ويلو لپاره ډېر څه شته او د بيان لپاره يې د شخصيت زرګونه اړخونه دي. د زده‌کړې لپاره يې زړورتيا او مېړانه، استقامت، فصاحت او بلاغت، او نه لړزېدونکی ايمان... دا ټول درسونه د نړۍ مخې ته د يوه پرانستې کتاب په څېر پراته دي، څو هر څوک چې په ځان کې ورتيا ويني، له دې د ايمان او ثبات له چينې څخه ګټه واخلي. خو زموږ موضوع نن د همدې نقاب پوش خپل ذات نه دی، بلکې هغه بل پټ نقاب پوش دی چې د هغه تر شا ولاړ و؛ هغه چې د صبر او استقامت له لارې يې حذيفه سمير الکحلوت ته دا توان او حوصله ورکړه چې د ابو عبيده درنې او سترې کوونکې دندې پر مخ يوسي. هغه چې نازکو اوږو يې د هغه بار په پورته کولو کې مرسته وکړه، چې يوازې د ابو عبيده نه و، بلکې ټوله امت يې وړ ګڼل کېده. هغه چې د نيمې شپې دعاګانو يې ربع پېړۍ د هغه ساتنه وکړه، هغه چې ورسره يې تر مرګه د ملتيا ژمنه وکړه (معک حتی الموت)، او بيا يې د نازک صنف کېدو باوجود په مېړانه دا ژمنه رښتيا کړه.

اُمِّ ابراهيم اسراء غسان جبر، د غسان جبر (ابو همام) لور وه، چې د مخيم الجباليا يوه پېژندل شوې څېره بلل کېده. غسان جبر خپلې دوارې لونې، لطيفه او اسراء، د قسام له مجاهدينو سره واده کړې وې. لطيفې له راعد اللدوي (ابو الفهد) سره واده کړی و، چې د لومړۍ انتفاضې پر مهال په مخيم الجباليا کې د قسام له مهمو قومندانانو څخه و. په ۲۰۲۳ کال کې لطيفه له خپل مېړه او د کورنۍ له ۱۷ نورو غړو سره يو ځای په شهادت سر فرازه شوه. د اسراء واده له حذيفه سمير الکحلوت سره شوی و، هغه مهال چې نوموړی د قسام د وياند په توګه ټاکل شوی و او لا ډېر وخت نه و تېر شوی. اسراء د غزې له اسلامي پوهنتون څخه د رسنيو او ژورنالېزم زده کړې کړې وې. د همدې ځانګړې يوې بلې اړوندې، يسرى اکلوک، وايي: "هغه له ما يو کال مشره وه او موږ به ډېر وخت په ګډه کورسونو او ټولګيو کې سره يو ځای کېدو. خو نه يوازې زه، بلکې زموږ له ډېرو ملګرو زده‌کوونکو هم دا خبره پټه وه چې د اسراء مېړه څوک دی. د اسراء له شهادت وروسته موږ ته دا څرګنده شوه چې هماغه ښکلې او چوپه نجلۍ د هغه نقاب پوش مجاهد مېرمن وه. زما په اند، د هر نقاب تر شا يوه ښځه وي، چې هغه راز او هغه ژمنه ساتي. او د حذيفه تر شا اسراء جبر ولاړه وه..."

د قسام مجاهدينو ته چې ځينې خلک طعنې ورکوي او وايي هغوی په تونلونو کې پټېږي او خپل ځانونه ژغوري، ډېری وخت دا خبره هېروي چې د دغو مجاهدينو کورنۍ هم د غزې د عامو خلکو په څېر وږې، تږې او له هر ډول خونديتابه بې‌برخې وې او له خپلو خلکو سره يو ځای يې په خېمو کې ژوند کاوه. اسراء که څه هم د شيخ ابو عبيده مېرمن وه، خو د نورو مشرانو د کورنيو په څېر هغې هم د دې اوږدې او سختې جګړې ټوله موده له خپلو ماشومانو سره په خېمو کې تېره کړه. بلکې د خپل مېړه او د هغه د ملګرو سره د اړيکو د پرې کېدو له امله، د هغې حالت د عامو خلکو په پرتله هم ډېر سخت و. ډېرې شپې داسې تېرېدې چې د دوی ماشومانو ته د رزق په توګه د الله د کلام له آيتونو پرته بل څه نه وو. د خوراک د نشتوالي په هغه پړاو کې، اسراء به خپلو ماشومانو ته د الهي آيتونو له لارې د صبر سپارښتنه کوله. که څوک وغواړي د دې صحنې تصور وکړي، تصور کول يې هم سخت برېښي: څلور واړه کوچني ماشومان ... ابراهيم، منة الله، يمان او وړوکې ليان او د هغوی يوازينۍ مور، چې د ازموينې دا ورځې په صبر او استقامت تېروي. په داسې سخته ابتلا کې چې د ژمي پر مهال د يخنۍ د مخنيوي لپاره مناسب کالي نه وي، د باران او بمبارۍ څخه د ژغورنې لپاره د خېمې له نري ټوکر پرته بل چت نه وي او د اوبو او خوراک ترلاسه کول د نارينه‌وو لپاره هم له سترې ستونزې کم نه وي، په داسې حال کې دا يوازينۍ ښځه د الله د کلام په مټ ځان او خپل ماشومان سمبالوي. په داسې وخت کې چې د هغې مېړه له ظالم او اشغالګر يهودي پوځ سره په جګړه بوخت وي دا ښځه نه يوازې دا چې د خپل رب په مرسته ژوند تېروي، بلکې دا څومره ښه ژوند دی، څه له شعادته ډکه زندګي ده، داسې ژوند يوازې د نيک بخته خلکو په نصيب کېږي.

ويل کېږي چې اسراء د دې لپاره چې خپلو ماشومانو ته د قرآن تعليم ورکړي، پخپله يې قرآن کريم حفظ کړ. او د جګړې د دوو کلونو په موده کې، د هغې لور منّة الله هم له ترون څخه لږ وړاندې د قرآن کريم حفظ بشپړ کړ. د شهادت په وخت اسراء د سورت البقرې په تلاوت بوخته وه. الله الله! دا



ښکلي کیمیاګر انسانان وو چې هره ازموینه یې په نعمت بدله کړه؟ هغوی چې پر ځان راغلې سختۍ او کړاوونه یې د جنت د لاسته راوړلو په غوره فرصت واړول. هغوی چې خپله لوږه او تنده یې د الله په آیتونو ماته کړه. هغوی چې خپل وېرې او هیلې یې ټولې خپل رب ته وسپارلې، او هغه هم هغوی یوه شېبه یوازې پرېنښودل. که فکر پرې وشي، نو دا خلک له فطرته پورته ښکاري ... د نه منلو وړ عزم او همت لرونکي، د نه ماتېدونکي ایمان خاوندان... خو هغوی انسانان وو، زموږ او ستاسې په څېر، د غوښې او وینې انسانان. اسراء ته له کومه ځایه د اسرائیلو یو وېشل شوی اعلان په لاس ورغی، چې پکې د ابو عبیده په اړه د معلوماتو رسوونکي لپاره د لوی انعام ژمنه شوې وه. هغې له هماغه اعلان څخه د ابو عبیده انځور وشکاوه او د خپل ۱۲ مربع فوټه پناه‌ځای پر دېوال یې وځړاوه، ځکه چې هغه یوه انسانه وه؛ د خپل خاوند سره مینه لرونکې، هغه ته وفاداره او د هغه د نشتوالي په مهال یې د هغه اولادونه د هغه د غوښتنې مطابق روزل.

د ۲۰۲۵م کال د دوبي په موسم کې، لیان، یمان او منّة الله له خپلو والدینو سره یو ځای دې نړۍ ته د الوداع ویلو په حال کې د جنت پر لور روان شول؛ خو ابراهیم ... چې د هغه نوم د هغه د مور او پلار دواړو کنیت و ... د ټولو جدایي ورباندې راغله. دا ماشوم چې د اور او اوسپنې تر باران لاندې وزیږېد او لوی شو، چې د مور او پلار له اړخه یې ټولې کورنۍ داسې زحمت کشه کسان لرل چې د خپل دین په نوم یې بې شمېره قربانۍ ورکړې وې؛ هغه چې د اسراء په غېږ کې وروزل شو، چې هره شپه یې خپله مور بې وقفې د خپل رب په حضور کې په سجده لیدله او د خپلو اولادونو او مېړه لپاره یې ډېرې دعاګانې او زارۍ کولې ... که نن اسرائیل د ابراهیم په څېر ماشومانو څخه وېره لري، نو د وېرېدو حق لري. ځکه دا هغه ماشومان دي چې په هر دور کې د ابو عبیده بن الجراح لاره او سنت ژوندی کوي؛ چې د دې امت د عزت او غیرت امانت‌داران دي. همدا هغه ماشومان دي چې د نننیو فرعونانو تختونه به نسکور کړي او د خپلو پلرونو خوبونو ته به ژوندی تعبیر ورکړي.

ځکه د دې امت د میندو غېږې نن هم سلګونه ابراهیم او ابو عبیده روزي.

****

د جهاد مجسم انځور

شهید ملا محمد ادریس ابو یوسف رحمه الله

ډاکټر محمد طنین

افغانستان؛ د امپراطوریو هدیر، د جهاد روزنتون، او د اسلام هغه نه تسخیریدونکی سنګر چې له پیړیو پیړیو راهیسې له طوفانونو سره په ټکر دی، د هندوکش په واورو پوښلو څوکو کې یې د غیرت او شهامت کیسې لا ندي یخې شوې؛ د کنړ او هریرود څپې د هر یرغلګر خوبونه له ځانه سره وړي؛ دا خاوره یوازې د اسیا په زړه کې د جغرافیې یوه ټوټه نه، بلکې د جهاد، شهادت، ویاړ، غیرت او نه ماتېدونکي عزم الګو ده.

د برتانیوي امپراطورۍ ځواکمن لښکرونه ددې غرونو په تنګو درو کې ورک شول؛ د شوروي اتحاد درنو وسلو او زغروالو ځواکونو د افغان د فولادي ایمان له قوت سره سیالي ونه شوه کړای، دلته هره دره یرغلګرو ته تنور وه، هر کلی د ازادۍ مورچل او هر مؤمن د خپل دین د دفاع یو ژوندی مثال وه.

دوه لسیزې مخکې د مغروره امریکا هم پدې ازمېښت کې راښکېله شوه، د اسلام بچیانو په همدې خاوره کې ورته قبر وکینده او له ټول غرور سره یې پکې دفن کړه؛ د اسلام دا جغرافیه د زمانې د هر زورور پر وړاندې لکه د فولادو دیوال ولاړه وه، او لا هم ولاړه ده؛ پدې هېواد کې د نورو ښارونو تر څنګ غزني لکه په شګو کې پروت غمی داسې دی، له همدې ځایه د اسلام پوځونه د ستر سپه سالار محمود غزنوي رحمه الله په قیادت کې د هند پر لور خوځېدل او د تاریخ پر پاڼو کې یې د جهاد په باب کې داسې کارنامې درج کولې چې لا تر اوسه د زمانې په حافظه کې ژوندۍ دي، له همدې ځایه د سومنات غرور ونړېده، دا ښار یوازې د تورو او جګړو کیسه نه وه/ ده؛ بلکې د علم، ادب او فرهنګ هغه مرکز هم وه چې د پوهانو، شاعرانو او مفکرانو رڼا یې له هرې پولې هاخوا خپرېدله.

هغه شپه د بادونو شپه وه، هغه شپه چې د کلي پر خامو دېوالونو د وېرې سیوري ګرځېدل، د یرغلګرو د ټانګونو غرها او د مرمیو غړونو د شپې خاموشي په هیبت بدله کړې وه، په همدې تورتم کې په یوه وړه نړېدلې کوټه چې د غزني ولایت اندړو ولسوالۍ لیوانو په کلي کې موقیعت درلوده کې یو ماشوم وزېږېده؛ نه د شتمنۍ تر سیوري لاندې، نه په یوه ماڼۍ او پرمختللي صحي مرکز بلکې د محرومۍ په غېږ کې؛ داسې لکه د تندر له منځه چې یوه وړوکې رڼا راپورته شي.

پر یوسف مخي بچي خپل پلار جان چې حاجي عبدالعزیز نومېده د محمد یعقوب نوم کېښود، ګلالی ماشوم ورو ورو غټیده، په خبرو، خاپوړو او قدم وهلو یې پیل وکړ، مورجانې هم په وړه ژبه خبرې ورسره کولې کله ناکله به یې له نورو ورونو سره یوځای له ځانه سره کرونډې ته د خپل پلار څنګ ته بوتلو او پلار جان د خپل بچي په لیدلو خپله ټوله ستوماني هېروله.

محمد یعقوب چې را ستر شو مور یې مسجد ته ولیږه او ابتدایي درسونه د مسجد له امامه سره ولوستل وروسې یې څو کاله د غزني ولایت په مشهوره مدرسه نورالمدارس فاروقیه کې خپل تعلم وکړ، دغه راز یې د سیمې په کلیوالو مدرسو کې هم درسونو ویلو ته ادامه ورکړه.

ورځې، میاشتې او کلونه همداسې تیریدل، پر هیواد د کمونیستي نظام واک او روسي اشغال د زور، جبر او وحشت یوه عجیبه ننداره تېره شوې وه، کمونیستي لیوان پخپل منځي جګړو او رقابتونو اخته یو بل خوړل چې د وخت د زبرځواک شوروي اتحاد بې سر او سامانه سرې لښکرې تودو اوبو ته د رسیدلو لیدل شوي خوب په تعبیر د امپراطوریو هدیرې ګران هیواد افغانستان ته

راداخلې او د اشغال توره بلا رانټوته، پر عصري وسلو سمبال وحشي صفته درنده ګانو د مظلوم ملت پر دارلو پيل وکړ، داسې ظلمونه يې پيل کړل چې قلم يې د ليکلو او ژبه يې د ويلو توان نلري؛ دې مظالمو د افغان غيور ولس هجرت ته اړ کړل چې د ابو يوسف ملا ادريس کورنۍ هم يو له دوی څخه وه، محمد يعقوب لا کوچنی وه چې د جلاوطنۍ ترخه يې وڅکل، د ځوانۍ غوټۍ يې لا غوړېدلې نه وه چې روسان مات او هېواد مو د اسلامي نظام د تحکيم پر ځای د خپل منځي جګړو په ازمايښتي لابراتوار مبدل شو؛ دريم عمر رحمه الله د شر او فساد د تغر په ټولولو سره پر ګران هېواد اسلامي نظام حاکم، حدود پلي او د ميليونو شهيدانو ارمان چې د اسلام تحکيم وه د الله تعالی په نصرت د تحقق ميدان کې عملي نړۍ ته وښوده.

غربي نړۍ لدې څخه په وېره کې چې ګواکې نور اسلامي امت ددې بې مثاله اسلامي نظام تقليد ونکړي په اسلامي افغانستان يرغل وکړ او امارت يې ونړاوه؛ وخت په تيريدو د يرغل پر وړاندې د مجاهدينو کوچني کوچني تحرکات پيل شول، مجاهدينو بيرته خپلې زنګ وهلې ټوپکې پاکې او په پټه جهادي فعاليت پيل کړ ، چې په غزني ولايت کې د لومړي جهادي فعاليتونو د سرلارو د صف د يونوالو له جملې څخه يو هم نوی راټوکيدلی زلمی ابويوسف ملا ادريس وه؛ د ده ملګري وايي د نوموړي شخصيت ټول د جهاد له شوق او جذبې جوړ شوی وه، د امريکايي يرغل په لومړيو کلونو کې نوموړی کم عمره وه او په خپلو درسونو بوخت وه له مدرسې څخه به په پټه جهادي عملياتو ته تللو.

قاري عبدالستار سعيد د شهيد ابو يوسف ملا ادريس تقبله الله د جهادي ژوند اړوند پخپله تحقيقاتي ليکنه کې ليکي:

۱۳۸۵ لمريز کال تر اواخرو ملا ابو يوسف د قاري محمد نعيم تر قوماندې لاندې جهادي فعاليت کاوه، قاري محمد نعيم په غزني کې د جهاد له بنسټګرو مجاهدينو څخه ګڼل کيږي، نوموړي په پيل کې د چاقو په واسطه له يوه عسکر څخه وسله اخيستې وه، بيا يې په همدې وسله جهاد ته دوام ورکړ، تر څو چې يې ډير ملګري او امکانات پيدا کړل، قاري محمد نعيم له اندړو ولسوالۍ علاوه په قره باغ، واغز، خوګيانو او د غزني مرکز کې هم فعاليت کاوه چې ابو يوسف ملا ادريس يې له تکړه او فداکارو ملګرو څخه وه.

په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د قاري محمد نعيم په مشرۍ مجاهدينو په واغز ولسوالۍ کې له امريکايانو سره لوی جنګ وکړ چې په نتيجه کې يې امريکايي او داخلي عسکرو ته درانه تلفات ورسيدل، دغه راز د مجاهدينو اړخ ته قاري محمد نعيم او ورسره درې نور ملګري شهيدان شول، د نوموړي له شهادت وروسته د ملګرو د مشورې په اساس ابويوسف ملا ادريس د همدې ډلګۍ مشر وټاکل شو چې بيا يې شاوخوا ديارلس کاله د يوه موفق او فداکار جهادي قائد په حيث د مجاهدينو دغه ډلګۍ رهبري کړه او سترې کارنامې يې د تاريخ حافظې ته وسپارلې.

د شهيد ابويوسف د بريا تر ټولو مهم راز د نوموړي اخلاص وه، هغه له الله تعالی سره ډېره د اخلاص معامله درلوده، هر دم او قدم يې يوازې د الله تعالی د رضاء لپاره وه، په اتلس کلن جهادي ژوند کې هيڅ کله ونه ليدل شول چې نوموړي د شهرت، نمايش او منصب هڅه کړې وي، هغه خپل ټول ژوند يې د جهاد لارې ته وقف کړی وه او ټول فکر او ذکر يې د جهادي پلانونو او فعاليتونو په اړه وه.

د شهيد ابويوسف تقبله الله بله ځانګړتيا په جهادي امورو کې مشوره او هر کار ته استخاره کول وه، د هغه استخاره هغسې نه و لکه د خلکو تر منځ چې مشهوره ده، هغه دا چې په هره استخاره کې بايد خوب وليدل شي، بلکې کله به يې چې کوم جهادي کارته اراده وه اودس به يې تازه کړ، لمونځ به يې اداء کړ او که به وخت کم و، سر به يې وړېت او يوه شېبه به مراقبه شوه له هغه وروسته به چې به يې هر اړخ ته دزړه ميلان شو، به هغه اقدام کې به خير او بريا وه.

شهيد سعيد ابو يوسف محمد ادريس تقبله الله به له عملياتو مخکې لومړی ترصد يا هدف تشخيصاوه او معلومات به يې را ټولول د شهيد ابويوسف يوه داسې ځانګړتيا وه چې په ډيرو کمو مجاهدينو کې ليدل شوې ده او بايد ووايو چې د نوموړي د جهادي برياوو يو لوی سبب هم د نوموړي دقيق ترصد اخيستل وه.

د نوموړي ملګري وايي چې د شهيد ابو يوسف عادت داسې جوړ شوی وه چې تر څو به يې د دښمن د مرکز يا بل هر هدف په اړه مکمل معلومات نه وه را ټول کړي په

خپله به یې سیمه نه وه لیدلې او ترصد به یې تکمیل کړی نه وی نو عملیات یې ورباندې نه کول حتی د جهاد به اولو کلونو کې چې مجاهدینو د واغز ولسوالۍ په مرکز عملیات کول، نوموړی د تذکرې جوړولو په بهانه د ولسوالۍ مرکز ته ورغلی و او ټول معلومات یې حاصل کړي وه، د غزني په زندان ستر عملیات، د مقر او قره باغ ولسوالیو کې په امریکیانو عملیات، د غزني په ښار فاتحانه عملیات، د جاغوریو په ولسوالۍ عملیات او نورو سترو بریدونو کې له عملیاتو وړاندې شهید ابویوسف ملا ادریس تقبله الله په خپله د شپې او ورځې د دښمن ساحه لومړی کتله، بشپړ ترصد یې اخیسته، د هغه له مخې یې پلان جوړاوه، مجاهدین به یې ورباندې پوه کول او بیا به یې عملیات اجراء کول.

نوموړی به اکثرا له یو بل تن مجاهد سره په عادي لباس کې د شپې یا د ورځې د دښمن سیمې ته ورتللو، دقیق معلومات به یې راټولول، د دښمن دفاعي مورچې او استحکامات به یې تثبیتول، د دې لپاره چې دښمن خبر نه شي کله به د شپې مهال په لوڅو پښو د دښمن د مراکزو خواته ورتلو، په لویو عملیاتو کې به تر یوې هفتې په ډېره رازدارۍ د ترصد په چارو بوخت وه او بیا به یې د برید پلان جوړاوه، نوموړي به ویل که مجاهدینو ته هدف مفصل ونه ښودل شي او په پټو سترګو د حملې امر ورکړل شي په دې به مو الله تعالی نیسي، دا چې د نوموړي په اکثرو عملیاتو کې د مجاهدینو تلفات ډېر کم او بریاوې به یې ډېرې وې، یو علت یې هم د نوموړي دقیق او مفصل ترصد ګڼل کیږي.

د شهید ابویوسف رحمه الله بل معمول دا وه چې د عملیاتو له پیل وړاندې به یې مجاهدین راټول کړل، اول به یې ختمونه وکړل، د فتحې او نصرت د نزول اذکار به یې ډېر ډېر وویل، ورپسې به یې ملګرو ته په پوره اخلاص او د زړه له تله تقریر وکړ، دجهاد، قرباني، شهادت او ایثار فضائل به یې ورته بیان کړل، ملګرو ته به یې د اخلاص توصیه وکړه، دهغوی روحیات او جذبات به یې تازه کړل او یوه تندریز برید او فاتحانه عملیاتو ته به یې اماده کړل، ورپسې به یې په ډېر تضرع او اخلاص اوږده دعاء وکړه، د الله تعالی په دربار کې به یې وژړل او مجاهدین به یې هم وژړول، د فتحې اونصرت خواستونه به یې وکړل او له دعا وروسته به یې سمدستي د عملیاتو اقدام کاوه+ په دې ډول به مجاهدین په روحي لحاظ کاملا جهاد ته آماده او د الله تعالی د نصرت اسباب به مهیا شوي وو.

قاري عبدالستار سعید صاحب لیکي: شهید ابویوسف له رسمي مسؤلیت سره ډېره علاقه نه درلوده، حتی مسؤلیت به وربانديې بوج و. نوموړي د خپلې ډلګۍ د مشرۍ نه علاوه څه موده د اندړو ولسوالۍ د نظامي ولسوال د کفیل په حیث، ورپسې د غزني ولایت معاون او بیا څو کاله د غزني د نظامي قطعې د مشر په حیث مسؤلیت ترسره کړی دی.

نوموړي په غزني ولایت کې د جهادي عملیات هغه مخکښ مجاهد و چې له خپلو ملګرو سره یې په اکثره عملیاتو کې شرکت درلود. د بیلګې په توګه د رشیدانو ولسوالۍ لومړنۍ فتحه، د واغز، اندړو، ګیرو، خواجه عمري، دوه ځله جغتو، دهیک او خوګیانو ولسوالیو په فتوحاتو کې یې فعال حضور درلود.

د اربکي سازي پروژه چې د پاڅون په نوم د امریکایانو لخوا پیل شوه، مهم مرکز یې په غزني ولایت کې د اندړو او مقر ولسوالۍ وې. شهید ابویوسف د نور مجاهدینو په همکارۍ د دې فتنې په محو کولو کې اساسي نقش درلود. په اندړو ولسوالۍ کې دګنډهیر، صاحب خان او میرهزار په سیمو کې د اربکیانو پوستې د نوموړي په قومنده دوه ځله له منځه یوړل شوې، دغه راز د حبیب ګوډلو، ګردیزي کلا، ملنګو او نورو کلیو پوستې هم له اربکیانو سره ختمې شوې. په دې عملیاتو کې د اربکیانو ګڼ قومندانان هم ووژل شول. بالاخره اربکیان چې د اندړو ولسوالۍ تر یو ثلث زیاته سیمه یې اشغال کړې وه مکمل ختم او د یو لړ چټکو عملیاتو په لړ کې د دې ولسوالۍ مرکز هم له اجیرو عسکرو څخه ونیول شو.

د مقر ولسوالي د اربکیانو بله مهمه سیمه وه. شهید ابویوسف چې د غزني قطعه یې رهبري کوله له ګڼو نورو مجاهدینو سره یې د روژې په ۲۵ له دقیق ترصد وروسته د مقر په اربکیانو عملیات پیل کړل. تر دې چې تر اختر پورې یې ټولې سیمې ترې تصفیه کړې او د اختر ورځې یې هم په مقر کې تېر کړې. دغه راز د قره باغ د پورته حصې په تصفیه کې د نوموړي لوی نقش و.

د شهید ابویوسف په مشرۍ د ترسره شویو عملیاتو له جملې بل هم د غزني د زندان ماتول. نوموړي په خپله د زندان ترصد وکړ، شاوخوا سیمې یې وکتلې او په پوره رازدارۍ یې پلان د هغه وخت د څو ولایاتو د قطعې له مسؤل الحاج پیر اغا سره شریک

کړ. د هغه وخت د غزني والي مولوي محمد قاسم صاحب وايي: پلان داسې نیول شوی و، چې په عملیاتو کې به ۱۰ تنه فدایان او ۳۰۰ تنه نور تکړه او تجربه کار مجاهدین برخه اخلي، له دې جملې فدایان او ۴۰ تنه د ابویوسف د ډلګۍ مجاهدین چې د زندان دماتولو له رازه خبر کړای شوي وو، ځانګړې لاربښوونې ورته شوې وې او ددوی وظیفه دا وه چې په مشخص ډول به په زندان برید کوي، هلته به ننوزي او زندانیان به له پنجرو څخه راوباسي. دغه کامیاب عملیات چې په ترځ کې یې ۴۵۰ تنه بندیان د دښمن له منګولو آزاد کړای شول، د شهید ابویوسف لخوا رهبري کېدل او نوموړی د بندیانو د خلاصون لپاره خپله زندان ته داخل شوی و.

بل مهم عملیات چې نوموړي په کې بارز نقش درلود د غزني په ښار فاتحانه عملیات و. د دې عملیاتو لپاره هم شهید ابویوسف د ښار له ټولو خواوو د شپې او ورځې ترصد وکړ، د دښمن پوځي ځایونه یې تثبیت کړل. د جنګ په وخت نوموړي د غرب لخوا پر ښار د عملیاتو رهبري کوله چې په ترځ کې یې امنیه قومنداني، دموی مبارک کندک، څلورمه حوزه، د خشک قرارګاه او لسګونه پوستې فتحه او دښمن ته دروند زیان واوښت.د غزني ښار فاتحانه عملیاتو دښمن سخت وویراوه، ډېره ځواکونه یې سیمې ته راوستل. شهید ابویوسف او ورسره مجاهدین څه موده قره باغ ته لاړل او هلته له څه عملیاتو وروسته یې د دښمن د توجه اړولو لپاره د جاغوریو په ولسوالۍ عملیات پیل کړ. د جاغوري ولسوالۍ چې په تیرو کلونو کې په کې جهادي عملیات نه وي شوي. مجاهدینو د محلي پولیسو کمربند مات کړ، د انګورو بازار او د ولسوالۍ اکثره سیمې یې ونیولې د ملیشو قومندانان لکه باشي حبیب او حیدر ووژل شول او دښمن ته درانه زیانونه واوښتل.

د شهید ابویوسف د جهادي کارنامو په لړ کې وروستی مهم فعالیت په ننګرهار کې د داعشیانو په خلاف بریالي عملیات و. داعشیانو چې د ننګرهار په جنوبي ولسوالیو او د سپین غر په حاکمو نقطو کې یې پخې مورچلې جوړې وې. د مجاهدینو په وړاندې یې مسلسل مقاومت کاوه. د ګڼو نورو ولایاتو د نظامي قطعو په شان ملا ابویوسف هم له ۱۴۴ تنه مجاهدینو سره ننګرهار ته لاړ. په داعش د سرتاسري برید د پیل په مهال نوموړي ته له شمال اړخه د خوګیانو ولسوالۍ د زاوه سیمه ورسپارل شوې وه چې ورپسې د بغدادي سنګر په نوم د داعش تر ټولو محکم سنګر او د وزیرو تنګی و چې داعش د خلافت مرکز باله.

د نوموړي په مشرۍ مجاهدینو د زاوه سیمې له تصفیه وروسته د بغدادي سنګر په فتحه او د وزیرو تنګي په نیولو کې هم اساسي نقش درلود. داعشیانو دې سیمې ته ورتلونکې لارې په ماینونوپوښلې وې. خو مجاهدینو له ټولو خطراتو سره سره پرمختګ ته دوام ورکړ، د وزیرو تنګي په نیولو سره د داعش جنګي روحیه وځپل شوه چې بیا یې تر پایه مقاومت ونکړای شو.

شهادت:

د شهید ابویوسف ملګری مولوي مظهري وايي د وزیرو تنګي له نیولو وروسته ملا ابویوسف له نورو ملګرو سره د دې سیمې په څمڅۍ نومي کلي کې د اسلامي امارت له بل مشر ملا مزمل سره مجلس درلود. سخت باران ورېده. ابو یوسف ناڅاپه ولاړ شو او ویل یې چې د مجلس لپاره به مناسب ځای پیدا کړو. نوموړی په همدې کلي یوه مسجد ته ورننوت، مسجد ته له ورننوتو وروسته دروند انفجار وشو. چې له امله یې د مسجد چت راپرېووت او ملا ابو یوسف له یو تن بل ملګري ابوبکر سره ترې لاندې او د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل.

انا لله و انا الیه راجعون

****

صهیونستي

اشغالګرو او کفارو ته

د یوه فلسطیني

مجاهد پیغام

تاسو په ملکي خلکو ظلم کوئ! راشئ زمونږ سره زور ووهئ! مونږ اتلان یو، د یوه لـــــوی دیـــــن اتـلان! نامکنه ده چې هغه امت ماتې وخوري د کوم امت پیغمبر چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وي.

مأخذ: الاعلام العسکري، د ۲۰۲۵ کال د جولای د ۱۹ ویډیو

څو خبرې او یادونې

بت شکن یوه خپلواکه، اسلامي، فکري او دعوتي اداره ده چې د هېڅ‌ي نمایندګي نه کوي.

زمونږ په خپرونو کې د دیني، سیاسي او جهادي شخصیتونو لیکنې شته، چې د هر چا نوم ورسره ذکر شوی دی او د امت د ښېګنې لپاره نشر شوې دي د هغوی د لیکنو شتون هېڅکله له هغوی سره د مستقیمې رابطې یا همکارۍ معنا نلري.

د دې مجلې او زمونږ د نورو خپرونو د نشر حق د هر مسلمان لپاره محفوظ دی.

زمونږ د آدرسونو له لارې د خپلو لیکنو د نشر، انتقاد، پېشنهاد، مرستې او اصلاح لپاره کولای شئ زمونږ سره په رابطه کې شئ!

ایمېل (Email) آدرس:

editor@butshikan.com

ټلګرام آدرس:

tamas_butshikan

بت شکن اداره

ویښ شئ له خوبه را بیدار شئ

هلئ، لږ زر کوئ په کار شئ

چانتې مو واچوئ عیار شئ

د غزنوي بچو تیار شئ

زمونږه وار دی بیا نړۍ را پرځوونه



په کندهار کې د جهادي مدرسې
فاضلانو ته د امير المؤمنين شيخ القرآن و الحديث
مولوي هبة الله آخندزاده حفظه الله له وينا:

" ګورئ جهاد پرېنږدئ، ګورئ د مجاهدينو ملګري پرېنږدئ، دې کافرانو ته وارخطا نشئ، دا کافران په يوه صورت تاسو نه مني، نه ستاسو دغه کيفيت مني، نه ستاسو صورت مني، نه ستاسو سيرت مني او نه ستاسو عقيده مني، په هېڅ صورت هم.
که چېرې دا اراده لرئ چې په اسلام باندې تر مرګ پورې ودرېږئ بيا نو دې شيانو (سختيو) ته ځان تيارګ کړئ، شهادتونو ته ځان تيارګ کړئ، بنديخانو ته ځان تيارګ کړئ.
صحابه کرام شهيدانېدل په سرونو باندې يې اورونه ور بلېدل، په مونږ باندې څه تکليف تېر شوی دی؟! مونږ ته خو دا اسلام ډېر په آرامه باندې راغلی دی، ليکن که چېرې تاسو د اسلام تاريخ ته وګورئ چې دا څنګه راپورته شو او چا راپورته کړ؟
دا په ډېرو مقدسو وينو راپورته شوی او بيا دلته تر دې ځايه پورې را رسېدلی دی! "

بُت ښکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په ياد کې